بسم الله الرحمن الرحيم
د آداب او ملاقات مسائل
مؤلف
مولنا رفعت (قاسمی) رحمة الله علیه
پښتو ژباړه
عبد الملک حصیف
مکتبه رشیدیه
سرکی روډ کوئټه، فون: ۲۶۶۲۲۶۳

دکتاب پېژندنه

دکتاب نوم: دادب اوملاقات مسئلي

مؤلف: مولنارفعت (قاسمی)

ژباړونکی: عبدالملک (حصیف) عاجز

کمپوز،ډیزاین: دنورالقرآن اداری دکمپوزاوترجمې څانګه

کمپوز: ابوخالد مولوی عبدالاحد (مجروح)

تصحیح اوسمون: ابوخالد

خپرونکي: رشیدیه کتاب خانه سرکي روډ کوټه

چاپ ځای: لاهور

چاپ شمیر: ۱۵۰۰ ټوکه

چاپ کال: ۲۰۰۷/ دمئ میاشت

چاپونکی: محمدساجد/دموبایل شمیره/۰۳۳۳۷۸۲۵۴۸۴

ضروري يادونه:

يوازې لوي خداى ﷻ هغه ذات دى چې، ټول کارونه ئې په پوره معنى بشپړ او مکمل دي خوانسان هغه ناقص او بې توانه موجود دى چې هيڅ يو کار ئې هم بې نمګړتيا نه وي.

ګرانو لوستونکو! که تاسو ته دليکنې، تصحيح، چاپ، جلد سازي او دارنګه په هره برخه کي کومه غلطي په نظر درغله دمهربانۍ او بشري تقاضا له مخي يې موږ ته زموږ په نمبر يا ادرس خبر راکړئ. ترڅو په دوهم چاپ کښې ئې اصلاح کړو. او تاسو ته لوى خداى ﷻ اجر او ثواب درکړي.

د مکتبه رشيديه سرکي روډ کوئټه لخوا

فون: 081- 266223

موبائيل: 0333- 7825484

اللهم اختم لنابالخير والسعادت والبشارت والايمان

ابوخالد

دزباړونکي هيله

الحمد لله الذي ليس لما رفعه خافض ولا لما ابرمه ناقض ، والصلوة والسلام على رسوله الذي كسّر ابنية الكفر والاصنام

و بعد:

د قادر اومقتدر خداى ﷻ شکر اداء کوم چې ماته يې د دې باوجود چې د هغه په سپېڅليو احکامو به راڅخه تېرې شوى وي او د بېلابېلو ګناهونو د ارتکاب عامل به يم دتېر په ډول د يو بل اثر د ژباړې نېکمرغي او بريا را په برخه کړه ، د دغه کتاب د سم او پوره پېژندنې د بيانونو اوږدې صحراګاني غواړم صرف په دې تګوسره لنډې کړم چې دغه کتاب د يوې پاکې ، اسلامي ، اواخلاقي معاشرې د جوړولو په هدف قلمونه بې رنګه او د کاغذ سپين مخونه تور کړل ، او دمحتوى مأخذيې اسماني سپېڅلي کتاب قرآن کريم او نبوي ﷺ احاديث دي هغه قرآن او احاديث چې بشريت ته يې د جاهليت له تيارو نجات ورکړ. او د دوى له ډېر مطالعو او څېړنو څخه يو عاجز انسان په دې واکمن شو چې هواته والوزي او پر مخ تللې ټکنالوجې دبريالي او خوشحاله ژوند محور وګرزوي دغه کتاب ته د سپېڅلي قرآن اوپاکو احاديثو د مشهورو ماهرينو لکه د محدث کبير مولانامفتي سعيد احمد صاحب (زيدمجد هم) ، د دارالعلوم ديوبند د مفتي مولانا ظفيرالدين صاحب (طال الله عمره)او دمولاناقاضي اظهرمبارکپوري صاحب (مدظله) د تقريظونو افتخار هم په برخه شوى دى خودکتاب دجحمې زيادت د مخنوي په وجه د هغې بيان له ژباړې پاته شو الغرض: يوه ټولنه هغه وخت پر مخ تللې ټولنه کېداى شي چې قانون ولرى ، ديو او بل حقونوته پکې احترام موجود وي او

د ژوند په هر ډګر کې یې د ادابو مراعت موجود وي ، او یو انسان
هغه وخت ښکلی (ښائسته) دی چې د خپلې الهي تحفې وجودي
ښائست تر څنګ اخلاقي ښکلا هم ولري د هر انسان (نر او ښځې)
لپاره دا ډېره ضروري ، او د آرام ژوند تېرولو لپاره یو شرط دي چې د
بل انسان په وړاندې له ښو اخلاقو او هغه پاک چلند او آدابو څخه کار
واخلي کوم چې د بشریت رهبر(ﷺ)په ژبني او ملي ډول خپل امت ته
ښوولي دي ، د دې لپاره چې یو څوک د ښو اخلاقو او ادب پوهنې
خاوند شي لازماً باید یوه ښوونکې مرجع ولري ، چې له ډېرو مراجعو
څخه بهترینه مرجع به زما په فکر کتاب وي ، پاک خدای ﷻ دې
مولانامحمدرفعت قاسمي صاحب ته د دغه عرق ریزي اجرعظیم
ورکړي او الله ﷻ دې د مسلمه امت ټول واړه او ځوانان د ښه علم ، ښه
استعداد او داسې پاک او اخلاقي ژوند څخه بر خمن کړي لکه د
سیدالمرسلین ﷺ په اصحابو کرامو چې یې لوربینه شوې وه. آمین .

عبدالملک حصیف (افغاني)

دلمریز کال۱۱۳۸۵ د حوت د میاشتې ۱۱مه

په پیل کې :

بسم الله الرحمن الرحيم

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّى تَسْتَأْنِسُوا وَتُسَلِّمُوا عَلَى أَهْلِهَا ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ٢٧ فَإِنْ لَمْ تَجِدُوا فِيهَا أَحَدًا فَلَا تَدْخُلُوهَا حَتَّى يُؤْذَنَ لَكُمْ وَإِنْ قِيلَ لَكُمُ ارْجِعُوا فَارْجِعُوا هُوَ أَزْكَى لَكُمْ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ٢٨ لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ مَسْكُونَةٍ فِيهَا مَتَاعٌ لَكُمْ وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَمَا تَكْتُمُونَ

(۱۸)پاره /سورة النور)

ژباړه :ای هغو کسانو ! چې ایمان موراوړی دی مه ننوزئ ستاسو له
کورونو بغیر(نوروپردوکورنوته)ترهغوپوري چې اجازه وغواړئ
،اوسلام واچوئ پراهل دهغوکورونو ،داکارغوره دی ستاسو لپاره
ښائي چې تاسو پند(نصیحت) واخلئ ، که چیرې تاسي ونه موندل په
دې کورکې هیڅوک . نوتاسو مه ننوزئ ترهغوچې اجازه درکوله
کیږي تاسوته ،اوکه چیرې تاسو ته وویل شي چې وګرزئ ،نوبیرته
وګرزئ تاسوداکارډیرپاک دی ستاسو لپاره ،اوخدای ﷻ عالم دی په
هغه چې تاسو ئې کوئ ، نشته پرتاسو باندی ګناه په دې کې که چیرې
تاسو ننوزئ هغوکورنوته چې څوک نه پکښې اوسي په هغه کې
اسباب وي ستاسي ، اوخدای ﷻ پوهیږي په هغه چې ښکاره یې کوئ
اوپه هغه چې پټ ئې کوئ.

د اسلامي تعلیماتو جامعیت

د یوې بدې (خرابې) او ښه والي د له منځه وړلو تکامل هغه وخت
کېدای شي کله چې د هغه ټول اسباب ، ذرائع ، وسائل او موجبات له

مېنځه يوړل شي ؛ اسلام يو حکيمانه او مصلحانه مذهب دي او د
ژوند د هرې څانګې لپاره يې قوانين وضع کړي دي د ژوند يو اړخ هم
داسې نشته چې د هغه له اغېزو بې برخې پاته شوی وي ، په هغه کې د
اخلاقي ، ټولنيز، ژوند لړ او ټولو اصلاحاتو لپاره مکمل او هر
اړخيځ قوانين ترتيب شوي دي ، اسلام د هرې بدۍ د پرمختيا او
خپرېدلو مخه نيولې ده ، د مثال په ډول د زنا په مرتکب کېدلو کې
چې هر څه د دغه عمل د کولو لپاره سبب ګرزي د هغو ټولو يې يوه
معلومه او مشروع لار ټاکلې ده ؛ د هغه لپاره يې په پوره ډول ترتيب
نيولی ؛ او د شهواني جذبو د آرامولو لپاره يې يوه فطري لاره خلاصه
کړې ده . د زنا لومړنۍ او بنسټيزه لاره ازادنظري يا نظربازي ده چې
خلک يې په محبت سره تعريف کوي ، دا يو نادېده شي دي چې د
سترګوله لارې زړه ته ننوزي ، نود آفت د مخنوي لپاره اسلام دا
لارښوونه کړې ده چې تاسو خپل نظرونه ټيټ ساتئ او بغير له څه
وجې پردو (نامحرمو) ښځوته مه ګورئ د پردې له اهميت او ارزښت
څخه انکار نشي کېدای . که چېرې د مواصلاتو (په نامناسب ډول يو
بل ته درسېدلو) او تړاونو لارې چارې او وسائل له مېنځه يوسو نو
کله به هم د زنا د مېنځته راتلو له پېښې سره مخ نه شو . ډېر ځله د زنا
پېښه په داسې ځايو کې صورت نيسي چې د نارينه او ښځې تر مېنځ
داسې څه نه وي چې د هغو د ناسموليدو کتو لاره بنده کړي ، لرې او
نژدې خپلوۍ او څنګلورۍ په ناسم ډول تعبيرېږي او پاللې کېږي د يو
او بل کورته بغير د هغو له اجازې ننوزي ، د تنها او ګډ اوسېدلو په

ځايو کې احتياط نه کيږي . دا ،او همدغه رنګه نور انسانانو ته د زنا
موقع پلاس ورکوي او له پټو لارو فساد خپروي . همدغه رنګه که
نارينه او ښځې سره په يو ځای زدکړه کوي نو د دوی تر منځ يو بل ته
تشويقېدل يوه فطري خاصه ده . نو هغه وخت چې د زنا موانع نه وي او
مواقع ميسّر وي ، نو د شهواني قوتونو کار په څرګندو ډولو د خلکو
مخ ته راځي . نو له دې خاطره د اسلام دين په دغه سلسله کې ضروري
هدايات ورکړي دي چې يوله هغو څخه دا دي چې يو څوک دې هم د
بل چا کورته په خپل سر په ارام زړه ، او بې پروايي سره نه ورننوزي ؛
هر انسان پوهېږي چې بې اجازې او بې پروايي سره د چا کورته
ورننوتل يووحشيانه او جاهلانه کار دي ، هېڅ يو نېک او اخلاقي
انسان دغه دنګه کار نه خوښوي . پلاروي که زوی وي او که بل خپل
وي ، خو هېڅ يو چاته هم اسلام کورته بغير له اجازې د ور ننوتلو
اجازه نه ده ورکړې . او دغه (کوروته بغير له اجازې اوبې پروائي سره
ورننوتل) د اسلام د مبارک دين لخوا د ناپوهۍ طريقه او د بد
اخلاقۍ څرګندويي بلله شوې ده ، ځکه چې که د کور د خاوند او
ورتلونکي چاتر مينځ ډېره ژوره خپلوي نه وي او يا کورته ننوتونکی
پردی څوک وي ، نو هغه وخت بياله بې اجازې ننوتلو څخه بېلابېلې
فتنې او تکليفونه وجود نيسي . مقاتل بن حيان ؒ فرمايلي دي چې د
جاهليت په زمانه کې چې لا اسلام خلکوته نه ؤ رسېدلي خلک به له
يو او بل سره مخامخ کېدل (يابه سره يو بل ته ورتلل) خو په يو او بل
به يې سلام نه اچولو ، خلک چې به د نورو کوروته تلل نو له

کوروالوبه یې اجازه نه اخسته بلکه همداسې بې دېغ او دېوغه به ننوتل
کله چې به د مقصد تر ځایه ورسېدل هلته به یې بیادا آواز وکړ چې زه
راورسېدم ! ، نو دا به ډېر ځله کوروالوته سخته تمامېدله ، او داسې
به هم کله پېښېدل چې د کور په خاوند به په داسې حالت کې د چا
راتلل ډېر بد لګېدل. پاک خدای ﷻ هغه د جاهلیت دستور او قواعد
په ښو ادابو سره بدل کړل ، نو ځکه خو فرمایي : (ذالکم خیر لکم)
دغه تګ لاره ستاسو لپاره بهتره ده . په دې کې په کور کې د
اوسېدونکو او کورته ننوتونکو لپاره خوشحالي او آرامي ده . پاک
خدای ﷻ د هغه اهمیت دومره اوچت بللی دی چې په قرآن کریم کې
یې د هغه لپاره په تفصیلي ډول احکام نازل کړي دي همدارنګه له
هغه ټینګار څخه چې حضورﷺ په هغوی باندې د خپلې مبارکې وینا
اوعمل په ذریعه کړی دی د نن ورځې مسلمانان غافل دي ، بلکه لادا
چې بعضې لیک لوست لرونکي نېکان خلک هم نه دغه ګناه بولي
اونه په الهي ﷻ مقرراتو د عمل کولو په فکر کې دي د دنیا نوروپر
مخ تللیو د هغو په غوره کولو سره خپله ټولنه سمه کړې ده ،
مسلمانان (چې ورته پکار ده چې تر بل هر قوم په عمل کې له مخه
وای) تر ټولو قومو پاته ښکاري . په هر حال د استیئذان (اجازې
غوښتلو) مسئله د قرآن کریم یو مهم او داسې حکم دی چې عمل
ورباندې واجب دي. په هغه کې د یوې ذرې په اندازه سستي او بدلون
راوستل «حضرت ابن عباس ؓ قرآن کریم له آیت څخه انکار»
غوندې سختوټکو باندې تعبیر کړې ده.

د اجازې غوښتلو وجې :

(۱) پاک خدای ﷻ خپل هر بنده ته د اوسېدلو لپاره یو نه ،یو ځای
ورکړي دي ، هغه که ملکاً خپل وي ، که له چاڅخه په خواست
غوښتل شوي وي او که په کرایه نیول شوی وي خو لنډه دا چې په هر
ډول ترکومه وخته یو څوک په کوم کور کې اوسي تر هغه وخته به دغه
کور د هغه بلل کېږي هغه کور یا ځای ته د هېڅ یو چا حتی د کور د
اصلي خاوند ورتلل هم بغیر له اجازې روانه دي کور د انسان مسکن
(د اوسېدلو ځای) دی او له مسکن څخه اصل مقصد او غرض
ارامي او خوشحالي لاس ته راوړل دي خدای ﷻ چې هر کله پخپل
معزز کتاب کې د کوریادونه کړې ده نو تر څنګ یې سکون ته هم
اشاره شوې وي لکه چې فرمایي (وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُم مِّنۢ بُيُوتِكُمۡ سَكَنٗا
،(د النحل سورة) او پیدا کړي دي خدای ﷻ تاسو لره له کورونو ستاسې
څخه ځای د اوسېدلو (هغه اوسېدل چې په سکون او راحت کې وي)
او دغه سکون او راحت هغه وخت پر ځای پاته کېدای شي چې انسان
د بل چاله مداخلې سرته ورسوي او ارام وکړای شي ، د کوروالو
ازادي ته نقصان رسول د کورا اصلي ارزښت له منځه وړل او دوی ته
اذیت او تکلیف رسول دي ، په داسې حال کې چې د اسلام دین کله هم
چاته د دې اجازه نه ورکوي چې بل چاته تکلیف ورسوي او دغه عمل
د اسلام له لوري حرام ګڼل شوی دي. د اجازې د احکامو په مراعت او
تعمیل کې یوه لویه ګټه د خلکو د ازارې په لاره کې د خنډ کېدلو او

هغوی ته د ضرر رسولو څخه د ځان ساتل دي چې د هر نېک او شریف انسان عقلي فریضه ده.

دوهمه ګټه یې پخپله د هغه چا لپاره ده چې د چا دلیدلو لپاره ځي، یعني که کور یا بل ځای ته ورتلونکی یو څوک د هغه ځای له اوسېدونکو څخه اجازه واخلي او د نېک انسان په ډول هلته داخل شي، نو بیا دهغه ځای اوسېدونکي هم د هغه خبرې ته غوږ نیسي، که هغه څه غوښتنه لري یا څه ته ضرورت لري نو دوی یې پوره کولو ته بیا ډېر لېوال وي، خو هغه څوک په ناڅاپي ډول داخل شوی وي یا داخلېږي، نو د هغه ځای اوسېدونکي یې د یوې ناڅاپي بلا په څېر ګڼي او د بېرته ایستلو لپاره یې ډېر ډېر کوششونه کوي، که هغه د خیر خبره او یا بل څه راوړي وي هم د هغه ځای اوسېدونکي ورڅخه ځان شاته کوي، او ورسره د ښه نیت څرګندونه نه کوي. او د بې اجازې راتلو له امله مسلمان ته د ضرر رسولو ګناه خویې لانوره ده

(۳)دریمه ګټه او حکمت پکې د بې حیایۍ او بدکاریو مخه نیوی دي، د بل چا کور یا ځای ته په بې اجازې ننوتلو کې د دې احتمال هم شته چې د ننوتونکي نظر په غیر محرمو ښځو باندې ولګېږي او شیطان یې په زړه کې غلط فکرونه ورواچوي، نو د دې لوړ ارزښت له امله قرآن کریم د اجازې حکمونه د حد قذف او حد زنا له حکمونو سره په متصل ډول راوړي دي که انسان فکر وکړي نو په ډېر ښه او پوره ډول به پوه شي چې بې اجازې یا ناڅاپه د چا کور یاځای ته دخول باید ونشي، ځکه چې ځیني وختونه انسان د یواځیوالي په صورت کې په

داسې کار مشغول وي چې نور څوک ورڅخه خبرېدل نه غواړي، نو په دغسې وخت کې که یو څوک په ناڅاپي ډول په هغه باندې ورځي، نو هغه ورڅخه ډېر په تکلیف کېږي او دهغه را تلل ډېر بد بولي، دغه رنګه نور هم په ځان باید ورقیاس کړل شي، یعني که تاسو د بل چاځای یا کور ته ناڅاپه داخلېږئ نو هغه رنګه فکر له ځان سره وکړئ چې که ستاسو بې اجازې یو څوک ستاسو کور ته په نامناسب حالت کې داخلېږي، نو په تاسو به څومره بده لګېږي؟ هغومره تاسو هم په هغه چا بدلګېږئ کوم چې تاسو د هغه کور یا ځای ته په داسې حالت کې بې اجازې داخلېږئ چې هغه مو دغه رنګه ننوتل نه غواړي. ځکه چې که انسان غواړي یو کار له خلکو څخه پټ تر سره کړي نو د بل چا په ناڅاپي ننوتلو سره هغه پټ نشي پاته کېدای، او دا خو بیا ښکاره خبره ده چې د زور له لارې د بل چا راز (پټ حالت) ځان ته معلومول ګناه ده، ځکه چې دا بل چاته ضرر رسول دي، او مسلمان ته ضرر رسول ګناه ده. د بې اجازې او ناڅاپي ننوتلو څخه کله داسې هم پېښېږي چې د کور یا ځای خاوند ته په بې اجازې ورننوتلو سره غصه ورشي، او په دې وجه یې له خولې څخه سختې او سپکې سپورې ووزي، او کله یې بیا له خولې څخه په ناخبرې کې د ناڅاپه راتلونکي انسان لپاره بده دُعا (ښېرا) هم ووزي. دا چې کور یا بل ځای ته بې اجازې ورننوتونکي په ناحق ډول په هغه څه کې مداخله وکړه چې ښکارندویي یې مناسب نه وه، نو په دې سره دهغه ځای خاوند ته ضرر ورسېدی، نو ځکه په دغه حالت کې د کور خاوند مظلوم ګڼل

کېږي او د مظلوم ښېرا ډېره ژر قبلېږي لکه چې د بخاري شريف په يو حديث کې حضور ﷺ فرمايي: اِتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُوْمِ فَاِنَّهُ لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ اللهِ حِجَابٌ.

ژباړه: د مظلوم له بدي دعا څخه ووېرېږئ ځکه چې د پاک خداى ﷻ او هغې ترمنځ هېڅ پرده نشته.

(۲) کله داسې هم وي چې يو څوک د يواځيوالي په حالت کې وي نو د جامو په اغوستلو او غسل کولو کې ډېر احتياط نه کوي ، نو که په دغه حالت کې ورباندې په ناڅاپي ډول څوک راشي نو هغه هم ډېر شرمنده شي او راتلونکی سړی هم بيا پر خپل دغه کار پښېمان وي د انساني طبيعت پيدا ايښت داسې دی چې کله انسان په يواځيتوب کې واقع کېږي نو په يونه يو خيال او چرت کې حتماً ډوبېږي ، نو که يو څوک په ناڅاپي ډول ورباندې په دغه حالت کې راشي نو هغه نابېره پورته کېږي او ورباندې يو قسم ډار او ترهه راځي چې له امله يې دماغ او زړه ته په ناڅاپي ډول صدمه پېښېږي ، نو له دې خاطره چې مؤمن د پاک خداى ﷻ په نزد ډېر عزتمن دی ځکه نو هغه ته ضرر او تکليف رسول لويه ګناه ده ، نو له دې امله ضروري ده چې ترننوتلو له مخه له بهر څخه داسې يوه خبرتيا ورکړل شي چې د محبت او تعلق بڼاى اړخ ولري او دومره د محبت د زياتوالى سبب وګرځي چې د تر هې هېڅ نمونه پاته نشي او له احترام او درنښت سره اجازه تر لاسه او کور يا ځاى ته داخل شي -الغرض دغه لړ څه هغه اساسات دي چې که مونږ ورباندې عمل وکړو ، نو کولاى شو چې له خپلې ټولنې څخه يوه

داسې ټولنه جوړه کړو چې د نورو لپاره مثال وګرځي او پکې صرف خوشحالي ، ارامي او سوکالي د هر چا په برخه وي ، له دې څخه بغير مونږ نشو کولاى په ټولنه کې ارامي راولو او تل به په پرېشانيو کې يو چې دغه پرېشانی مو بيا هېڅ وخت هم ارام ته پرېنږدي

د اُنس (محبت) حاصلولو ګټې:

په قرآني آيت کې چې څه راته ښول شوي دي هغه (حَتّٰى تَسْتَاْنِسُوْا وَتُسَلِّمُوْا عَلٰى اَهْلِهَا . (الاية) دي يعنې د بل چا کورته تر هغه وخته پورې مه داخلېږئ تر څو مو دوه کارونه نه وي کړي اول دا چې اجازه مو نه وي اخستې ، دوهم دا چې سلام مو نه وي اچولی. د (استيناس) لفظي معنې اُنس دی چې محبت او په مينه سره د يو او بل ډېر نزديکت ته ويل کېږي. دلته د جمهورو مفسرينو په نزد له هغه څخه مراد استيذان (اجازه تر لاسه کول) دي. په حقيقت کې د دغو دوو لفظونو تر منځ ډېر لطيف يا نازک فرق دی چې دلته ورباندې نظر اچول نه دي پکار که پاک خداى ﷻ حَتّٰى تَسْتَاْذِنُوْا فرمايلي واى نو معنی به يې دا وه چې تاسو تر هغه وخت د خلکو کوروته مه داخلېږئ تر څو تاسو اجازه اخستې نه وي خو د تَسْتَاْذِنُوْا پر ځاى د تَسْتَاْنِسُوْا لفظ فرمايل شوی دي. په عربي ژبه کې اجازې ته اِذْن ويل کېږي چې د اجازې اخستلو معنی لپاره يې د (اِسْتِاْذَان) لفظ کارول کېږي . د اِسْتِيْنَاس لفظ که څه هم د اجازې اخستلو په معنی کارول کېږي خو دا دهغه خپله او حقيقي معنی نه ده د ((تَسْتَاْنِسُوْا)) لفظ له ((اِسْتِيْنَاس)) څخه اخستل شوی چې معنی يې اجازه غوښتل دي چې

اساسي لفظ يې أُنس دی . که څه هم د تَسْتَأنِسُوا معنی خو اُنس
غوښتل ، أُنس معلومول او ياله خپله ځانه بل ځاته اُنس ورکول دي
مګر پال خدای ﷻ د تَسْتَأْذِنُوا د لفظ پر ځای تَسْتَأنِسُوا غوره کړی
دي ،حال دا دی چې د دې معنې لپاره خو په ظاهره لومړنی لفظ زيات
خوندورؤ مګر د اِسْتِناس لفظ ځکه وکارول شو چې په هغه کې ډېرې
معنا ګاني نغښتې دي . د اِسْتِناسُ لفظ له (أُنس) څخه اخستل شوی
دي چې مقصد ورڅخه د محبت او ګرانښت حاصلول ، او وحشت او
کرکه له منځه وړل دي . د اجازې غوښتونکی په عام ډول تر اجازې
اخستلو له مخه په وېره کې وي چې هغه کور يا ځای ته دورننوتلو
اجازه به ورکړله شي او کنه ، خو داجازې تر لاسه کول بيا د دې
وحشت د له منځه تللو سبب ګرزي ، نو ځکه ورته د تَسْتَأنِسُوا لفظ
کارول شوی دی زمونږ په ژبه کې د وحشي لفظ هغو ځناورو ته
کارول کېږي چې له انسان سره نژدې کېدل اوګډون نه قبلوي او
ورڅخه تېښته کوي . او هغه چې له انسان څخه نه تښتي هغو ته
اېلېدونکي (ياعادت کېدونکي)ويل کېږي. نو څرنګه چې له چاسره
دتړاو او عادت قبلول دارامي سبب دي ، نو ځکه خو د تړاو غوښتل
بعينه د ارامي غوښتل هم کېدای شي. دغه رنګه ددغه لفظ له غوره
کولو څخه دا هم معلومه شوه چې مقصد د وحشت او کرکې دفع کول
، او د هغه کور ياځای اوسېدونکي له خپل راتګ څخه خبرول دي.

د دروازې ټکولو شرعي حکم :

په دغه زمانه کې که يو څوک غواړي چې د اجازې په ترلاسه کولو کې
په سنتو باندې عمل وکړي ، نو سنت طريقه دا ده چې کله تاسو د چا د
کور دروازې ته ورسېږئ ، نو له بهر څخه ورباندې سلام واچوئ او
بيا د خپل نامه له ورښوولو وروستو اجازه وغواړئ نن سبا د اجازې
په اخستلو کې څه مشکلات د انسان مخې ته راځي لکه دا چې هغه
څوک چې ته غواړې در څخه د ننوتلو اجازه واخلې له دروازې څخه
لرې وي او د سلام اواز اود اجازې اخستلو الفاظ تر هغه پورې نه
رسېږي . کېدای شي چې په هره زمانه او هر هېواد کې د اجازې
اخستلو طريقې سره فرق ولري . د اجازې اخستلو لپاره ژبه خاصه
شوې نه ده . د دې لپاره له رنګارنګ طريقو څخه يوه يې د دروازې
ټکول دي او دغه کار ه درواياتو او احاديثو څخه هم ثابت دي – مګر
دروازه بايد په دومره زور ونه وهله شي چې په اورېدونکی باندې
وېره غالبه شي او په منډه له خپله ځايه پورته شي. بلکه په داسې يو
ډول بايد دروازه ووهله شي چې د اورېدلو مناسب وي او حيرانونکې
او تکليف رسونکې نه وي لکه چې د حضور ﷺ د دربار په اړوند
فرمايل شوی دي (عَنْ اِبنِ مالک ؓ انّ اَبْوابَ النّبِي ﷺ تقرَعُ
بِالاظافيرِ) (الحديث) ژباړه: حضرت انس ؓ فرمايي چې د حضور ﷺ
دروازې به په نوکانو ټکولې کېدلې. له دې څخه معلومه شوه چې دا
شرط نه دی چې اجازه به په ژبه سره اخستله کيږي په بل ډول هم اجازه
اخستله کېدای شي – بل دا چې له اجازې اخستلو څخه مقصد د

وحشت او تکلیف دروازې ترل دي چې همدا سبب ګرزېدلی چې خلک باید اجازه واخلي.

د مفتي محمدشفیع صاحب رح تحقیق :

دپورتنۍ مسئلې په اړوند د مولانامفتي محمد شفیع رحمة الله علیه څېړنه داده چې که په یوځای کې د ګنټۍ(هارن) په ذریعه د کور د خاوند خبرول رواج وي ، نو په کور یا ځای ته درتلونکي باندې د هغې استعمالول واجب دي او دا داجازې غوښتولو لپاره کفایت کوي مګر سنت داسې دي چې له هارن وهلو وروستو خپل نوم هم په دومره اواز سره واخلي چې په بېلابېلو ځایو کې رواج لري لکه چې نن سبا خلک ددې لپاره چې د کوروال یې وپېژني خپل شناختي کارډ یا پېژندپاڼه د کور خلکوته ورکوي. مګر له هغه څخه هم مقصد د اجازې طلب کول دي ، په دې کې هېڅ شک نشته چې له هغه څخه هم د اجازې اخستلو کار اخستل کېدای شي او اجازه ورکونکي ته د اجازه اخستونکي پوره نوم او پته په داسې حال کې بغیر له تکلیفه پوره معلومېدای شي چې په خپل ځای به ناست وي ، نو څکه د هغې په غوره کولو کې هېڅ منعه نشته.

یو اعتراض او د هغه ځواب :

په پورتني ایت شریف کې خطاب د (یاَاَیّهاالذِینَ آمَنُوْا) په ټکو سره شوی دي چې د سړو (نارینه ګانو) لپاره کارول کېږي . د قرآن کریم ډېری احکام په داسې ډول نازل شوي دي چې سړو (نارینه ګانو) ته پکې خطابونه شوي دي ، او یاد هغو نزول د سړو په حق کې شوی وي

خو ښځې هم پکې ورګډې وي . څرنګه چې د قرآن کریم د عامو حکمونو انداز همدغه ده ، مګر په عام ډول په هغو ټولو کې ښځې هم ورګډې دي ، بغیر له هغو مسئلو چې په سړو(نارینه ګانو) پوردې خاصې دي – نو په پورتني آیت کې خطاب د نارینه ګانو او ښځو دواړو لپاره دي.

د صحابیاتو مېرمنو رضی الله تعالی عنهن **طرزعمل :**

په عام ډول هره مېرمن (ناپوهاني خو پر ځای پرېږدو ، بلکه لیک لوست لرونکې مېرمنې هم په دې عقیده دي چې مېرمنو (ښځو) ته د دې ضرورت نشته چې له ښځو څخه دورننوتلو اجازه واخلي. دوی بغیر له اجازې اخستلو د خلکو کوروته ځي او راځي. حال دا دی چې کله وخت دوی د خپل دغه کار له امله له سختې پرېشانۍ او پښېمانۍ سره مخ کېږي . د صحابه وؤ ؓ په زمانه کې د هغو د مېرمنو طرزعمل (کړنلاره) دا وه چې کله به دوی مبارکې د بل چا کور ته تلې ، نو اول به یې د ورننوتلو اجازه اخستله بیا به هلته ننوتلې.

روایت : حضرت ام یاس رضی الله تعالی عنها فرمایي چې مونږ څلور ښځې ؤ چې حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها ته به ډېرې ورتلو ، کورته تر ورننوتلو له مخه به موله هغې رضی الله تعالی عنها څخه اجازه اخستله هر کله چې به د هغې رضی الله تعالی عنها له خوا اجازه راکړله شوه بیا به مونږ د هغې کورته د ننه ورتلو .

روايت: دی چې حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها ته څلور ښځې
راغلې او په داسې ډول يې اجازه طلب کړه چې: مونږ کولای شو د ننه
درشو ؟ هغې رضی الله تعالی عنها ورته وفرمايل نه. په تاسو کې چې
څوک د اجازې اخستلو په طريقه پوهېږي هغه دې اجازه وغواړي ، نو
بيا له هغو څلورو څخه يوه مېرمن ورمخکې شوه او لومړی يې په هغې
سلام ووايو او بيايې اجازه وغوښتله ، نو ام المؤمنين عائشې رضی
الله تعالی عنها دورتلو اجازه ورکړه او بيا يې هغوی ته دغه ايت
مبارک ورواوراؤ. (لَاتَدْخُلُوْا بُيُوتاً غَيْرَ بُيُوْتِكُمْ)تر اخېره

د ايت شريف عاموالی :

د ايت شريف له عام والي او صحابياتو مېرمنو رضی الله تعالی عنهن
له عمل څخه څرګنده شوه چې د بل کورته د ورتلو پر وخت د اجازې
اخستلو حکم عام دی ،نارينه ، او ښځينه. محرم او غير محرم ټول
پکې داخل دي يعنې د هر چا لپاره (نارينه وي که ښځينه) د اجازې
اخستل واجب دي. د مثال په ډول که يو نارينه د خپلې مور ، خور لور
او يا بل خپل کور يا ځای ته ورځي ، نو هم بايد له هغه څخه اجازه
واخلي دغه حکم د ښځې لپاره هم دي.

د يوې شبهې مخنيوی :

په تېر شوي ايت شريف کې (بُيُوْتاً غَيْرَ بُيُوْتِكُمْ) راغلي دي ، نو خپل
کور کوم کورته ويل کېږي اول خپل کور څخه مقصد څه دي او پردی
يا د بل چې کور کوم کور بلل کېږي ؟ تر ټولو لومړی په دې خبره ځان
يوهول پکار دي چې يو څوک بايد د بل چاڅومره نژدې خپل وي چې

له دې امله دا شک پيدا کېدای شي چې دغه دي د هغه خپل کوروي.
له دې څخه وروستو بيا د خپل کور پېژندنه کېدای شي ... د انسان
خپلوي له څو ډوله انسانانو سره وي لومړی، خپلوي د خپل اصل سره
تړلې وي يعنې له هغو خپلوانو څخه به څوک لري چې دی ورڅخه
پيداشوی دي لکه مور ، پلار ،نيکه ، انا. چې په دوی ټولوکې ډېر
نژدې خپل مور او پلار دي . دوهم ډول خپلوي له خپلو فروعو سره
يعنې له هغه چا سره چې له ده څخه پيدا شوي وي ،لکه زوی ، لور او
د هغوی اولادونه چې په دوی کې ډېر نژدې خپل د هغه سکنې
(ياصلبي) اولادونه دي. او دهغه د برابر په خپلوانو کې يې ډېر نژدې
خپلوان ورونه او خوندې دي. او بل ډول خپلوي د خسرګنۍ له خلکو
سره وي چې تر ټولو نژدې خپل پکې خپله مېرمنه ده.

د هر يو لپاره ځانګړی حکم :

اوس تاسو د هر يو لپاره ټاکل شوی حکمونه ځان ته معلوم کړئ او بيا
د خپل کور او نورو خلکو د کورونو اندازه ولګوئ (يَسْتَأْذِنُ الرَّجُلُ
عَلى اِبنِهِ وَاَخِيهِ وَاُخْتِهِ) (الادب المفرد) . ژباړه : انسان ته پکار دي
چې له خپل پلار ، ورور او خور څخه اجازه واخلي . له دې څخه
څرګنده شوه چې د ورور ،خور او پلار کور خپل هغه رنګه کور نشي
بلل کېدای چې پکې د اجازې اخستلو ضرورت نه وي.

د خاصو خلکو لپاره د اجازې غوښتل :

له پورتنۍ ذکر شوي خبرې څخه دا هم معلومه شوه چې لکه څرنګه
چې يو څوک نشي کولای د پلار ، ورور او خور کور ته بغير له اجازې

ننوزي همهغه رنګه که څوک د خپلو اولادونو کورته ورننوزي نو هم
ورته ضروري ده چې له دوی څخه اجازه وغواړي . چې له دواړو
اړخونو (اصل،او فرع) څخه د اجازې اخستلو مقصد دوی خبرول او
بیا له دوی سره یو ځای کېدل دي . د هغه اساس له مخې چې اولاد
باید له خپل پلار څخه د ورتلو اجازه وغواړي په همهغه ډول پلارته
هم ضروري ده چې له اولاد څخه اجازه وغواړي. تر دغه ځایه د نژدې
خپلوانو له لړۍ څخه پلار ، ورور ،خور او اولادونه ووتل ، او صرف
مور او مېرمن پاته شول چې د هغو یادونه بیا په یو تفصیلي حدیث
شریف کې شوې ده.

له مور څخه د اجازې اخستلو بار بار پوښتنې :

په موطأ دامام مالک رحمة الله علیه کې مرسل روایت دی چې فرمایي: عَنْ
عَطاء بْنِ یَسار اَنّ رَجُلاً سَأَلَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ) أأسْتَأذِنُ عَلي اُمّي، فَقَالَ
:نَعَمْ فَقَالَ الرَّجُلُ اِنّي مَعَهَافِي الْبَيْت، فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ﷺ):اِسْتَأذِنْ
عَلَيْهَا فَقَالَ الرَّجُلُ اِنّي خَادِمُهَا، فَقَالَ ﷺ اِسْتَاْذِنْ اَتُحِبُّ اَنْ تَرَاهَا
عُرْيَانَةً ؟ فَقَالَ لا ، فَقَالَ ﷺ اِسْتَأذِنْ عَلَيْهَا . (الحدیث)

عطاء بن یسار ؓ روایت کوي چې یو سړي له حضور ﷺ څخه پوښتنه
وکړه چې زه باید له خپلې مور څخه هم اجازه واخلم ؟ حضور ﷺ ورته
وفرمایل: بلې: ته باید له هغې څخه اجازه واخلې ، بیا هغه سړي ورته
وویل چې زه خوله خپلې مور سره په یوه کور کې اوسېږم ، حضور ﷺ
ورته وفرمایل چې ته له هغې څخه اجازه اخله. هغه سړي بیا وویل چې
زه خو دهغې خدمت کوم (دغه سړي ځکه بیابیا (په وار وار) پوښتنه

کوله چې نه یې غوښتل یوه باریکي هم ورڅخه پاته شي) نو حضور ﷺ
بیا ورته وفرمایل چې له هغې څخه اجازه اخله. ایا ته دا خوښوې چې
ته خپله مور په داسې حالت کې ووینې چې هغه لوڅه (بې جامو) وي ؟
هغه سړي ورته وویل چې نه. نو سردار ثقلین ﷺ ورته وفرمایل دا چې
ته دا نه غواړې ، نوله هغې څخه اجازه اخله ، ځکه چې انسان د
یوائیتوب په حال کې مخلی بالطبع وي . حضرت ابن مسعود ؓ
فرمایي خپلو. مېندو او خویندوته د ورتلو په حالت کې هم له هغو
څخه د اجازې اخستل ضروري دي . یو وخت حضرت عطار ؓ له
حضرت ابن عباس ؓ څخه پوښتنه وکړه : زما خور له ماسره په یوه
کور کې اوسېږي او د هغې ساتنه هم زماپه غاړه ده ، نو ایا په دغه
صورت کې هم زما لپاره کورته د ورننوتلو پروخت اجازه اخستل
ضروري دي ؟ رئیس المفسرین حضرت ابن عباس ؓ ورته وفرمایل ،
هو ؛...... حضرت عطار ؓ دوهم ځل ترې وپوښتل ، خو هغه بیا هم
دغه ځواب ورکړ ، خو کله چې ورڅخه درېیم وار وپوښتل شول ، نو
هغه ؓ وفرمایل: ایاته دا خوښوې چې هغه په داسې حالت کې ووینې
چې لوڅه وي ؟ حضرت عطار ؓ وویل نه. نو حضرت ابن عباس ؓ
ورته وفرمایل چې ته ځکه باید له هغې څخه اجازه واخلې چې تر اجاز
ې له مخه تاته دا پته نه لګېږي چې هغه به په څه ډول حالت کې قرار
لري. له حضرت حذیفه ؓ څخه پوښتنه وشوه چې: که څوک د مور د
لیدو کتو لپاره ورځي نو هم اجازه اخستل ورته ضروري دي ؟ هغه
مبارک وفرمایل هو :....... که اجازه وانخستله شي نو د دې ډېر امکان

کېدای شي چې تاسو په داسې حالت کې هغه ووینئ چې په دغه حالت کې هغې ته ورتلل اود هغې لیدل د هغې د خپګان او پرېشانۍ سبب ګرځي ، او دا مور ته یو ډول تکلیف ورکول دي او دا ځرګنده خبره ده چې د مسلمان ته تکلیف رسول ناروا کار دي . له پورتنیو حدیثو څخه معلومه شوه چې په کوم کور یا ځای کې چې مور یا خور له چاسره ګډه اوسېږي هم ورته د ورتلو په صورت کې اجازه اخستل ضروري دي.

د خپل کور پېژندنه :

لکه چې مونږ تر دې ځایه رارسېږو ، نو د ټولو نژدې قریبانو له ډلې د یوې خپلې منکوحې بي بي حکم شو. هغې ته بې اجازې ورتلل روادي او هغه کورته چې خاوند پکې صرف خپلې مېرمنې سره ژوند کوي د ورننوتلو پر وخت د اجازې ضرورت نشته او هغه کور خپل کور بلل کېدای شي . اوله دغه څخه بغیر د نوروټولو کورو لپاره اجازه اخستل ضروري دي که د مېرمنې سره په کور کې بل څوک هم ؤ یا څوک مېلمه هلته راغلی ؤ ، نو بیا کور د هغې بلل کېږي او د خاوند لپاره د ورننوتوپر مهال د اجازې اخستل ضروري دي . نو خپل کور هغه کورته ویل کېږي چې یا خو یو څوک پخپله تنها پکې اوسېږي او یا ورسره صرف خپله مېرمن هلته اوسېږي ، دا فرق نه کوي چې دغه کور د هغه اصلي ملکیت دي او که په کرایه یې نیولی دي او یا یې دلنډ وخت لپاره له بل چا څخه غوښتی دي. که له یو چا څخه په کرایه نیول شوی ، یا دلنډ وخت لپاره چاته ورکړل شوی وي هم د کور

(ځای) اصل مالک ته دا اجازه نشته چې بغیر له اجازې اخستلو هغه کور ته ننوزي.

خپل کور ته د راتلو سنت طریقه :

په کوم کور کې چې صرف خاوند او د هغه مېرمن اوسي ، نو د خاوند لپاره که څه هم هغه کور ته د ورتلو پر وخت اجازه اخستل واجب نه دي ،مګر سنت او مستحب طریقه داده چې دغه دنګه کورته هم د هغه کور خاوند باید په ناڅاپي ډول ورنه شي ، بلکه تر ورننوتولو له مخه د خپلو پښو په درب سره او یا په کومه به طریقه سره خپله مېرمن له خپل راتګ څخه خبره کړي. له حضرت عطار (رح) څخه پوښتنه وشوه چې د خپلې منکوحې بي بي کور ته به هم بغیر له اجازې نه ورځو ؟ هغه مبارک وفرمایل ، هلته په ورتلو کې د اجازې ضرورت نشته – ابن کثیر د دغه روایت د نقل تر څنګ فرمايي: له دې څخه مقصد دا دی چې د اجازې اخستل واجب نه دي ، خو مستحبوالي او بهتري پکې دلته هم شته. که څه هم خپل کور ته د ورتلو پر وخت خو د دې ضرورت نشته چې څوک دې له خپلې مېرمنې څخه اجازه واخلي ، خوله خپل راتګ څخه خامخا باید هغه خبره کړي ، ځکه چې امکان شته چې د خاوند د ورتلو په وخت دې د هغه مېرمن په داسې حالت کې وي چې دا نه غواړي چې خاوند یې په دغه رنګه حالت کې ووینې . د مثال په ډول مېرمنو ته دا خبره بده ښکاري چې د خاوند په حضور کې غسل وکړي او دخاوند په باب هم د دې وېره شته چې په داسې حالت کې د مېرمنې لیدل دي د هغه لپاره د نفرت سبب وګرځي .... له

دو حدیثونو او روایتونو څخه څرګنده شوه چې په بېلا بېلو ځایو کې
د اجازې اخستلو سببونه هم رنګارنګ او جلا جلاوي خو یوله هغو دا
احتمال دي چې کور مېشت دې په لوڅ حالت کې وي. کېداى شي چې
هغه څوک چې تاسو ورځي ستاسو د ورتلو پر وخت د لوڅوالي په
حالت وي –له دې څخه دا خبره معلومه شوه چې د هر چا چې درته ستر
لیدل روا وي هلته د اجازې اخستلو ضرورت نشته (خو ډېره ښه خبره
به داوي چې دوى خبر کړئ) او د چاچې درته د ستر لیدل روا نه دي
هلته اجازه اخستل ضروري دي. او په هغه ځاى کې چې له خاوند سره
صرف خپله مېرمن اوسي که د بل چا دراتلو امکان نه ؤ ، نو د اجازې
ضرورت نشته ، او که د بل چا د راتلو قوي امکان ؤ نو بیا هلته هم د
اجازې اخستل ضروري دي. په دې پوهېدل هم د سړو لپاره ضروري
دي چې د خپلو مېرمنو ستر لیدل که څه هم روا دي خو دا یو مناسب
کار نه دي. د حضرت عائشې رضي الله عنها د یو حدیث مفهوم دي
چې مونږ په ټول ژوند د یو او بل ستر و نه لیدل. حضرت زینب رضي
الله عنها فرمایي چې زما خاوند حضرت عبد الله ابن مسعود ﷺ چې به
کله کورته راتلی، نو په لوړ غږ به ئي خبرې کولې تر څو په دې سره د
کور وال د هغه له راتلو څخه خبر شي. له دې امله امام احمد رحمة الله علیه
صراحت کړی دي چې خپل کورته د داخلېدلو پر وخت ټوخی کول او
یاله پښو څخه اواز پیدا کول مستحب کار دي (ابن جریر و ابن کثیر)
حضرت مجاهد ﷺ دعامو مفسرینو بر خلاف د تَسْتَأْنِسُوْا معنې په
داسې ډول هم کړې ده چې ټوخی کول د دروازې کړی یا ځنځیر سوکه

ټکول او په نرمي سره خبرې کول او یا له پښو څخه اواز پیدا کول او
یا د بلې داسې مناسبې ذریعې کارول چې له امله یې د کور خاوند د
بل چاله راتګ څخه خبرېږي ټول د اِسْتِیْنَاس تر لفظ لاندې راځي په
دې اړوند د حضرت مجاهد دلیل په لاندې ډول دي:
(اخرج ابن حاتم عن ابی سورة ابن اخي ابي ايوب قال قلت يارسول الله
هذا سلام فماالاستيناس،قال يتكلم الرّجل بتسبيحة وتكبيرة
وتحميدة ويتنحنح فيؤذن اهل البيت. (الحديث) (تفسيرابن كثير)
ژباړه: له حضور ﷺ څخه پوښتنه وشوه چې په سلام خو مونږ پوهېږو
، خو استیناس طریقه څنګه ده ؟ حضور ﷺ وفرمایل د سبحان الله یا
الحمد لله یا الله اکبر په لوړ اواز ویل او یا غاړې تازه کول تر څو د کور
وال وپوهېږي چې یو څوک کورته د ننه راتلونکی دی.

د اجازې اخستلو لپاره د دریدلو سنت طریقه :

کله چې تاسو غواړئ له یو چا څخه د هغه د کورته د ورننوتلو اجازه
واخلئ ،نو تاسو باید دروازې ته مخامخ ونه درېږئ ،تر څو د اجازې
اخستلو مقصد هم په ځای شوی وي او د بې پردګي له بدي او خباثت
څخه مو هم ځان ساتلی وي . په دې اړه د حضرت عبد الله بن بشر ﷺ
روایت دي اذا تی باباً یرید ان تستأذن لم یستقبله جاء یمیناً وشمالاً
فان أذن....... والاّ انصرف........(ادب المفرد)
ژباړه: کله چې یو څوک د بل چا دروازې ته د اجازې اخستلو لپاره
ورځي ، نو د دروازې مخامخ طرفه څخه دې نه ورځي بلکه له ښي یا
کیڼ (چپ) طرف څخه دې ورشي. که اجازه ورته ورکړله شوه خو ډېره

ښه ، او که ورنه کړله شوه نو واپس دې لاړشي . د ابوداؤد شریف په
روایت کې دي چې کله به حضور ﷺ د چا کورته ورتلی ، نو دهغه
دروازې ته به بالکل مخامخ نه درېدی ،بلکه په یو طرف به درېدی او
بیا به یې په لوړ اواز سلام ویلو په عین دروازه کې له درېدلو څخه به
حضور اقدس ﷺ له دې وجې هم ځان ساتی چې پخواخو یعنې په هغه
زمانه کې خو په دروازو باندې د پردې اچولو رواج نه ؤ او که به بیا
پرده هم وه نو داسې پرده به وه چې د لیرې کېدوبه یې ډېر امکان لرلو.
یو څوک د حضور ﷺ څخه د اجازې اخستلو لپاره د هغه مبارک
دروازې ته مخامخ ودرېدی نو حضورﷺ هغه ته په دې ډول سپارتنه
وکړه چې دروازې ته باید په داسې ډول ودرېږې چې ستا نظر د کور په
داخل ونه لګېږي ، ځکه چې د اجاې اخستلو قصد دغه دي.

د حضرت عمر ؓ واقعه

حضرت عمر فاروق ؓ یو وخت د شپې له پلوه په ګښت وتلی ؤ چې
ناڅاپه یې د یوسړي اواز واورېدی . چې اوازونه (غزلي)یې ویلې
،حضرت عمر ؓ پر دیوال وړته وکتل نو ویې لیدل چې هلته شراب هم
شته او ښځې هم شته ، نو هغه ته یې ناری کړې او ورته ویې ویل: ای
د خدای ﷻ دښمنه ! ایاته په دې پوهېږې چې ته د الله ﷻ نافرماني
کوې ؟او الله ستا دغه حال له خلکوپټ ساتلی او ستا پرده یې کړې ده
؟ هغه ورته په ځواب کې وویل: ای امیرالمؤمنینه ! تلوارمه کوه که
مایوه ګنا کړې ده ، نو تا درې ګناهونه کړي دي (۱) پاک خدای ﷻ
تجسس منعه کړی دي او فرمایي چې (ولاتَجَسَّسُوْا) (۲) پاک خدای

ﷻ حکم کړی دي چې د خلکو کوروته د دروازې له لارې داخلېږئ او
فرمایي چې (وَأتُوْا البُيُوْتَ مِنْ أبْوابِها) (۳) پاک خدای ﷻحکم کړی
دي چې بغیر له خپلو کورو، د نورو کوروته بغیر دهغوله اجازې مه
داخلېږئ او فرمایي چې (لاتَدْخُلُوْا بُيُوْتاً غیربُیُوتِکُمْ) خو ته زماله
اجازې څخه بغیر زماکورته داخل شوی یې . د دغه ځواب په اورېدو
سره حضرت عمر ؓ په خپله غلطي اقرار وکړ او د هغه په خلاف یې
هېڅ هم ونه کړل ، خوله هغه څخه یې په کلکه دا لوز واخست چې ښه
اونېکه لاره به خپله وي.

د کور د ننه ته د پټ ،پټ ورکتلو ممانعت :

د اجازې په اخستلو کې یوه ګټه دا هم ده چې که یو څوک د څه شي
ښکارول تاسو ته ونه غواړي ، نو تاسو که هم له هغه څخه خبربیدای
نشئ ،نو که تاسو د کور داخل ته پټ پټ په غلا وګورئ نو دا ګټه له
مېنځه ځي په احادیثو کې د دې کار سخته منعه راغلې ده. د رسول ﷺ
خدمتګار حضرت انس ؓ فرمایي چې یو چا له بهر څخه د حضور ﷺ
حجرې ته پټ پټ ورکتل په دغه وخت کې حضور ﷺ یو غښشی په لاس
کې اخستی ؤ هغه غیشی یې په داسې ډول د هغه په لوري وغورزاوو
لکه چې غوښتل یې چې په نس کې ولګېږي. همدا رنګه په یو حدیث
شریف کې راغلي دي (لا یحلّ لامرءٍ ان ینظر الی جوف بیت حتی
یستأذن فان فعل فقد دخل) (بخاري شریف ومسلم شریف)
هېڅ یو مسلمان ته روانه دي چې د بل چا کورته پټ پټ ور وګوري.
که یو چا داسې وکړل نو هغه داسې دي چې ګویا هغه ته داخل شو. نو

له پورته احاديثو څخه څرګندېږي چې په شريعت کې د چاکورته د پټ کتلو سخته منعه راغلې ده.

د حضرت عمر فاروق ؓ فتوی :

عن عمر ؓ بن الخطاب من ملأ عينيه من قاعة بيت قبل ان يؤذن له فقد فسق) له حضرت عمر ؓ څخه روايت دی چې که يو چا تر اجازې اخستلو له مخه د کور مينځ کې خپل نظر خپور کړ ، نو هغه د نافرمانۍ مرتکب شو . له دې څخه معلومه شوه چې د چاکورته بې اجازې ورکتل هم روا نه دي بلکه طريقه يې داده چې که دروازه پرانستې وي ، يا تاسو دچاکورته له هغه لوري ورتلونکي ياست چې د کورداخلي برخه درته مخامخ وي ، نو د هغه مخامخ مه درېږئ ، او که څوک دا رنګه عمل کوي ،نو د حضرت فاروق اعظم ؓ له فتوی سره هم هغه فاسق بلل کېږي. (عن ابي هريرة انّ رسول الله ﷺ قال اذا دخل البصر فلااذن له) له حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل چې: هر کله د يو چانظر د کور په داخل باندې ولوېدی نو له هغه سره د اجازې اخستلو حق پاته نه شو . هغه ګويا د اسلامي قواعدو سرغړونه وکړه او ځان يې ګنهکار کړ.

د سترګي ړنديدلو مسئله :

دهغه چالپاره چې دبل چاکورته پټ پټ ګوري ،سخت وعيد(سزاورکولوګواښ) فرمايل شوی دي:

(لوانّ امرء اطلعَ عَلَيْكَ بِغَيْرِ اِذْنٍ فَخَذَفْتُهُ بِحِجَارَةٍ فَفَقَأْتُ عَيْنَهُ مَاكَانَ عَلَيْكَ مِنْ جُنَاحٍ) (الحديث)

حضور ﷺ وفرمايل: که يو چاستاسې اجازې ستا کورته درکتل او تاهغه د دغه کار په وجه په ډبره وويشتې چې له امله يې د هغه سترګه ووتله نو په دې سره ستاهيڅ ګناه نشته ، غالباً چې ګناه به له دې وجې نه وي چې هغه بغير له اجازې د کور داخل ته دکتلو هڅه کړې ده او په دې ډول يې په کور کې د ننه د ښځو دليدلو بده اراده کړې ده چې له امله يې لويه فتنه هم راولاړېدای شي . که هغه د خپلې سترګې د ړندېدلو راپور د محکمې د قاضي مخته کېږدي نو قاضي به د هغه په حق کې فيصله نه کوي او نه به د هغه د سترګي په ايستونکي باندې د ديت ورکولو حکم کوي. د امام شافعي رحمة الله عليه مسلک دا دي چې د داسې چې سترګه ړندول (ايستل) روا دي. امام ابو حنيفه رحمة الله عليه له دې څخه دا مطلب اخلي چې دغه حکم يواځې په پردي کور کې بغير له اجازې د نظر اچولو په صورت کې نه دي بلکه په هغه صورت کې دي چې کله يو څوک د بل چاکورته په خاموشۍ کې ننوزي او بيا د کوروالو لخوا د واپس بهر کولو پروخت د هغه سترګې يا دبدن کومي بلې برخي ته تاوان ورسېږي،نو هغه د کوروالو ګناه نشي ګڼله کېدای (احکام القرآن جصاص)

د ړانده د نظر حکم:

فقهاؤ د نظر په حکم کې اوربدل هم ورګډ ګڼلي دي د مثال په ډول که يو ړوند د بل چا کورته پرده لرونکي ښځې دي د هغوی نظر خو حتما په دغه ړانده باندې لوېږي . همدارنګه هغه د کور والو غږونه بغير له اجازې اوري . دغه شيان هم د نظر په خبر د تخليې په حق کې د بې

ځایه مداخلت په حکم کې دي ، همدا راز که په دغه کور کې څوک
نامحرم وي نو دهغه نظر خو لازماً په ړانده باندې لوېږي. نو سره له
دې چې ړوند خو هغه نشي لیدلای خوبیا هم ګنا ه له هغه سره یورنګه
ده لکه چې وینې یې. حضورﷺ دغه حق کورته تر ننوتلو پورې محدود
پرې ایښی نه دي بلکه هغه یې یو عام او ټول ګډ حق ګرزولی دي چې له
مخه یې د چا کورته پټ پټ کتل ، او یا دهغه بې اجازې ځارل او آن تر
دې چې دبل چا د لیکنو او ذاتي کاغذونو بې اجازې کتل یې هم منعه
کړي دي او د ابوداؤد شریف په یو حدیث کې فرمایي : من نظر في
كتاب اخيه بغير اذنه فانّها ينظر في النّار. (الحديث)

ژباړه : یو چا چې د خپل مسلمان ورور خط بغیر د هغه له اجازې
وکتلو نو هغه ګویاداسې دي لکه چې په اورکې یې وکتل. (له په
اورکې کتلو څخه په غیر مستقیم ډول عذاب مراد دي. په نننې ژوند
کې زمونږ خلک بالکل د دې پروانه ساتې . که د ډاکخانې کار
کونکي یوچاته د بل چا لیک ورکوي نو هغه یې تر رسولو له مخه یو
ځلې په خپله ګوري ، همدا رنګه که تاسو وغواړئ چې دیو چا په لاس
خپل یو دوست یاچاته د لیک یوه پارچه ولېږئ نو په لاره یې
وروړونکی یو ځلې په خپله ګوري او لولي. او بالاخره زمونږ په ټولنه
کې دغه عادت دومره عام شوی دي چې اوس مونږ ته بالکل د دې
خیال او احساس نه پیدا کېږي چې مونږ بد کار کوؤ او حال دا دی چې
دغه شیان ټول په حدیث کې د سزا ورکېدلو په ګواښ (وعید) کې
داخل دي. د حدیث شریف اصل مقصد ، او پکې زمونږ لپاره خاص

درس دا دي چې په نفسي خواهیشاتو چې په ظاهره ډېر خوندور او
مرغوب معلومېږي مونږ وپوهوي چې د هغو اخېر د دوزخ درد ناک
عذاب ته ورتلل دي چې د هغه عذاب یوه لحظه به له انسان څخه د
سترګو په رپ کې د ټول عمر عیش او ارامي هېروي -او دهغې ژوند
خاتمه یا اخېربه (چې پکې د خدای ﷻ د احکامو پابندي کېږي او
مونږ ته ګرانه او سخته معلومېږي) جنت وي چې په هغه کې به د
همېشه لپاره د بخښنې او ارامي سامان موجود وي ، یعنې داسې یو
جنت چې ددنیا په یو انسان به د هغه خوا هم نه وي لګېدلې.

د اجازې غوښتلو تر څنګ د سلام اچول :

په ایت شریف کې د دؤو شیانو ذکر شوی دي ، د اجازې غوښتلو ، او
د سلام اچولو طریقه ئي هم ښوولې ده چې سلام اچول ډېر محبت او
ګډون د خلکو په زړو کې پیدا کوي. په دې اړوند دحضور ﷺ ارشاد
مبارک دي. عن النّبي ﷺ لا تَدْخُلُوْا الجَنَّةَ حَتىٰ تُؤْمِنُوْا ولاتؤمنوا حتّی
تحابّوا ، الاادلکم علی ما تحابون به ؟ قالوا بلی یارسول الله ﷺ قال
افشوا السّلام بینکم. ژباړه : حضورﷺ وفرمایل چې تاسو خلک به تر
هغه وخته پورې جنت ته داخل نشئ تر څو مؤمنان نه شئ او مؤمنان
کېدای نه شئ تر څو له یو بل سره (په خپل منځ کې) محبت ونه ساتئ
. ایازه تاسو ته داسې شی ونه ښایم چې د هغه په سبب ستاسو په
زړونو کې محبت پیدا کېږي ؟ صحابه کرامو ؓ عرض وکړ ، خامخا
هغه مونږ ته وښیه: حضور ﷺ وفرمایل: په خپل منځ کې د سلام اچول
رواج پیدا کړئ . حضور ﷺ د کوروالو ته هم د سلام اچولو حکم

فرمایلی دي په دغه وخت چې په کور کې هر څوک موجود وي. په
هغوباندې د سلام اچولو یوه ګټه دا ده چې کورته راتلونکي د هغه له
مکان څخه ګټه اخستې ده او د احسان بدله احسان دي (هَلْ جَزَاءُ
الْإِحْسَانِ إِلاَّ الْإِحْسَانُ)نودګټې رسولولپاره یې یوداسې اصل مقرر
کړچې که یونادار اوکم حیثیته څوک یې درئیس په وړاندې استعمال
کړي ،نوپه لنډ ډول به یې هغه ته یوه لویه ګټه رسولې وي چې دادهر
چالپاره ډېر اسانه اوښه کاروركونکي دي ، نبی کریم صلی الله تعالی
علیه واله وسلم موږته دیوې ډېرې جامعې اوپه شکل لنډې
دعاښوونه کړې ده ،چې الفاظ ئې په لاندې ډول دي :(اسلام علیکم
ورحمة الله) ژباړه: پرتاسودې دخدای ﷻسلامتیااورحمت وي (الله
اکبر څومره جامع (ټولنیزه) دعاده چې وائي پاک خدای ﷻ دې تاسو
له ټولوبدوشیانوة آفتونو،بلاګانو،غمواوتکلیفونوڅخه وساتي)
دغه رنګه له دې خاطره هم سلام یوضروري شی ګڼل کېږي چې
اورېدونکی اواز اونورډارونکی ونه ګڼي دهغه په وېره اوډارولوکي
زیادت ونشي ، هغه چې کله دخپل ځان لپاره درحمت اوسلامتي
دعاء واوري نومطمئن شي ، له سلام اورېدولو وروستوکه هغه په
ناقابل اظهار کارلګیاوي نوهغه یوې خواته کوي اوسلام ویونکي ته
دراتلو اجازه ورکوي او که دهغه راتلل یې ونه غوښتل نوانکار کوي.
سربېره په هغه ، ددې لپاره چې سلام ویونکي هم دسلامتیااورحمت
له دعاء څخه بې برخې نشي هغه دخپلې دعاپه ځواب کې دمقابل
لوري څخه د(وعلیکم السّلام الفاظ)اوري ،

لومړی به سلام وي که اجازه غوښتل ؟

داجازې ترلاسه کولولپاره دوه کارونه ضروري ګڼل شوي دي ،
نوپوښتنه داپیدا کیږي چې کوم یوله دوی دوو څخه دي لومړی اوکوم
ورستی وی ،عَنْ اَبِی هُرَیْرَةَ فِیمَنْ یَسْتَأذِنُ قَبْلَ اَنْ یُسَلِّمَ قَالَ لاَیُؤْذَنَ لَهُ
حَتّی یَبْدَأَ بِالسَّلاَمِ ......(الحدیث)
ژباړه:حضرت ابوهریرة رضی الله تعالی عنه فرمائي:دهغه چاپه هکله
چې لومړی سلام ونه وائي هغه چاته دې اجازه نه ورکول کیږي
ترڅوچې په سلام سره پیل وکړي ،
عَنْ کَلَدَةَ بن حَنْبَلٍ : قَالَ دَخَلْتُ عَلَی النَّبِی صلی الله تعالی علیه واله
وسلم وَلَمْ اُسَلِّمْ وَاسْتَأذَنْتُ فَقَالَ النَّبِی صلی الله تعالی علیه واله
وسلم(اِرْجِعْ فَقُلْ السَّلاَمُ عَلَیْکُمْ وَاَدْخُلْ). (رواه الترمذی ،ابوداؤد)
ژباړه : حضرت کلدة رضی الله تعالی عنه فرمائي : چې زه نبی کریم
صلی الله تعالی علیه واله وسلم ته ورغلم اوسلام مي ورباندې وانه
چاوو ،خواجازه مي ورڅخه وغوښته ،نبی کریم صلی الله تعالی علیه
واله وسلم راته وفرمایل : چې بېرته واپس لاړ شه اودبېرته
راتلوپروخت لومړی سلام واچوه اوبیاداخل شه نبی کریم صلی الله
تعالی علیه واله وسلم ددې لپاره چې خپل امت ته دآدابولارښوونه
وکړي ،حضرت کلدة رضی الله تعالی عنه ته لومړی داجازې
غوښتلوطریقه په ژبنی ډول وښودله ،اوبیائي ورباندی دعمل په
ډګرکې هم پلې کړه ،اوداخبره هر چاته معلومه ده چې که یوانسان ته
په همدغه ډول درس ورکړل شي نوهغه بیاورڅخه هیڅکله نه هېرېږي

.داحادیثوپه مشهورکتاب (ترمذی شریفه) کي لیکلي دي ، چې
حضرت ابن عمر رضی الله تعالی عنهما یووخت له قضائي حاجت
څخه دراتلوپر وخت دډیرې ګرمۍ له وجې په تکلیف
شو،اودقریشویوې جونګړې ته په رسیدوسره ئي وویل (السلام
علیکم) ایازه دننه شم ؟ دجونګړې خاوندورته وویل په سلامتې سره
راننوزه،ابن عمر رضی الله تعالی عنهمابیاسلام اواجازه وغوښتل ،
دجونګړې خاوندبیاهم هغه رنګه ځواب ورکړ (دجونګړې
دخاوندلخواتېره جمله دهغه رضی الله تعالی عنه دعزت اودرننښت
لپاره کاریدله) اوداپه داسې حال کي ؤ، چې دهغه رضی الله تعالی
عنه پښې پرځمکه دګرمۍ له امله سوزدلې کله به ئي یوه پښه پورته
کړه کله به ئي بله پښه پورته کړه ،په دغه حالت کي ئي دجونګړې
خاوندته وویل : چې داسې راته ووایه چې راځه :کله چې
دکوردخاوندلخواهم داسې ورته وویل شول ،نوبیاهغه مبارک
وردننه شو.

درسول الله صلی الله تعالی علیه واله وسلم لاربښوونې اودصحابه کراموعمل

دسیدالمرسلین صلی الله تعالی علیه واله وسلم دلاربښوونو
اواصحابو دتعامل له مخې علماء کرامونورڅه تفصیل په دی ډول
کړی دی ،که په کورکي دخلکوداستوګنې برخه له دروازې
،یاداجازې غوښتلو له ځایه دومره لیرې وي چې دسلام اواز هلته نه
رسېږي اویاکوردوه درې یاتر دی زیات چتونه لرې اودسلام ویلو

اواز هلته نشي رسیدلای نوپه داسې ځایونوکي لومړی داضروري
دي چې دوی ته په کومه بله زریعه خبرورکول شي اوبیاورڅخه اجازه
وغوښتله شي اوسلام تر هغه وخته وځنډول شي ،ترڅودکورکوم
غړی هغه ته داجازې ورکولو یانه ورکولو لپاره له هغه سره مخامخ
کیږي .اوکه کور یاځای وړکی وی اودسلام اواز دکور خلکوته
رسیدای شي نوبیابايد تر اجازې غوښتلو مخکی سلام وویل شي.
اوځینې مفسرین رحمة الله علیهم پر کوروالوباندی دسلام
ویلومفهوم داهم بولي چې لومړی اجازه واخلئ اوبیاکله چې کورته
داخل شئ نوبیاپه کوروالوباندی سلام واچوئ ،ځکه چې اجازه
اخیستل واجب دی اوسلام ویل سنت دی . د(استیذان) اجازې
غوښتلو یوه طریقه داهم کیدای شي چې که دکور کوم غړی په مخه
درشي ،نولومړی سلام ورباندی واچوئ اوبیااجازه ورڅخه واخلئ.
له عامورِوایتونوڅخه چې په کومه طریقه معلومېږي هغه دا چې له
بهر څخه دی تر هر څه له مخه سلام واچوي ، یعني دالسلام علیکم
الفاظ دي ووایي ، بیادی خپل نوم کوروالوته وښئي اوودي وائي
چې زه فلانی یم غواړم چې له فلانې سره ووینم.
یادونه : دپښتنوپه ځینوسیموکي عادات اوړواجونه متفاوت دي ،
دمثال په ډول دډېر خلګ دناپوهۍ په وجه دخپل تره ،اکا،ترور، خور،
ورور ،اودوستانو کورونوته پټناځاپې ډول اوبې له اجازې ننوزي ،
اودلیل داوائي چې زموږ اودوي ترمنځ پرده مرده نشته ،اوموږ
دیرشناخت سره لرو ، اودخپل عادت په خاطر ایاتونه اواحادیث له

نظره غورزوي ، چې دغه رنګه عادات اورواجونه باالاخیره دفساد
اوفتنو سبب جوړیږي اوجوړشوی هم دی ، نوهر څوک چې دچاکورته
ورځې نوتر ننوتلو مخکې بایدخپل ځان وروپیژني مثلاً زه احمدیم
غواړم له فیضان یاحاذم سره ووینم ، ترڅوکوروال دده دراتلو یانه
راتلو فیصله وکړی ، اونامحرم دده دراتلو په صورة کي له دغه ځایه
دوتلو اوګوښه کیدلو چانس ولري. (حصیف ، عاجز)

که دکورخاوندته له سلام اواجازې معلومه نه شي چې څوک دی ، له
سلام ویونکي څخه دهغه دنوم یابله څه غوښتنه وکړي نوسلام
ویونکي (میلمه) دي خپل اصلي اوعرفي دواړه نومان ښه په واضح
ډول ورته وښئې ، ترڅوهغه ورباندی وپیژندل شي ، څرنګه چې
دځینوخلکوعرفی نوم تر خپل اصلي نوم زیات دخلکوپرژبه اوښتی ،
اومشهور وي ،نوځکه داطریقه ډیره ښه بریښي چې خپل پوره نوم
اوپته په ښه ډول ورته څرګند کړي ، ترڅودکورخلکوته دهغه په
پیژندنه کي تکلیف اوپریشاني پیدانه شي ، حضرت عمرفاروق
اعظم رضی الله تعالی عنه به همداسې کول ،دنبی کریم صلی الله
تعالی علیه واله وسلم مقام ته چې به کله هغه رضی الله تعالی عنه
حاضریدی ، نوداالفاظ به ئې ویل: (السلام علیکم (علی رسول الله) أ
یدخل عمر)(ابن کثیر)

پر نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم باندی له سلام
ویلوورسته به ئې وویل ایاعمر داخل شي ؟

دصحیح مسلم شریف په یوه حدیث کي روایت دی ، چې کله به موسی
اشعری رضی الله تعالی عنه دحضرت عمر رضی الله تعالی عنه
ملاقات کاوو ،نوداجازې اخیستلو لپاره به ئې داجمله ویله (السلام
علیکم هذاابوموسی) (اسلام علیکم هذاالاشعريّ) ترسلام ورسته به
هغه خپل اصلي نوم ووایو اووریسي به ئې دلاښه وضاحت لپاره خپل
کورنی نوم هم ووایو ،داټول ددي لپاره چې اجازه ورکونکی اجازه
اخیستونکی ښه پوره نه وی پیژندلی ترهغه په شک کی وی چې
دراتلواجازه ورته ورکړی کنه ؟ نوددغواندیښنودلیري کولو لپاره
اجازه اخیستونکی ته لازمه ده چې خپل اصلي اوعرفی دواړه نومونه
واخلی تر څو دکورخاوندپه پوره اطمنان سره دده دراتلو یانه
راتلوپریکړه وکړي.

په ډیرپوړیزه ودانیوکي داجازې غوښتل:

که په یوه چاردیوالي کي ډیري کورنۍ اوسیږي ، یاڅوپوړیز پارتمان
وي اوپه هر چت کي ئي جلاجلا خلک اوسیږي ، نوددوي هره هره
کورنۍ جلاجلاحکم لري ، که څه هم ددوي دوتلو اوننتولولاره
(دروازه) یوه وي ، له دوی څخه که تاسو هرې کورنۍ ته ورتلل
غواړئ نواجازه ضرورده ، په دغه رنګه کوروکي تاسو له پردوڅخه له
ښکاره اجازې اخستلووروسته داخل شئ ، داجازې په اخستلوکي
هیڅکله هم دبدئ اوسختۍ احساس مه کوئ ،ځکه چې اجازه داسې
یوکاردي چې ډیرزیات مفاسدله منځه وړي ،دفساداوفتنومخه
نیسي.اودغه کاردداړو(اجازه اخستونکي ،ورکونکي) لپاره ډیر

ګټور دی ، نونه بايد دخدای ﷻ دغه حکمونه خوار وګڼل شي ، ا[illegible]
ورته بي ګټي شيان وويل شي ، دغه احکام چې په ظاهره ډيروا[illegible]
اوجزئي ښکاريږي ، خودخدای ﷻ په قانون کي دحد تر درجې اهمي[illegible]
لري.

د(څوک ئي ؟) په ځواب کي (زه يم) ويلو منعه:

داجازې په غوښتلو کي يوه ډيره بده طريقه داده چې ځيني خلک
داعادت لري کله چې دروازه وټکوي ياګينټي ووهي
نودکورلخوا ورته اواز راشي چې (څوک ئي ؟) هغه په ځواب کي
ورته ووائي (زه يم) اوياچوپه خوله دريږيږي ، نو که دکور خلکو ته
خپل نوم يانورڅه ورونه ښئي ، نودايو بدعادت او دکور خلک په
تشويش کي اچول دی ، په دی سره داجازې اخيستلو ګټه له مينځه
ځي ، اوپه حديث شريف کي هم د(زه يم)کلمه خوښ کړل شوي نه دي
، خطيب بغدادي رحمة الله عليه په خپل تاريخ کي دعلی بن عاصم
رحمة الله عليه په واسطه نقل کوي، چې هغه دبصرې ښارته ولاړې
اوهلته دحضرت مغيره بن شعبة رضی الله تعالی عنه ليدو ته ورغلي
، اودروازه ئي ورو ټکوله حضرت مغيره رضی الله تعالی عنه دکور له
داخل څخه ورڅخه پوښتنه وکړه چې (څوک ئي ؟) هغه ورته وويل (
انا) (زه يم) حضرت مغيره رضی الله تعالی عنه وروته وفرمايل چې
زما په دوستانوکي خوهيڅوک داسي نشته چې هغه (انا) نوميږي
بيا حضرت مغيرة رضی الله تعالی عنه بهر راووتي اوهغه ته ئي
يوحديث وښودی چې يوواري حضرت جابربن عبدالله رضی الله

تعالی عنه دخپل مرشوي پلار دفرض اداکولو په سلسله کي دنبی
کريم صلی الله تعالی عليه واله وسلم په خدمت کي حاضرشو
اواجازې اخيستلو لپاره ئي دروازه وټکوله نونبی کريم صلی الله
تعالی عليه واله وسلم دکورله دننه ورڅخه پوښتنه وکړه چې څوک
ئي ؟ نوحضرت جابر رضی الله تعالی عنه په (انا) سره ځواب ورکړ،
نونبی کريم صلی الله تعالی عليه واله وسلم دزجراوخبرلو په طورورته
وفرمايل (انا ،انا)) هغه مبارک دغه د(زه يم) لفظ خوښ نه کړ څکه
چې د(زه يم) په لفظ سره خودکوروالو ته دانه معلوميږي چې دکورپه
دروازه کي څوک دي ؟، ترڅوچې هغه خپل اصلي اوعرفي نوم وانه
خلي.

داجازې غوښتلولپاره مناسبې جملې

دبشريت مهربان اوستاد حضرت محمد صلی الله تعالی عليه واله
وسلم موږ ته داجازې غوښتلو طريقه اودهغې الفاظ هم ښودلې دی ،
چې په مثال کي ئي دابوداؤدشريف دغه حديث شريف راوړای شو ،
(جَاءَ رَجُلٌ مِنْ بَنِی عَامِرْ اِلی النَّبی صلی الله تعالی عليه واله وسلم
فقَالَ أألِجُ فقَالَ النَّبی صلی الله تعالی عليه واله وسلم لِلجَارِيَةِ أخْرُجِی
فقُولِی لهُ السَّلامُ عَلَيْکُمْ أأدْخُلُ فانَّهُ لَمْ يَحْسَنِ الاسْتِيْذَانَ قالَ
فسَمِعْتُهَا قبْلَ انْ تَخْرُجَ الیَ الجَارِيَةَ فقلْتُ السَّلامُ عَلَيْکُمْ أأدْخُلُ فقَالَ
وَعَلَيْکَ أدْخُلْ فدَخَلتُ.(الحديث)
ژباړه: له بنی عامر څخه يوسړی دنبی کريم صلی الله تعالی عليه واله
وسلم په خدمت کي حاضرشو، اوئي ويل (أألج) زه دردننه شم ؟نبی

کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم ویوې مینځې ته وویل: دغه
نفر داجازې اخیستلو په طریقه باندې نه پوهیږي ، هغه بهر وباسه
اوطریقه ورته وښیه اوپوه ئي کړه چې دغه رنګه ووایه:
(السلام علیکم ااَدْ خُلُ؟) ایازه درشم ؟ هغه نفروائي چې دغه دنبی
کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم خبره دمینځې ترراتلومخکې ما
واوریده ، نوځکه مې په دوهم وار دهغه صلی الله تعالی علیه واله
وسلم له ارشادسره سم کاروکړ،نونبی کریم صلی الله تعالی علیه واله
وسلم راته وفرمایل (وَعَلَیْکَ اُدْخُلْ) یعنی ماته ئي اجازه راکړه چې
زه هلته ورشم ، اوبیازه هلته ورغلم ، نوله دې څخه معلومه شوه چې
دهغه رهبر خوښه کړې طریقه داده (اَلسَّلَامُ عَلَیْکُمْ اُدْخُلْ) داجازې په
الفاظوکي بایده(اُدْخُلْ) لفظ استعمال شي ، چې معنی ئي داده (
ایازه کولای شم دالته درشم ؟) یاکولای شم چې حاضرشم ؟ د(أَأَلِجُ)
دلفظ معنی داخلاقو خلاف وه ، داچې نبی کریم صلی الله تعالی علیه
واله وسلم دغه لفظ نه دی خوښ کړي ، چې شریعت دژوندانه دهراړخ
خیال ساتلی دی ، آن داچې دایي هم موږته ښودلې ده چې تاسو باید
خلکوته په خطاب کي څه ډول الفاظ استعمال کړئ ، ؟ اوڅه ډول
استعمال نه کړئ.

دننه ځواب په صورت کې سنت طریقه

که تاسو دچادروازې ته ورسیدلاست او اجازه مووغوښتله خوله دننه
څخه هیڅ ځواب ترلاسه نه شو ، نوپه دغه صورة کې سنت طریقه داده
چې یوځل بیااجازه وغواړئ ، که بیاهم ځواب رانه غلي نودریم وارې

هم اجازه غوښتلای شئ ،څوکه په دریم وارې بیاهم ځواب تر لاسه نه
شو، نوبیابایدبیرته واپس ولاړشئ ، (دځواب په انتظارکې بایدونه
دریږئ ،اوکه تاسو داجازې غوښتلوبغیردخاوندانتظارکوئ ،نوهغه
تر دې حکم نه لاندې کیږي ،) له درې وارې اجازې غوښتلو وروسته
دا پوره یقین کیږي چې دکوروالوزمااواز واوریدی لکن هغه په
داسې حال کې دی چې زماځواب نه شې راکولای ،یعنې لمونځ کوي ،
یاپه بیت الخلاء کې دي ، یاغسل کوی ،یاویده دی اویاپه کوم بل
داسې کار لګیادي چې زما ورتلل ئي هلته نه خوښیږي ، اویاهغه په
کارلګیادي اوبل داسې څوک نشته چې مامنع کړي.
یوروایت دی چې حضرت ابوموسی اشعري رضی الله تعالی عنه
دحضرت عمرفاروق رضی الله تعالی عنه لیدوته ورغي ، درې واره
ئي اجازه وغوښتله خودنه جوابه په وجه بیرته واپس ولاړي ، کوم
وخت چې وروسته حضرت عمر رضی الله تعالی عنه وویل : چې
عبدالله بن قیس دلته راتلل غواړي هغه راوبولئ،هغه بهر واووتي
اووئي لیدل چې ابوموسی اشعري رضی الله تعالی عنه بیرته ر وان
شوی دی ،اوحضرت عمرر رضی الله تعالی عنه ته ئي دابوموسی
رضی الله تعالی عنه دبیرته تلو خبرورکړ ، له هغه څخه وروسته چې
کله بیاابوموسی اشعری رضی الله تعالی عنه دحضرت عمر رضی الله
تعالی عنه لیدوته راغلي ، نوحضرت عمر رضی الله تعالی عنه
وپوښتل چې ته ولې بیرته واپس تللی وي ؟ حضرت ابوموسی

اشعری رضی الله تعالی عنه ورته وویل چې دنبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم مبارک ارشاددی:

(اِذَااسْتَأذَنَ اَحَدُکُمْ ثَلاثاً فَلَمْ یُؤذَنْ لَهُ فَلْیَرْجِعْ.)

ژباړه: که له درې واره اجازه غوښتلو وروسته اجازه درنه کړل شوه نوبیرته لاړشئ. مادرې واره اجازه وغوښتله خوکله چې مې هیڅ ځواب مې ترلاسه نه کړ، نوپه دغه حدیث دعمل له مخې بیرته روان شوم. حضرت عمر رضی الله تعالی عنه ددغه حدیث دصحت دثابتولو لپاره په یوه خاص اندازسره وویل چې یوڅوک شاهد راوله کنه زه به وتاته سزادرکړم، حضرت ابوموسی اشعری رضی الله تعالی عنه له هغه ځایه ولاړي اودانصارو یوې ټولۍ (ډلې) ته ورسیدی اودغه ټوله قصه ئي ورته وکړه، اوروته وئي ویل که په تاسو کې چادغه حکم مبارک اوریدلی وي نوله ماسره ولاړ شئ اوحضرت عمر رضی الله تعالی عنه ته تصدیق ورکړئ، انصارو وویل چې داحکم خوعام دی، بی شکه نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم همدغه رنګه وفرمایل اومونږ ټولوواوریدل، مونږ خپل ترټولو کم عمر هلک ستاسره دشاهد په ډول لیږو. هغه ؤچې حضرت ابوسعید خدري رضی الله تعالی عنه ورسره ولاړی اوحضرت عمر رضی الله تعالی عنه ته ئي وویل چې ماهم دغه حدیث شریف له نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم څخه اوریدلی دي، حضرت عمر رضی الله تعالی عنه دغه وخت په افسوس کې شو اووئي ویل چې دنیاکاروبارله دغې مسئلې ناخبرساتلی وم.

څوک په خاماخاراتلو مه مجبورکوئ

هر کله چې تاسو ددروازې ټکولو، سلام اچولواویابلې طریقې په ذریعه داجازې ترلاسه کولو کوشش تردرو واروپورې تکرارکړئ، اوبیاهم له دننه څخه درته هیڅ ځواب رانه شي نوداسی مه کوئ چې هلته کښینئ اودکورخاوند دخاماخاراایستلو کوشش کوئ ځکه داکار دکوردخاوند دزوررولو سبب ګرزي، اوداسلام مبارک دین کله هم دچازوررول نه غواړي، اونه ئي خوښوي اوڅوک داحق نه لري چې یوڅوک په ملاقات کولو مجبورکړي، اویادهغه په دروازه کې کښیني اودهغه دتنګولوکوشش وکړي، اوداهم داسلام له نظره په هیڅ ډول سم کارنه ګڼل کیږي چې دیوچاپه دروازه کې ودریږي اوپه داسې وینایاناره سره دکورخاوندرابولي چې هغه زورونکي یااخلاقو خلاف وي، دنبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم په زمانه کې چې کوموخلکو دهغه مبارک په مجلسونوکې ګډون کړي ؤ، هغه خلک په اسلامي اخلاقو اوآدابو روزل شوي ؤ، هغوی به همیشه دنبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم دوختونو خیال ساتی، هغوی حضراتوته ددې پوره پته وه چې نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم دالله ﷻ ددین په کاروکې ترکومې اندازې پورې مصروف ژوندتیروي، اوددغه رنګه ستومانوونکو مصروفیتونو په دوران کې به خاماخاه وخت دهغه دارام لپاره وي اوڅه وخت به یې دخپلو شخصي ضرورتونو دترسره کولو لپاره وي اوهمدارنګه دکورني ژوند دپرمخ بوتلولپاره هم څه وخت حتماً

ضرورت وي ، نو څرنګه چې اصحاب کرام ښه پوهېدل چې دنبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم کورني معاملات هم ددین دیومهم اړخ حیثیت لري نو ځکه به دوی دنبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم لیدوته هغه وخت راتلل چې کله به هغه بهر ته راوتلی ؤ، اوکله چې به هغه په مجلس کې حاضر شوی نه ؤ ، نودوی حضرات به ورته په ډېرادبي اواخلاقي ډول کښیناستل اودنبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم دراوتلوانتظاربه ئې کاؤ،مګردعربوپه هغه ماحول کې چې په عام ډول خلکوته دسمون روزنه نه وه رسیدلې ډیرډیربه داسې خلک هم دنبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم دلیدولپاره راتلل چې په زړه کې به ئې داخیال اوفکر ؤچې هر هغه څوک چې پاک خدای ﷻ ته خلک رابولي اویادخلکو اصلاح کوي هغه هیڅکله هم دارام کښیناستلو حق نه لري ، دوی به له خپل ځان سره دافکرکاؤ،چې موږ داحق لروچې هر وخت موخه پوښتنه کول زړه وغواړي شپه وي که ورځ موږ به نبی کریم صلی الله تعالی غلیه واله وسلم بې چون اوچراورځواوپوښتنه به ورڅخه کوو، اوهرکله چې موږ څه غوښتنه کوو نوهغه صلی الله تعالی علیه واله وسلم به خاماخاموږ ته ځواب وائي۔ځینې حضرات داسې هم ؤ ، چې بالکل له اسلامي تعلیم سره نااشنااوناخبره ؤ ، دوی به دنبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم حجرې ته ورتلل اوپه زوره ،زوره به ئې دهغه دراوتلو نعرې وهلې ،دادهغودسادګي وجه وه اودغه رنګه واقعې ځله په احادیثو کې راغلې دی ،دمثال په ډول دبنی تمیمویوه

ډله یووخت دنبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم دلیدلولپاره راغله ، نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم له مسجدڅخه راوتلی ؤاوحجرې ته تللی ؤ دوی له حجرې څخه دباندې ودریدل اوپه ناروئي پیل وکړاووئي ویل (یَامُحَمَّدْ اُخْرُجْ اِلَیْنَا)(ای محمده موږ ته راووزه)داددوی بې عقلۍ اوسادګي وه ، اودوي له اخلاقو اوښه چلندڅخه بالکل خبرنه ؤ.

رسول الله صلی الله تعالی علیه واله وسلم ته ددوي له دغه رنګه حرکتونو څخه ډېر تکلیف رسیدی ،مګرهغه مبارک به دخپلې نرمې طبعې (حلم) په وجه برداشت کاؤ، اخیردوي خدای ﷻ ددغه ناسم عمل له وجې ملامت کړل اوخلګوته ئې په دغه ډول هدایت وکړ.

(وَلَوْأَنَّهُمْ صَبَرُوا حَتّى تَخْرُجَ إِلَيْهِمْ لَكَانَ خَيْرًا لَهُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌرَّحِيمٌ)

ژباړه: کله چې نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم په کورکې وي اوتاسو هغه په ناروسره رابولئ نوداادب سره په ټکر کې عمل دی ، بلکه خلکوته پکاردی چې انتظاروکړي ، هر کله چې نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم دخپل ضرورت سره سم بهر راووتي نوهغه وخت دی ورسره لیده کاته وشي.

دسیدالمرسلین محمد صلی الله تعالی علیه واله وسلم ذات مبارک دبرکتونوسرچینه اودمسلمانانودټولودیني اودنیوي کارونو مرکز اودرجوع ځای ؤ ،ډېروړوکي کارهم دانسان لپاره ډېر سخت اومشکل ګرزي که دهغه داوقاتونظم موجودنه وي.

دصحابه کرامودعمل طریقه

دحضرت رسول اقدس صلی الله تعالی علیه واله وسلم په مجلس کې
ګډون کونکواوله هغه سره ملاقات کونکوته چې کوم اداب ښوول
شوي ؤ،دهغوبنستیز ټکي داؤ،چې له نبی کریم صلی الله تعالی علیه
واله وسلم سره په لیدوکتواوخبرواتروکي ترانتهایي حده پورې
بایدادب لحاظ وساتل شي ،دهیڅ یوچااواز (غږ) بایدنبی کریم
صلی الله تعالی علیه واله وسلم تراوازلوړنه وي ، هغه څوک چې له
نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم سره خبري کوي هغه
بایداله یاده ونه باسي چې داوخت زه له داسي چاسره په خبرولګیانه
یم چې هغه زماسیال یاله ماسره برابر دي ، بلکه زه دالله ﷻ له
سپېڅلي رسول نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم سره خبري
کوم . دپاک خدای ﷻ ددغه حکم تر نازلیدلووروسته داصحابو
کراموحال داسی شوچې حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه
عرض وکړچې ای دالله ﷻ رسوله ! په خدای ﷻ می دی قسم وي چې
زه به دمرګ ترورځې له تاسره په داسي ډول خبري کوم لکه یوڅوک
چې چاته په غوږکي ږغیږي.

حضرت عمررضی الله تعالی عنه به هم ددغه حکم له نازلیدوروسته
دومره (سوکه) ورو ږغیدي ،چې ډیرواري به نبی کریم صلی الله
تعالی علیه واله وسلم دوهم وارپوښتنه ورڅخه کوله ،اودثابت بن
قیس اواز اصلاً ډیرغټ ؤ، خوکله چې ئي دغه ایة واوریدی ،نوله
ډاره ئي ډیرزیات وژړل اوله ډېر تکلیفه وروسته ئي خپل غږ ډیرټيټ

کړ،له دغوقیصوڅخه کولای شوچې اندازه ولګووچې
دلویانو(بزرګانو) سره په لیدو،کتو، خبروکي څرنګه کړنلاره خپله
کړو.

له مشرانوسره دلیدوکتواداب

علماؤپه صراحت سره ویلي دي چې کوم خلک په عمرکي له تاسو
څخه مشران وي اویاپه علم کي ترتاسو لوړوي اویامشائخ یااستادان
وي ، نوله هغوټولوسره دملاقات پروخت ددغوادابوډېرخیال ساتل
پکاردي.

حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنه فرمایلی دي چې ځیني وخت
به ماديوانصاري صحابي دروازې ته دهغه دراوتلو په انتظار کي
ټوله غرمه تیروله ، ددي لپاره چې ماویل کله هغه دباندي راووزي
بیابه زه ورڅخه دیوحدیث پوښتنه اوتحقیق کوم ،که ما له هغه څخه
داجازې غوښتنه کړي وای نوهغه به ضرورماته اجازه راکړې وه
مګرمادغه کارداداب خلاف بللونوځکه مي دانتظار تکلیف پر ځان
منلی ؤ.

حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنهمافرمائي :چې کله به زه
یوچاته دلیدولپاره ورغلم ،اوبیابه داراته معلومه شوه چې هغه ویده
دي ، نوخپل څادربه مي هلته ددروازې ترمخ اچاوواوبیابه په انتظار
درباندي کښیناستم ،دتودوخي ګرمی څپې به چلیدلې چې دهغوپه
وجه به زماخوله اوسرپه خاوروولړل شول ،مګرزه به ترهغه وخته
پورې هلته وم ترڅوبه هغه راپورته شواودخپل ضرورت لپاره به

بهرته راووتي ، نوهغه وخت به بیاماورڅخه دیوحدیث په
اړوندپوښتنې اوتحقیقات کول ، هغوحضراتوبه راته ویل چې تاښه
نه دي کړي چې دلته په دغه بدحال کې انتظارشوی ئې موږ به دې
خبرولو ، اومابه په ځواب کې ورته ویل چې زمازړه دانه غوښتل چې
تاسوزماپه خاطر دخپلوضروریاتو ترپوره کولومخکې بهر ته
راووزئ ،نوداخبره ددې دلیل دې چې اصحاب کرامو رضی الله
تعالی عنهم اوتابعینو رحمة الله علیهم هم
دخپلواستادانواومشائخوپه حق کې ددغوادبونوډیرخیال ساتلی
دی ،ځکه چې دوی هم دانبیاؤ وارثان ؤ،اوددې دلیل دادی چې
یوخت نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم ابودراء رضی الله
تعالی عنه ولیدی چې هغه دحضرت ابوبکرصدیق رضی الله تعالی
عنه ترمخ روان ؤ، نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم ورته
وفرمایل : چې ګوره ته دداسې چاترمخ روان ئې چې هغه په
دنیااواخرت ترتابهتردې اوبیائې وفرمایل :چې په دنیاکې
لمرپرداسې چانه دې ختلی ، نه لویدلی چې هغه ترحضرت
ابوبکرصدیق رضی الله تعالی عنه بهتراوغوره وي. (روح البیان)
جضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنهمافرمائي: چې په کوم قوم کې
دعالم مثال دنبی په څیردې ،الله ﷻ دنبی په شا ن کې فرمایلي دي:
چې تاسو بهرته دهغه دراوتلو انتظار وکړئ. حضرت ابوعبیدة رضی
الله تعالی عنه فرمایي: زه دیوعالم دروازې ته ورغلم خودروازه مې

ونه ټکوله بلکه دهغه انتظار مې وکړماویل چې هرکله هغه بهرته
راووزي هغه وخت به زه له هغه سره لیده کاته کوم.(روح المعانی)
له پورتنیوواقعوڅخه معلومېږي چې داهم ادب دی چې بغیرله دې
چې مشائخ اواستادان له خپل راتګ څخه خبرکړئ په بهر کې دهغوی
انتظار وکړئ ، هر وخت چې دوی په خپل طبیعت بهر ته راووتل
،نوبیااورسره وګورئ ،دعلم زده کونکي بایدله دې واقعوڅخه درس
واخلي چې اصحاب کرامو رضی الله تعالی عنهم اجمعین) به
دیوحدیث دزده کولو لپاره په دروازه کې کښیناستل خوکه نن
سبادخلکوحال وګورونوډېر فرق سره لري ، اوداحال ډېر خراب اوله
ادب څخه لیرې دي.

دادب احترام اوثمره

داخوهمداادب ؤچې حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنه ته
دبحرالعلوم لقب ورکړل شو، هغه به سره له دې چې د نبی کریم صلی
الله تعالی علیه واله وسلم داکا(تره) زوی هم ؤ،او نبی کریم صلی
الله تعالی علیه واله وسلم ته ډېر نژدې هم ؤ ، داټوله ددغه ادب
اودغوقربانیوثمره وه ، که هغه دڅه ځان پلوې اوځان لوړېللوپه رنځ
مبتلاشوي وای ، نودغه لوړې مرتبې (چې هغه ئې دعزت دبام عروج
ته ورساوو) څرنګه ترلاسه کړې وای ، نبی کریم ضلی الله تعالی
علیه واله وسلم ارشاد مبارک دی : چې له هر چاڅخه چې علم
حاصلوئ له هغه سره په تواضع مخامخ کېږئ ، په بخاری شریف کې
له حضرت مجاهد رضی الله تعالی عنه څخه نقل شوی دي : چې

دحضرت علی رضی الله تعالی عنه ارشاددي : ((له چاڅخه چې
ماصرف یولفظ زده کړي وي هم ،زه دهغه غلام یم که مې ازادوي که
مې خرڅوي.)) دغوارشاداتواودحضرت ابن عباس رضی الله تعالی
عنهماعمل ته په فهم سره پکاردي چې څه ناڅه پرخپله معاشره هم
نظرواچوواوګوروچې زموږدمعاشرې (ټولنې) حالت څنګه دي په
ننني ټولنه کي دصاحبزاده غړ یانوم دکېنسرشکل غوره کړی دی ،
څومره صاحب زادګان شته چې دخپل نېک خویه اوپاک زړه لرونکو
پلرونودعملونو وارثان دي ؟ په دي خبره ډیرفکرکول پکاردي چې
ایاصاحب زاده پیدایشي همدغه رنګه وي اوکه بې وروستنې حالات
دغه رنګه کوي اودغه ځای ته ئې رسوي ، نوبیایه دامعلومیږي چې
په دې کي ترټولوزیات لاس دناپوهانومریدانواوعقیده لرونکودی
چاچې په عبادت خانه کي هغه صاحب زاده دمعبودتردرجې رسولی
دی ، یوداسې څوک چې له خلګوسره ئې دملاقات پروخت خپله ټنډه
(تندی) ډیرتریو نیولي وي خودصاحبزاده په مخکې په
زنګنونوکښیني. اسلام ډیرپه کلکه دشخصیت پرستې مخالف دی
ځکه شخصیت پرستې دبت پرستې وسیله ګرزي موږ بایددیته سوچ
وکړو چې ایاموږ بت پرستې ډیره پرمخ نه بوولې ؟ اوحال دادی چې
په اسلام کي دبزرګي سروکارله تقوی سره دی . په دغه ډول نه
وي،داچې موږ دغیراسلامې طریقې پلوي (تائید) کوو بلکه
ددغوصاحب زادګانو(اخندزاده ګانو)آینده هم خرابوو ، ځکه چې که
موږ یوکم علم اوکم عقل ته اخندزاده ،اخندزاده وایونوهغه په غلط

فهمي کي لویږي ، اوځان تر خپل اصلیت ډیرپورته ورته ښکاریږي ،
اودایوه فطري خاصه ده چې که موږ یو څوک دهغه ترحقیقي حیثیت
لوړبولو ،نوهغه یقیني دخپل ځان په هکله غلط فکر کوي ،اوپه کومه
اندازه چې هغه ته دخپل پلار اونیکه دوراثت ساتنه اوتحفظ لازم ؤپه
هغه ډول ئې نشي کولای ،له دې خاطره داوخت موږته داډیره ضروري
ده چې هغوخلکوته چې داخونډزا دګانو(صاحبزادګانو) په اړوندتر
مناسب حدزیاته عقیده لري په خوږه ژبه ووایوچې وروره دخدای ﷻ
په خاطرددغوصاحبزادګانوراتلونکي مه خرابه وه اودغه دشخصیت
پرستي کارنورپریږده. امکان شته چې دغه بې ځایه عقیده بیادومره
خوره نه شي چې مخنیوي ئې زموږ له واک څخه ووزي.

دحضرت سعدرض له کورڅخه د نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم بیرته تلل:

داحا دیثوپه یو کتاب مسنداحمد رحمة الله علیه کي له حضرت انس
رضی الله تعالی عنه څخه روایت دي:چې یووار نبی کریم صلی الله
تعالی علیه واله وسلم دیوصحابي حضرت سعدبن عبادة رضی الله
تعالی عنه کورته ورغی ، له سنتوسره سم ئې داجازې غوښتلولپاره
سلام واچاوو ، سعدبن عبادة ځواب ورکړخودومره په سوکه اواز چې
هغه مبارک وانه وریدی ، نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم
په دوهم اودریم واربیاهم سلام واچاوو خوسعدبن عبادة رضی الله
تعالی عنه په دومره ټیټ اوازځواب ورکاوو، چې نبی کریم صلی الله
تعالی علیه واله وسلم به نه اوریدی ، له درې واري سلام

ویلووروسته نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم بیرته روان
شو ، کله چې سعدبن عبادة رضی الله تعالی عنه پوه شوچې هغه
صلی الله علیه وسلم بیرته روان شو نوله شائي وریسې منډه کړه
اوعذرئي ورته وواېو، اوورته وئي ویل چې ای دالله ﷺ رسوله !
هرواری ماستااوازاوریدی اوځواب مې درکاوو، خوپه دی وجه مې
په ډیرټیټ اواز ځواب درکاوو،چې ستاله خولې زمادسلامتیاډیرې
دعاګانې راووزې چې ستادغه دعاګانې زمالپاره ډیرې قیمتې وی،
بیا نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم ورته سنت طریقه
وښوده چې که دی له درې وارې څخه وروسته هم ځواب ترلاسه نه کړ
نوبیرته بایدواپس ولاړشي ، له دې څخه وروسته سعدبن عبادة
رضی الله تعالی عنه نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم خپل
کورته بوتلی اوپه ډیربنه ډول ئي دهغه صلی الله تعالی علیه واله
وسلم خدمت وکړ، اوله نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم
سره ئي ډیرمحبت وکړاو نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم
هغه قبول کړ.دغه رنګه نورې ډیرې واقعې هم پیښې شوي دي .
حضرت عبدالله بن زیدبن عبدربه باغ(کروندې) ته اوبه ورکولې چې
دهغه زوی د نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم له رحلت څخه
خبرکړ،نوهغه سمدستي خپلې سترګې پټې کړې اودپاک خدای ﷻ
دربارته ئي سوال وکړ چې ای خدایه ! ماچې په کوموسترګود نبی
کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم ښائست لیدلی دی نورنه غواړم
چې په هغوسترګوباندی نورشیان ووینم له ماڅخه

دسترګو دید(بصارت) واخلې اوپه همدغه رنګ ئي دعاء قبوله شوه
داُحُدپه جنګ کې مسلمانانوته هم ډیرتاوانونه واوښتل اوهم
شهیدان شول . کله چې دغه خبر مدینې منورې ته ورسیدی نوښځې
دسم حال معلومولولپاره له کوروڅخه راووتلې ،یوې انصارۍ
میرمنې دخلکویوه ډله ولیده اوهلته ورغله ، په ډیره بې صبرۍ سره
یې ورڅخه پوښتنه وکړه چې نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله
وسلم څنګه دی ؟ له هغې ډلې څخه یوچاورباندې غږ کړچې
ستاپلارشهیدشو ، دالله ﷻ دغه بنده اناالله وویله اوبیائي هم په بې
صبرۍ سره د نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم
دروغتیااوپیداکولو پوښتنه اوتلاش کاؤ، ددوې له ډلې څخه
چادخپل وروردشهادت واوریدل ، چادخپل پلار اوڅوک دخپل زوی
یابل دوست له شهادته خبرې شوې ، خودغې انصارې میرمنې په
بیابیاویل چې نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم چیرې
اوڅنګه دي ؟خلکوورته ویل چې هغه روغ رمټ دي اورابه شي ، په
دې سره دهغې زړه ارام نه شو، اووئي ویل چې هغه چیرې دی ؟
خلکودیوې بلې ډلې په لوراشاره وکړه ، چې هلته دي ، هغه میرمن په
منډه هلته ورغله اوخپلې سترګې ئي دهغه مبارک په لیدلو یخې کړې
اوعرض یي وکړچې ای دالله ﷺ رسوله ! ستاله لیدوڅخه وروسته هر
غم زمالپاره کم اومعمولې دی.

دحضرت سعد رضی الله تعالی عنه عمل

له نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم سره دصحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم دمحبت ډیري واقعې شته اوکه رشتیاوویل شي نودغه د نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم محبت دهغوی دژوند سرمایه وه دکوم په وجه چې دځان ،مال ،اولاداوهرڅه قربانولوته هر وخت تیارؤ،په دغه لاره کي ورباندي هیڅ ډول ویرې اوډارغلبه نه وه کړي ، ویره اودمرګ ډارئي دهغوله زړو څخه ایستلې ؤ،دوی به د نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم پر حکم باندي ځان قربانول دځان لپاره یولوی افتخار ګڼلو دسعد رضی الله تعالی عنه پورته بیان شوی عمل دعشق اومحبت دغلبې په وجه ؤ، په دغه وخت کي دهغه ذهن ته داخبره رانغله چې نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم یوغریب کورته راغلی دي زه به سمدستي ورشم اودهغه قدم به ښکل کړم ، بلکه دهغه ذهن دېته متوجه شوچې هرڅومره چې ډیرواري د نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم له مبارکي ژبې څخه د(اَلسَّلَامُ عَلَیْکُمْ) دوعاووزي هغومره به دغه دعاوې زمادنجات باعث وګرزي ، اوپه دنیااواخیرت کي به زمادخلاصون اواصلاح سبب شي.

له نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم سره چې دصحابه کراموکوم تعلق ؤ هغه دمحبت طبعي په درجه کي ؤبلکه که تر دې بله هم پورته درجه وي نوترهغې پورې رسیدلی ؤ،نوپه دغه رنګه محبت کي له محبوب سرڅخه بغیر هیڅ څوک هم دانسان په نظراو خیال کي

نه ورځي.له نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم سره دحضرت سعد رضی الله تعالی عنه محبت هم تردغې اندازې پورې رسیدلي ؤ، دغه رنګه حضرت سعد رضی الله تعالی عنه ته د نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم ذطبیعت پیژندنې په بناء دامعلومه وه چې نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم له ماڅخه په دغه کارنه خفه کیږي ، ځکه چې دهغه نیت اوجذبه ډیرپاک ؤ ، اوهمداسي و شول هم اودسعد رضی الله تعالی عنه په دغه عمل سره نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم دهیڅ رنګه خفګان اظهارونکړ،بلکه دهغه دجذبې قدرداني یې وکړ ،څرنګه چې دهغه له دعاء څخه څرګندیږي چې ویې فرمایل: (اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ صَلٰوتُکَ وَرَحْمَتَکَ عَلٰی اٰلِ سَعْدٍ)

ژباړه: ای زماربه !دسعدپه کوروالوباندي خپله خاصه مهرباني اورحمت وکړي.

دکوردخاونداختیار

فَإِن لَّمْ تَجِدُوا فِيهَا أَحَدًا فَلَا تَدْخُلُوهَا حَتَّىٰ يُؤْذَنَ لَكُمْ وَإِن قِيلَ لَكُمُ ارْجِعُوا فَارْجِعُوا هُوَ أَزْكَىٰ لَكُمْ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ دنورسورة(۱۸ایة)

په دغه ایت شریف کي څرګندارشاددي چې ترڅوتاسوته دننوتلواجازه نه وي درکړله شوی ،نوترهغوپورې مه ننوزئ ،که په کورکي څوک نه وي اویاوي ،خواجازه نه درکوي اوستاسوله ورتلوڅخه انکارکوي اویادکورخاوند پخپله تاسوله ورتلوڅخه منعه کړي، چې اوس درسره نه شم لیدلای اوس ولاړ شه ، اویادکورله دننه

څخه هیڅ ځواب درته رانشي ، نوپه دغوټولو صورتوکي څرنګه چې
اجازه نه ده درکړله شوي ،نوداخیلیدل درته نه دي روا .
دغه داجازې له ورکولو څخه انکار بایدناسم ونه ګڼو، اونه په دې
سره باید خپه شو ، بلکه دغه طریقه ډیره مناسبه اوبهتره ده ځکه چې
دهر چاحال خوهمیشه په یوه ډول نه وی ، ځینې وخت انسان
مجبوروي اوبهرته هم نه شي راوتلای ،نه بل داسي څوک وي چې
دهغه په واسطه تاسوته خبردرکړي. چې داوخت زه په داسې حالت
کي یم نوځکه تاسو ته دراتلو اجازه نه درکوم ، موږ ته پخپله ډیردغه
رنګه حالات پیښیږي ، موږ باید نورهم په خپل ځان ورقیاس کړو،
اودهغوی عذر ومنو، زموږ لپاره دپاک خدای ﷻ په مبارک
ارشادعمل کول ډیرغوره دی چې فرمایي ،(ارْجِعُوْا)بیرته واپس شئ
. په دغه ایت عمل نه کول دډېروفتنواوخرابیوباعث کېدای شي ،
دالله ﷻ خپل ارشادپاک دي چې زه ستاسوله کاروااودزړه له
پټورازونوڅخه ډیرښه خبر یم ،خدای ﷻ پوهیږي چې دکورته
راتلونکي نیت څه ؤ، اوداجازه نه ورکونکي داجازې نه ورکولوعمل
دڅه مجبوری په بناء ؤ پاک خدای ﷻ فرمایي چې که دکورخاوند
دکبر په وجه هغه له راتلو څخه منعه کړی وي هم زه پوهیږم اوکه یې
رښتینی عذر وي نوهم زه ورباندي خبریم پاک خدای ﷻ ددواړوله
نیت اودزړه له رازونوڅخه پوره خبردی.
له مهاجرینوحضراتوڅخه نقل شوي دي : چې دوی به ډېر افسوس
کاوچې ټول عمرزموږداآرزووه چې موږ دچاکورته ورغلی وای

اواجازه موورڅخه غوښتې وای اوبیاهغوپه ځواب کي راته ویلې
وای چې بیرته واپس شئ ترڅوموږدپاک خدای ﷻ په دغه حکم
دعمل کولو ثواب حاصل کړی وای. مګرعجیبه ده چې کله هم دغه
نعمت زموږپه نصیب نه شواوپه دغه اية دعمل کولو موقع په لاس
رانغله .

په ملاقات کي ددواړواړخونورعایت

اسلامي شریعت دژونددښوادبونودزده کولو اودټولوله
ضرراوتکلیف څخه دساتلو لپاره دعدالت یودوه اړخیځ نظام
جوړکړی دی ، څرنګه چې په دغه اية کي اجازه غوښتونکي ته
دالارښوونه شوي ده چې که تاته ځواب درنه کړل شو یادارنګه چې
درته وویل شول چې داوخت درسره نه شم لیدلای
نودکورخاوندمعذوروګڼه اوپه ښه زړه بیرته واپس شه ، دادځان
لپاره نامناسب اوبدکارمه بوله . اوبغیرله څه پریشانۍ اوخفګانه
څخه بیرته واپس شه دجګړې اواوتأ ویلو،ماویلوضرورت نشته ،
اوپه یوحدیث کي دملاقات ددوهم اړخ په اړونددغه رنګه
ارشادمبارک شوي دي چې نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم
فرمایلي دي:(اِنَّ لِزُوْرِکَ عَلَیْکَ حَقاً) پرتاباندي دهغه چاحق شته چې
لتاسره ملاقات کوي،هغه دادی چې یاخوهغه ځان ته راوبوله اویابهر
ته ورووزه اوورسره ووینه ، دهغه عزت وکړه ځکه چې هغه ستامیلمه
دی کوم حقونه چې شریعت میلمانه ته ورکړی دی په هغوعمل وکړه
،که دهغه کوم ضرورت په تا پوري تړلی وي اوپه تاسره پوره کېدای

شي نودپوره کولو کوشش یي وکړه ، اوکه دهغه دضرورت پوره کول
ستا په قدرت کي نه ؤ نوپه ډیره نرمه اوپسته ژبه ورته ووایه چي
ستادغه کاریادغه ضرورت درته زه نه شم پوره کولای اوپه همدغه
وخت کي داخبره یادلره چي الله ﷻ دزړونوپه هر پټ رازخبردی اوپه
دي سره ته بایددپاک خدای ﷻشکراداء کړي چي الله ﷻ تاته رتبه
،یاچوکۍ اویادومره عزت درکړي دی چي له لیري اونژدي څخه خپل
اوپردي ټول درته راځي داټول دپاک خدای ﷻ فضل دی ، کنه
یوڅوک هم بل چاته بغیرله مجبورۍ اوضرورته نه ورځي ، نوکه
معقول اوډیرعذرونه وي بیاله ملاقات څخه انکار کول نه دی پکار
ځکه چي ددواړوطرفونوحال پوره پوره خدای ﷻ ته معلوم دی -
اوخدای ﷻ ډیره ښه پوهیږي چي دهغه دمنعه کونکی عذرمعقول دی
اوکنه له بل طرفه عواموته هم پکارده چي که له مشائخو ،
استادانواویادوخت له حاکمانوسره لیدل غواړي نوپه هغه وخت کي
دي ورسره دلیدلوکوشش وکړي چي هغه له خلکوسره دلیدلو لپاره
تاکلی وی ، بې له څه سخت ضرورته دي بې وخته دی دهغه لیدلوته
نه ورځي ځکه چي هر کاربایدیوتاکلی وخت ولري.

په شپه کي داجازې غوښتلو سنت طریقه

د نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم معمول داؤچي کله به
چاته دملاقات لپاره په شپه کي ورتلی ، نوپه دومره اوازبه ئي
ورباندی سلام اچاوو،چي ویښوخلکوبه اوریدلای شوای اوویده

خلک به وربانذی نه ویښیدل اوکه به څه سخت ضرورت ؤ هغه بیابله
خبره ده.

دصدیق اکبر رضی الله تعالی عنه پوښتنه

(لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَن تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ مَسْكُونَةٍ فِيهَا مَتَاعٌ لَّكُمْ وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَمَا تَكْتُمُونَ)ددغه اية شان نزول: روایت دی چي
کله داستیذان اية نازل شوچي پکي بې اجازې دچاکورته دورننوتلو
منعه شوې وه ، نوحضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه عرض
وکړ ای دالله ﷻ رسوله ! تردغه ممانعت وروسته به دقریشوتجاران
څه کوي ځکه چي دوی له مدینې څخه تر شام پوري تجارتي سفرونه
کوي اوپه لاره کي هرځای مسافرخانې جوړي شوي وي چي دسفر په
جریان کي دغه خلک په هغوکي ارام کوي خودهغوداسي ځانګړې
اوسېدونکي نشته چي ورڅخه اجازه واخستله شي ، نوپه دغه صورة
کي له چاڅخه اجازه واخستله شي ،اوپرچابایدسلام واچول شي ؟
دحضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه ددغې پوښتنې په
ځواب کي دغه اية شریف نازل شو.

دمتاع دلفظ څیړنه

په پورتني اية شریف کي دمتاع لفظ استعمال شو ی دی ، دمتاع
لغوي معنی دیوشي ،لوښي په ډول استعمالول ، له هغه څخه ګټه
اخیستل دی اوله هر څه څخه چي ګټه اخستله کیږي ، هغه ته متاع
ویل کیږي ، په دغه اية شریف کي دمتاع له لفظ څخه دهغه لغوي
معنی مرادده ، یعنی په کوم کورکي چي څوک استوګنه اوژوند نه

کوي ، بلکه دسامانونودساتلولپاره وي ، نوکه دغه رنګه کوټوته
دورننوتلو ضرورت پيښ شي که په يخ کې وي که په ګرمي کې که
دباران په حا ل کې وي که په سم حال کې وي که ستااوسيدل هم هلته
نژدې وي که دتجارت لپاره وي اوکه دتفريح ځای وی نوکولای شئ
بغير له جازې ورداخل شئ ، خوپه دې شرط چې هلته څوک نه
اوسيږي ، دجابربن زيد رضی الله تعالی عنه قول هم همدغه دی
اودغه رنګه ځای ته داخليدل به دنيک نيت اورشتني ارادې له مخې
وی دداخليدونکی زړه به دغلا، زنا،خلک ازارونی اودغه رنګه
نوروخيالونوڅخه پاک وي ځکه چې پاک خدای ﷻ فرمايي :؛ زه په
هغوټولوشيانوخبريم اوپوهيږم چې تاسوئي په پټه کوئ اويائي
ښکاره کوئ حتی چې هغه دزړونوله پټورازونوڅخه هم پوره خبردی.

د (غَيْرَ مَسْكُونَةٍ) دلفظ څخه مراد :

په اية کې چې د (غَيْرَ مَسْكُونَةٍ لفظ) راغلی دی دهغه په اړوند دزيد
اوشعبی رحمة الله عليهما قول دادی چې له دغه څخه مراددتجارت
کونکودکانونه اودهغوګدامونه ، سرايونه ، مسافرخانې ، هوټلونه
اوداسې نوردی ، يعني کله چې تجارت کونکی دوکانونه خلاص
کړي اوعمومي اجازه يې وکړه اوسامان ئي هلته دخرڅولو لپاره
کښيښود، نوبيادنوري اجازې غوښتلوضرورت نشته په دغه حکم
کې هوټلونه اوسرايونه هم دي ، له دې څخه مرادهغه ودانۍ اوځايونه
هم کيږدای شي چې دکوم شخص ياقوم داستوګنې لپاره خاص شوي
نه وي ، بلکه هر چا اوهرقوم ته دورتلوعامه اجازه وي نودابايدياد

ولرئ چې کومې طبقې (نارينه ؤياښځينه ؤ) ته چې دهلته ورتلو
اجازه نه وی دهغولپاره هلته ورتلل روانه دي ، د (غَيْرَ مَسْكُونَةٍ) په
اړوندبيلابيل قولونه نورهم شته مګردټولو خلاصه همدااوزي چې
له دې څخه رفاه عام (ټول ګټې) ځايونه مراددي چې پکې مسجد،
عبادتخانه ، ديني مدرسې ، اوښوونځی (مکاتب) هم شامل دی ،
دغه رنګه روغتونونه ، ډاکخانې ، دګاډې تم ځای ، دلويوموټرواډې
، دهوائي جهازميدان ، اودقومي جشنونواوتفريح ځايونه هم په هغه
کې داخل دی ، داټول هغه ځايونه دی چې هرڅوک بغير له اجازې
اخستلو ورننوتلای شي ، همدارنګه دعلماؤ
اومشائخوهغومجلسونوته هم چې دوعظ اونصيحت لپاره جوړشوی
وی ، دوروتلو پروخت داجازې اخستلوضرورت نشته. اجازه پردوه
ډوله ده يوصراحةً يانيغ په نيغه اجازه ده اوبله ضمني اجازه ، دمثال
په ډول که مشائخوته صراحةً اجازه ورکوله کيږي
نودهغوخدمتګاران ضمناً په دغه اجازه کې داخل وي ، اوکه
اميرانوته اجازه ورکول کيږي نومزدوران ضمناً له هغې اجازې څخه
ګټه اخستلای شي – اوکله چې بيااجازه حکمی وی ، دمثال په ډول
يومشر (وزير ياصدراعظم يابل چا) اعلان وکړ چې له فلانې وخته
بياترفلانې وخته پورې محتاجان کولای شي چې راشي اوله ماسره
ووينې. يامشائخ دهغوخلګولپاره چې هغو ته راځې يوکاغذ ولګوي
اوپه هغه کې ورته دليدو ،کتووخت وټاکي نوپه هغه ټاکلی وخت
کې دورتلو په صور ة کې داجازې اخستلوضزورت نشته ،

اویادکورخاوندیوچاته وویل چې زه په کورکي وم اوکه نه وم تا
کولای شي چې زموږ کوټې (کمرې) ته راشي نودغه هم اجازه بلله
کیږي همدارنګه دکورخاوندپه کوم بل لیري ځای کي ؤ اوستاله
کورته ورتلوڅخه خبرشو اودرته ویې ویل چې ته دالته پاته شه زه
درروان یم نوداهم دکور دخاوند له خوایوډول اجازه ده.

په غَیْرَ مَسکُونَةِ ځایوکي ددغوخبروخیال ساتئ:

دپورته ټولوذکرشویوځایونولپاره که دهغو دزمه
دارانو،سرپرستانواوحکومت لخواهغه ته دورداخیلدو کوم شرطونه
ؤنوپه هغوباندی هم عمل کول واجب دی ، دمثال په ډول پارک اودغه
رنګه نوروځایونوته یوخاص وخت ټاکل شوی وی اوهلته
دګلانواوبوټو خرابول اوشکول منعه وي یادګاډي تم ځای ته بغیر له
پلیټ فارم (ټکټ) څخه ورننوتل منعه وی ، نودفلیټ فارم (ټکټ)
اخستل ضروري دی ، ددغوقوانینوڅخه سرغړونه نارواده. په هوايي
میدان کي چې کومي برخي ته حکومت دعاموخلکوورتلل بندکړی
وی هغه ځای ته بغیر له اجازې ورتلل دشریعت له نظره روانه دی ،
دګاډي په تم ځای (استیشن) ، هوايي میدان
اوروغتونونو(هسپتالونو) کي هغه دفترونه اوخاصي کوټې (کمرې
) چې مریضان یانورخلک پکي استوګنه لري د (غَیْرَ مَسْکُونَة)
ترحکم لاندی نه دی ، بکله دمسکونة په حکم کي دی. هغوته بې له
[illegible]تلل روانه دی . دغه رنګه په مساجدو،مدرسو،
[illegible]بادتخانو [illegible]اکخانواونوروکي چې کومي کمرې

دهغودکار کونکو(خدمتګارانو) لپاره خاصي شوې وی ، اوڅوک
پکي استوګنه لري لکه په مسجدوکي دامام اومؤذن داوسیدوکمرې
یاپه عبادتخانوکي دمنتظیمینو(خدمتګارانو) کمرې اوپه
مدرسوکي داستادانوکمرې ، داټولې په (غَیْرَ مَسْکُونَة) کي داخلي
نه دی ، دغوکمروته بې له جازې ورننوتل روانه دی.

اوس پوښتنه داده چې په دغه رنګه (یعني غَیْرَ مَسْکُونَة) ځایونوکي
به سلام اچول کیږي کنه ؟ اوکه اچول کیږي نوپرچابایدوویل شي ؟
په دې اړوندهم حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه له نبی
کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم څخه پوښتنه کړی وه ،
داجازې په اړوندئي وفرمایل : چې ضرورت نشته اوداچې هلته
دسلام اچولو ضرورت شته کنه ؟ په ظاهر خوداسې ښکارې چې نه به
وی ، ځکه چې په ایة کي فرمایل شوي دي چې: (تُسَلِّمُوْاعَلٰی اَهْلِهَا)
یعني دکورپرخلکو سلام واچوئ ، نوکله چې په کورویاځایوکي
خلک نه اوسیږي نوسلام به څرنګه وي اوپر چابه ئي اچوي ؟ مګر
دلته دحضرت عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهمایوحدیث شریف
دی چې فرمائي : (عَنْ نَافِعٍ اَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنُ عُمَرَ قَالَ: اِذَا دَخَلَ الْبَیْتَ غَیْرَ
الْمَسْکُوْنِ فَلْیَقُلْ السَّلَامُ عَلَیْنَا وَعَلٰی عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِیْنَ)
ژباړه : له حضرت نافع رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چې
عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما وفرمایل : کله چې تاسو
یوخالي ځای یاکورته داخل شئ نووایئ :(السَّلَامُ عَلَیْنَاوَعَلٰی

عبَادَاللهِ الصَّالِحِيْنَ) دسلامتیادغه دعاهم دخپل ځان لپاره ده هم
دپاک خدی ﷻ دټولو نیکو بندګانولپاره ده که یوچا
(اجازه غوښتونکي) ته دقاصد په ذریعه دراتلو بلنه ورکړله شي،
نوتر دې دزیاتې اجازې اخستلوضرورت نشته لکه چې په یوحدیث
شریف کې فرمایل شوي دي: (اِذَا اُدْعِیَ اَحَدُکُمْ فَجَاءَ مَعَ الرَّسُوْلِ فَاِنَّ
ذَالِکَ اِذْنٌ) یعنې یوڅوک چې راوبلل شي اوهغه له قاصد(هغه
چاسره چې ورلیږل شوی وی) راشي نودادهغه لپاره اجازه ده. که
خدای ﷻ مکړه چېرې څه پیښه وشي یعنې اورولګیږي ، یاکوړرنګ
شي ، یادچاکوریادوکان یابل څه ته غل ولویږي ، یاکومه بلایامارپه
کورکي راووزې یادغه رنګه بل څه پیښ شي ،نوپه دغه رنګه
بیړنیوحالاتوکي دنفس تحفظ کول دی ، لکه څرنګه چې په هرانسان
باندی دخپل ځان ساتنه فرض ده همهغه رنګه دضرورت پروخت دبل
چا ساتل هم وربانذی فرض دی کله چې هغه دبل چادساتلو قدرت
ولري . دضرورت پروخت له انسان سره مرسته کول دبشریت ،
ایمانداری اواسلامیت غوښتنه اویوه ټولنیزه فریضه ده.

دټیلیفون کولو اسلامي طریقه :

دپاکستان دمفتی اعظم اودارالعلوم دیوبندپخوانی مفتي
محمدشفیع دیوبندی رحمة الله علیه داجازې غوښتلوپه
اړوندڅونوري مسئلې هم ذکرکړې دی ،هغه (رحمة الله علیه) لیکي
چې داجازې غوښتلوله شرعي حکمونوڅخه اصلي مقصد خلکوته له
ضرر(تکلیف) رسولوڅخه ځان ساتل ، اودیوښه اوبهتر ژوندادبونه

زده کول دی فلهذاخلک بایدپه لاندینیو احکامو هم پوره ځان پوه
کړي

(۱) یوچاته داسې وخت تیلفون کول چې عادةً هغه په دغه وخت کې
ویده وي یادغه وخت دهغه دلمانځه اویابل ضرورت وي بغیر له څه
سخته ضرورته روانه دی ، ځکه چې له دې څخه هم انسان ته په هغه
ډول اذیت اوتکلیف رسېږي څرنګه چې دیوچادبې اجازې ورننوتلو
پروخت ورته رسیږي اودهغه ازادي ته زیان رسوي.

(۲) که تاسو له یوچاسره ډېروخت په ټیلفون خبري کوئ ، نوښه به
داوي چې له هغه څخه پوښتنه وکړئ چې تاته په کوم وخت کې له
ماسره په ټیلفون خبري کول اسان وي ، کوم وخت چې هغه درته
وښائي په همهغه وخت بیاهغه ته ټیلفون کوئ.

(۳) که تاسو غواړئ له چاسره دټیلیفون له لارې اوږدې خبرې وکړئ ،
که هغه اجازه درکړه نوبیادخپل عرض په بیانولو پیل وکړئ ،
ډېرداسې کیږي چې څوک بل چاته زنګ (ګینټی) وهي هغه طبعاً
مجبورکېږي چې ددې لپاره ټیلیفون پورته کړي چې څوک دی اوڅه
وائي ؟. اوحال داوی هغه دټیلفون دپورته کولو لپاره ډیرضرورې کار
پریښې وي اوبل بې رحم ورته اوږده اوږده مجلسونه کوي اودهغه
دضرورت هیڅ خیال نه ساتي ، چې له دی امله مخاطب یااوریدونکی
ډیر په تکلیف کیږي ؛ اوکه هغه درته ووائي چې فی الحاله وخت نه
لرم نولطفاً بل وخت زنګ ووهه نوته هم همداسې وکړه اوخپله تلفوني
رابطه دي قطعه (پرې) کړه اوپه دې سره خواهم مه بده وه ځکه چې

خدای ﷻ فرمائي : (وَإِن قِيلَ لَكُمُ ارْجِعُوا فَارْجِعُوا) يعنی که تاسوته وویل شي چې بیرته واپس شئ نو بیرته واپس کیږئ.

(۴) کله داسي هم وي چې دټیلیفون ګنټۍ روانه وي (زنګ وهل کیږي) خو خلک ورباندی هیڅ کارنه لري اودومره ځان نه په تکلیف کوی چې صرف چې ټیلفون پورته کړي ، اومعلومه کړي چې څوک دی اوده لپاره يي ټیلفون کړي دی ، داکار له اسلامي اخلاقو څخه خلاف اودټیلفون کونکی حق ضائع کول دی ، لکه چې په حدیث شریف کي هم ددې ذکرشوی دی.(اِنّ لِزُوِرکَ عَلَیْکَ حَقٌ) یعنی دهغه چاپرتاباندي حق شته چې تاته دلیدولپاره راغلی دی ، له هغه سره ووینه یاورېغیره اوبې له سخت ضرورته هغه ته انکار مه کوه ، نوپه همدغه رنګ چې څوک تاته ټیلفون وکړي نوهغه پرتاداحق لري چې ځواب ورته ورکړي ، اوکه نه غواړي چې ډیرورسره وږغیږي نوعذرورته ووایه داباید په یادولرئ چې دغه پورته بیان شوي مسئلې ټولې له مستحباتواوادابوڅخه دي مګر دجمهورعلماؤ په نزدله واجباتوڅخه دي ، خطیب رحمة الله علیه هم داتائید کړي ده اوامام قرطبي رحمة الله علیه هم په خپل تفسیرکي همدغه لیکلي دي اوډیروعلماؤ قول هم دغه دی - له دي هرڅه څخه مقصدصرف وصرف دادی چې دجاهلانه اوناسم روش (چلند) مخه ونیوله شي ودناپوهانو په خیردخلکو کوروته بغیرله اجازې ورننوتل ، دخلکو په ،روازه کي په لوړ اواز ناري وهل ، په زوره ،زوره ددروازې ځنځیر ،رنګول ، بیابیادهرن (ګینټی) وهل ، دروازه په ډیروويشتل

همدغه ډول ټول ناسم اوله اسلامي اخلاقو سره ټکر کارونه ورک ... اوهر هغه حرکت له بیخه وایستل شي چې ورڅخه دکورخاوند ... ابل چاته تکلیف رسېږي . دادجاهلیت دزماني رواج اوعادت ؤ چې ... اجازې به په ناڅاپي ډول دیواوبل کورته ورننوتل اوډېر ځله به ... هغونظرونه دکورپه خلکواودهغوپه ښځوپه داسي حال کي لګېدل ... چې په هیڅ شان به دلیدولائق نه ؤ ، نوددوي دسمون اواصلاح لپاره ... پاک خدای ﷻ دغه قوانین اومقررات راولیږل چې هر څوک دخپل ... اوسیدودځای دتخلیي حق ولري ، اوبل چاته داروانه ده چې دهغه ... الیګاه ته دهغه بې اجازې تاوان ورسوي.

دقران کریم ایاتونه له ترجمي سره :

... أيُهَا الذينَ آمَنُوا لِيَستَأذِنكُمُ الذينَ مَلَكَتْ أيْمَانُكُمْ وَالذِينَ لَمْ ... لُغُوا الحُلُمَ مِنكُمْ ثَلاَثَ مَرَّاتٍ مِن قَبْلِ صَلاَةِ الفَجْرِ وَحِينَ تَضَعُونَ ... ابَكُم مِنَ الظَهِيرَةِ وَمِن بَعْدِ صَلاَةِ العِشَاءِ ثَلاَثُ عَوْرَاتٍ لَكُمْ لَيسَ ... لَيكُمْ وَلاَ عَلَيْهِمْ جُنَاحٌ بَعْدَهُنَّ طَوَّافُونَ عَلَيْكُم بَعْضُكُمْ عَلَى بَعْضٍ ... ذَلِكَ يُبَيِّنُ اللهُ لَكُمُ الآيَاتِ وَاللهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ۵۸ وَإِذَا بَلَغَ الأَطْفَالُ ... كُمُ الحُلُمَ فَلْيَستَأذِنُوا كَمَا استَأذَنَ الذِينَ مِن قَبْلِهِمْ كَذَلِكَ يُبَيِّنُ ... اللهُ لَكُمْ آيَاتِهِ وَاللهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ (دسورة نور ۵۸/ ۵۹ ایاتونه)

... باره: ای هغو کسانو چې ایمان موراوړي دي باید چې اجازه وغواړي ... هغه کسان له تاسو چې خاوندان وي ورلره ښي لاسونه ستاسي اوهغه ... کسان چې نه وي رسیدلي بلوغ ته له تاسو څخه دري واره (یعني دري ... خته) ،دسهارترلمانځه له مخه ، اوپه هغه وخت کي چې تاسو په

غرمه کي خپلي جامې باسئ ،اوروستوله لمانځه دماخوستن څخ
درې عورتونه دي تاسولره نشته پرتاسو اوپردوى ګناه پس
دغووختونوڅخه ډېرګرزيدونكي دي په تاسو باندي بعض ستاسو
بعضونوروباندي همدارنګه بيانوي خداى ﷻ تاسولره اوخداى
عالم دى اوهغه دحکمت څښتن دى. اوهغه وخت چي ورسېږي هلک
له تاسوڅخه بلوغ ته نوغواړي دي اجازه لكه چي اجازه به غوښ
هغوخلګوچې پخواتردوى ؤ همدارنګه بيانوي خداى ﷻ تاسو
اياتونه خپل اوخداى ﷻ عالم دى اودحکمت خاوند دى.

له حضرت ابن عباس رضى الله تعالى عنهماڅخه روايت دي چ
يووخت نبى کريم صلى الله تعالى عليه واله وسلم يوانصاري هلک
دحضرت عمر رضى الله تعالى عنه درابللولپاره دغرمې په وخت ک
ورولیږی ، حضرت عمر رضى الله تعالى عنه ويده ؤ، هلک ب
اجازې دهغه رضى الله تعالى عنه کورته ورننوتى ، اوهغه ئې له خو
راپورته کړ ، دحضرت عمر رضى الله تعالى عنه جامې لږ سورى د
اونرمې شوې وې نودهغه رضى الله تعالى عنه په زړه کي داخې
پيداشو چي كاشكي ددغه دراتلو اوتلو لپاره هم يوحكم نازل شو
واى له هغه وروسته حضرت عمر رضى الله تعالى عنه د نبى کر
صلى الله تعالى عليه واله وسلم په خدمت کي حاضرشو ، نو نب
کريم صلى الله تعالى عليه واله وسلم دغه اية مبارک ور واوراود
ددغه اية دشان نزول په باره کي دغه روايت راغلى دي.

يواځيتوب اودهغه ضرورت

انسان په هر حال کي چي وي انسان دي ، څنګه چي هغه له خپلو
همځولو سره له کښيناستوخونداخلي اوآرامي محسوسوي ،همهغه
رنګه کله هغه په يواځيتوب کي دځان اوروح ارامي پيداکوي
اوضروري ده چي هغه ديواځيتوب هم سم وخت سم ماحول اوسمه
فضاولري څرنګه چي په شپه اوورځ کي دهغه لپاره دغه رنګه وختونه
شته. په تيرشوي اية کي چي قرآن کريم دوختونوپه اړوندلارښوونه
کړې ده چي خيال ساتل ئي ضروري دي.

موروي اوکه پلار ،زوى وي اوکه لور، ورروى اوکه خور لنډه داچي
هيڅ يوخپل هم دانه خوښوي چي څوک دي دهغه دتنهائي په وخت کي
مداخله وکړي . هيڅ يونيک اخلاقه انسان دخپلودوستانو
خپلوانواوخدمتګارانوترمخ دجماع کولو په څيرکاردترسره کولو
جرأت نشي کولاى ، اونه ورته خپل شرم اوحياددې اجازه ورکوي ،
خودويديدلو پروخت په عام ډول خلک خپلي جامي باسي اوبياويده
کيږي په خاص ډول په هغوهيوادنواوسيموکي چي ګرمي زياته وي
دجامواېستل ضروري وي ، كله دخوب په وخت کي جامې دستر
ترځايوپورته كيږي اوهغه ځايونه كېداى شي ښكاره شي چي په
ويښه ئي هيڅ څوک دښكاره كولوجرئت نه شي كولاى ، نوځکه په
دغوخاصو وختوکي راتلونكي ته عقلاً هم پكاردي چي احتياط
وکړي ، دعاموتلونكواوراتلونكو، عاقل ، اوبالغ اوازادوحكم

مخکې تېرشوی دی چې کله کورته ورځې نواجازه دی واخلي اوبیادي ورشي.

په دغه کورکي که ښځې ژوندکوي اوکه نارینه ،ورننوتونکي هم که ښځه وي که نارینه ، دغه حکم دټولو لپاره عام دي اجازه اخستل واجب اوسلام ویل سنت ګڼل شوي دي .داجازې اخستلو هغه حکمونه چې تېر شول هغه دلري یاپه کورنۍ کې دنه داخلوخلکولپاره ؤ، مګر په دغه تیرشوی اية کي له یوبل څخه داجازې اخستلودحکمونوبیان شوی دی چې تړاووېې له هغوخپلوانواومحارموسره دی چې عادةً په یوکورکي اوسېږي اوهر وخت سره ګرزي راګرزي ، او یوبل ته بې له څه خنډه ورځې اوراځې اوپه ګډه سره دانساني ضرورتونودپوره کولو لپاره کله ضروري هم وي ، اوله کورڅخه بندکړي شوي نه وي اوله دوی څخه دښځوپرده هم دومره ژوره نه وي ددغه رنګه خلکولپاره کورته دننوتلو پروخت حکم صرف دادی چې کوروال دي

له خپل راتګ څخه خبروي یادي کم ترکمه دقدموڅخه دومره اواز (ډب ،ډب) جوړوي چې کوروال وپوهیږي چې څوک راروان دی اویادي ټوخی وکړي.

داجازې اخستل ددغه رنګه خپلوانولپاره واجب نه ، بلکه مستحب دی چې پرینبودل ئې مکروه تنزیهې دی . خودغه رنګه په خپلوۍ اوګډ ژوندانه کي هم کله دکور یوغړی وغواړي چې په تنهايي کي پاته شي ، نودکوردبل غړی په بې اجازې ورتللوسره هغه ته تکلیف

رسیږي اوکله خودجنجال سبب هم ګرزي ، نوځکه غواړو ددغه بې ځایه مداخلې دمخنیوي لپاره دغه حکمونه بیان کړو.

په کورکي دداخلي ارامي پرځای کول :

هغه کوچنیان هلکان چې لاوخت دبلوغ ته نه وي رسیدلي اوعادةً ورڅخه پرده هم نه کول کیږي ، اوبې ضرورته په کورکي اخواديخواچکر لګوي هغه که دخپل کوروي که دبل چادکور ، خپل اولاد وي اوکه خوریاوروروي اوآن له مینځې ، غلام ، مزدور یاخدمتګارڅخه هم خلک خاص احتیاط نه کوي ځکه چې وایي داهمیشه زموږ په خدمت کي وي ، دغه حرکتونه له کورنیواخلاقو سره په ټکر کي دي ، دهیڅ یوچاړزه هم دانه غواړي چې هغه دي ویده وي اویوهلک یانجلۍ دي بې اجازې اوبې خبرتیاورننوزي ، ځکه ډیرځله په داسی یوحالت کي وي چې په ښکاره کولو ئي شرمیږي ، اوکه بالفرض په دغسي حالت کي هم نه وي نوکم ترکمه په دي سره خودهغه ارامي اویواځیتوب ته حتماً تاوان رسیږي ، نوله دې خاطره دغه ایتونه په خاص ډول داجازې اخستلوپه حکمونوکي راغلی دي چې په دغودروختوکي دي څوک چاته بغیر له اجازې نه ورځې ، دغه حکم دهغوکورلپاره دي چې سرای یاچهاردیوالي یوه وي خودرې یاڅلور کورنۍ پکي په جلاجلاکمروکي ژوند کوي دسرای دروازه هم یوه وي ، تاسوښه فکر وکړئ په اسلامي شریعت کي دمسلمانانودکورني ژوندبندوبست په څومره ښه اوپوره ډول شوی دی.هغه درې وختونه دادي:

(۱) دسهارترلمانځه مخکې
(۲) دغرمې دخوب پروخت
(۳) وروسته دماخوستن له لمانځه څخه چې خلک له کاروڅخه خلاص شي اوويده کيږي. عادةً په عام ډول دغه درې وختونه دارام کولواوتنهائي دي اوپه دغووختونوکي هر انسان بايدازاداوبې ويرې وي اوکله ، کله په دغووختوکي انسان له خپلې ميرمنې سره بې له څه وېرې(چې ځوک به دلته راځي) په اختلاط بوخت وي ، نوله دې خاطره پاک خداى ﷻ دانسانې ضرورتونوته په کتوسره داسې وفرمايل : چې اى دايمان خاوندانو، تاسو ټول خپلوان ، آن هرپوه اوفکر لرونکي ، باشعوره نابالغ ماشومان اوخدمتګاران هم په دې پوه کړئ چې په دغووختونوکي چاته په پټه خوله ياپټ پټ مه ورځئ ، ماشومان تل هغه څه کوي په څه چې عادت شوي وي ، دوې اجازه پېژني هم نه چې دالاڅه شي دي ، نوځکه تاسو هغوته بايدوروښياست چې په دغودرو وختوکي دنوروکورونه خودى دنوروخوپخپل کورکي هم هغوکمروته بې اجازې مه ورننوزئ چې هلته ځوک اوسيږي.

يوه پوښتنه اودهغې ځواب

دلته يوه پوښتنه پيداکيږي چې په دغه اية کي چې بالغانوسړواوښځوته داجازې اخستلو حکم شوي دى داخوپرځاى اوسم اومناسب هم ښکاري ، مګر نابالغ ماشومان چې دهيڅ يوشرعي حکم مکلف هم نه دى ، دهغوددغه حکم پابند ګرزول ظاهراً

فقهي له اصولوڅخه خلاف معلوميږي نوترديې له مخه چې
اسودهغه په ځواب پوه شئ ، په دغوځوخبروځاڼ پوهول پکاردي
چې اولاد له انسان سره دپاک خداى ﷻ يوامانت دى ، داولادپه
رخه کي په موراوپلاباندى ډيري شرعي ، اخلاقي اوقانوني
مواري شته ، داسلام غوښتنه داده چې له همدې لومړي،ورځوڅخه
په انسان کي ددغوزمواريواحساس اوشعور ژوندى وساتل شي ،
وهغه بيادغوزمواريوپرځان منلواوعملى کولوکوشش وکړي ،
رنګه چې اسلام دموراوپلار دحقونويادونه دالله ﷻ
حقونوترڅنګ په تاکيدسره کړي ده ، همهغه رنګه پرموراوپلار
اندي هم شريعت ځوحقونه لازم کړي دى چې له دغې واقعي څخه به
علوم شي. يوچاخپل زوى روان کړ اوحضرت عمرفاروق رضى الله
عالى عنه ته ئي وروست اوهغه رضى الله تعالى عنه ته ئي وويل چې
ازمازوي زما نافرمانى کوي ، حضرت عمر رضى الله تعالى عنه
لک ته وويل چې ته له خدايه ﷻ څخه نه ډاريږي چې دخپل پلار
افرماني کوي ؟ اوله دې څخه وروسته ئي دپلارحقونه پوره پوره
رته بيان کړل ، هلک وويل : اى اميرالمؤمنينه ! ايادزوى هم
رپلارباندي څه حق شته کنه ؟ حضرت عمر رضى الله تعالى عنه
رته وفرمايل: چې هو ! ولې نشته ؟ پرپلارباندي لومړي حق دادي
چې ځان ته يوه داسې ميرمن خوښه کړي چې دصورت اوسيرت له
مخې ډيره ښه وي ، اوډيرښه اخلاق ولري ، له يوې داسې ښځې سره
ي واده نه کوي چې ښه والى اوبدوالى ئي ورته معلوم نه وي ،

ترخوچې اولادونه ئي دخپلې مور په وجه له ذلت اورسوائي سره لا[...]
اوګریوان نه شي ، بیاچې کله الله ﷻ اولادورکړي نوپرهغه باند[...]
بایدسم نوم کښېږدي ، کله چې هغه دومره شوچې علم زده کړ[...]
نودالله ﷻ دکتاب (قرآن کریم) تعلیم بایدورته ورکړي ، هلک[...]
ددغوخبروتراوریدلووروسته وویل: زه په خدای ﷻ قسم کوم چې[...]
زماپلارزمادمور سم انتخاب کړي دي ، نه ئي پرماسم نوم ایښی دی
اونه ئی راته دقرآن کریم تعلیم را،کړي دی ، نوحضرت عمر رضی ال[...]
تعالی عنه دهغه پلارته مخاطب شو اووئي فرمایل : چې ته وائ[...]
زمازوی زمانافرمانی کوي ، مخته تردې چې هغه ستانافرمانی وکړ[...]
تادهغه حق ضائع کړی دی ، ځه له مخه مې تیرشه !.

له حدیثونوڅخه معلومېږي چې له میرمني سره دتړاوپروخت ب[...]
انسان کي صرف دنفسی خواهش دپوره والي جذبه باید نه وی ځک[...]
چې دایونفسیاتي حقیقت دی چې که له میرمني سره دنژدیکت ب[...]
وخت په انسان کي هر ډول جذبه وي نوپه اولاد باندی حتماً دهغ[...]
اثرلوېږي . لکه دنفس دارامولوتر څنګ دنیک اوصالح اولا[...]
غوښتنه هم پکار ده اوددې لپاره په زړه کي بایدیوه آرزواوتلوسه ه[...]
بایدموجوده وي ، دجنسي جذبودسختی پروخت دپاک خدای ﷻ
یادول اوهغه ته دعاکول هیڅ سخت کارنه دی ددې تړاوو له نیت
اوارادي سره دی ،مسلمان هغه دی چې په دغه وخت کي هم خپل
خدای ﷻ له یاده ونه باسي ، اوپه شروع کي لادخپل ځان اوخپل
اولادلپاره دعاء وکړي ، نوپه هغه بیاشیطان هم هغومزه نشي برلاس[...]

کیدای چې هغه بالکل له سمي لاري څخه واوړي بلکه پخپله هغه ته
اودهغه اولادته دپاک خدای ﷻ له لوري حفاظت حاصلیږي دبخاري
شریفي په یوحدیث کي راغلي دي : (لَمْ يَضُرُّهُ الشَّيْطَانُ وَلَمْ يُسَلِّطْهُ
)یعني یوڅوک چې له اول نه په دعاکولوشروع کوي ، دهغه اولادته
به شیطان ضررنه رسوي ، اوپرهغه به دشیطان تسلط نوي هغه ماشوم
به په داسي حال کي دنیاته راځي چې دصلاح اوتقوی ملغلري به ئي له
ځان سره راوړي وي ، دغه رنګه داولاد دروزني په اړه هم حدیثونه
راغلي دي ، امام ترمذي رحمة الله علیه له حضرت ایوب بن موسی
رضی الله تعالی عنه څخه مرسلاً روایت کوي چې: نبی کریم صلی
الله تعالی علیه واله وسلم وفرمایل : چې دپلارله طرفه تربولوښه
عطیه نیک اخلاق دي ، دغه رنګه دترمذي شریفي په بل حدیث کي
راغلي دي چې که یوانسان خپل زوی ته ادب ورزده کوي هغه دده
لپاره په څوڅو چنده تردې بهتره دی چې یوصاع (۲۳۴ تولی) خیرات
کړي. له دغوحدیثونواوواقعوڅخه معلومیږي چې اسلامي شریعت
پرموراوپلاربانذی دماشومانودتعلیم په برخه کي ډېرزوراچولي دي
، اسلام غواړي چې په انسان کي له هغه اولي ورځې ددیني اودنیوي
مسئولیتونو شعور اوفکر وروزل شي اوموراوپلار
دخپلوبچیانوروزنه داسلام په رڼاکي ترسره کړي. دپورتني پوښتنې
ځواب دادی چې په دغه ایة مبارک کي اصل خطاب
بالغانوسړواوښځوته دی لکه چې په قرآن کریم کي ډېرځایه خطاب
سړو(نارینه ؤ) ته شوي وي بغیرله څوخاصومسئلو،خوښځې هم

ضمناً په هغوکي ورداخلي وي ، دلته خطاب بالغانوته شويدي چې
هغوی دی دخپلو وړوماشومانو تعليم اوتربيې ته ډېره توجه وکړي ،
اوورته دوي وايې چې په دغودرووختوکي دبل چاکوټې ته بې اجازې
مه ورننوزئ ، په واروارله واقعواوتجربوڅخه ثابته شوې ده چې
دماشومانودتعليم اوتربيې (ښووني اوروزنې) بهترين وخت اوزمانه
دهغه کم عمري اولاشعوری شپې اوورځې دی په کچه عمرکي چې
کومې خبرې دماشومانوپه ذهن کي قرار نيسي هغه دشعوراوعقل له
پخيدلو ورستوهيڅکله هم نشي هيريدلای.

دجناح دلفظ څېړنه

په ذکرشوي اية شريف کي دغه الفاظ راغلي دي ، چې له
دغودرووختوڅخه بغير په نوروختوکي که تاسو بغير له اجازې
وګرزئ راوګرزئ نوپه تاسو باندي (جُنَاحٌ) نشته . که څه هم دلته
دجناح لفظ راغلی دی چې عموماً دګناه په معنی استعماليږي ، مګر
کله بيامطلقاً دحرج (تکليف) اومذائقې په معنی راځي ، دلته
د(لاجناح) دلفظ معنی داده چې تاسولره څه مذائقه اوتنګي نشته په
دې سره دمکلف اوګناهګارکيدلوشبهه هم له مينځه ځي.

دماشومانودډارولوشرعي اړخ

پردغودرووختوسربيره په کوم بل وخت کي نابالغ ماشومان
اودکورخدمتګاران دسړي اوښځې کوټې (کمرې)
اويادهغوديواخيوالي ځايوته ورتلای شي ، که په دغه صورة کي
تاسو په کوم نامناسب حالت کي واست ، شرمګاه موبربنډۀ

اويا پخپل منځ کي په جنسي کاروبارلګياواست اوهغه درباندی بې
اجازې راغلی ، نوتاسو حق نه لرئ چې هغه ووېروئ اويايې
سزاورکړئ ځکه چې داستاسوخپله ناپوهي اوبداخلاقي ده چې دعام
کاروبار، ګرزيدوراګرزيدوپروخت موپه يوداسې کارلاس پورې
کړي دی . داچې دغه وختونه عموماً ازادوي نوله دې خاطره په
هغوکي دشرم دځايونو پټول اودهغوپوره تحفظ کول ستاسو
(مشرانو،مور،پلار) ديني اواخلاقي فريضه ده . خوکه دوي په
دغودروذکرشوو وختوکي ستاسوبې اجازې سره له دې چې
تاسودوی په دې پوه کړی هم وي چې دبل چاداستوګنې کمروته په
دغودرووختوکي مه ورځئ بياهم درشي نوبيادوي خطاء کاران دي ،
اوسزاورکولای شئ ؛ اوکه تاسو خپلو ماشومانواوخدمتګارانوته
دغه نيک خوی ښوولي نه وي نوبياتاسوګنهګارایاست.
حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنهمافرمايي: چې ماخپله مينځه
هم په دې پابنده کړي ده چې په دغودرووختوکي دي ماته نه راځي.

د ((عورات)) دلفظ څېړنه :

په اية شريف کي فرمايل شوي :(ثَلاثُ عَوْرَاتٍ لَكُمْ) درې وختونه
ستاسولپاره عورت دي. په پښتوژبه کي خودعورت دلفظ استعمال
نشته مګر په عربي ژبه کي يې معنی دپردې اوخطرې دځای دی ،
اودغه لفظ دهغه ځای لپاره هم استعماليږي چې لوڅول ئې دانسان
لپاره دشرم باعث وي ، (له نامه لاندې دزنګنوترسترګوپوري) مطلب
دادی چې په دغودروحالاتوکي خلک تنهاوي اويا په عام ډول له

خپلو میرمنوسره په داسي څه لګیاوي چې
دکوردماشومانواوخدمتګارانو هغوی ته په ناڅاپي ډول ورتلل
نامناسب اونالائق ګڼل کیږي ، لهذادخپلواولادونوروزنه همداسي
وکړئ چې په دغودرووختونوکي چې کله تاسو دچادخلوت ځایونوته
ورځئ نولومړی له هغوڅخه اجازه اخلئ اوهمداسي په پټه خوله
اوناڅاپه مه ورننوزئ کیدای شي چې په کوټه (کمره) یاکورکي څوک
وی اوورسره هیڅ دچادراتلو فکر نشته دپردې په حالت کي نه وي ،
چې په هغه صورة کي به بیاستاسودغه ورننوتل هم ستاسو لپاره
اوهم ددوي لپاره باعث دخجالت وګرزي په هغوشیانوکي چې
خلکوته ډیرډیرپیښیږي ، اوپه هغوکي چې ځان ساتل ورڅخه ګران
وي شریعت داسانتیالپاره ، لاره پیداکوي دمثال په ډول پشوډیره
کوروته ورځي ، اوځیني خلک یي ساتي هم اوکله کله خودخوراک
اوڅښاک په شیانوکي خوله هم اچوي ، نوکه شریعت هغه شیان چې
هغې پکي خوله اچولې ده حرام یامرداربللي وای نوله دې څخه به
یقیناً خلک ډیرضررمندشوي وای ، له همدې خاطره شریعت
څوداسانتیاصورتونه خلکو ته وړاندي کړي دي ، چې له هغوڅخه
دغه دماشومانواوخدمتګارانومسئله هم ده ، چې که دوی دهروار
ورتلولپاره اجازه غواړي نودابه دهغولپاره ډیرګران اوتکلیف جن
کاروي.

یادونه : په دې بایدځان سِره پوه کړو چې داسانتیاؤ
ددغوصورتونودراایستلو کارصرف په مجتهدینوعلماؤ پوري

خاص دي ، هر چاته په دغه باب کي داجتهاداجازه نشته ، دمثال په
ډول یوڅوک به دادلیل وړاندي کوي چي سپی هم خلک ساتي ،
اوهغه هم په کورکي اوسیږي اودخوراک په لوښوکي خوله اچوي ،
نودهغه پسخورده باید ممنوع نه وای ، نودغه رنګه قیاس به قطعاً بې
ځایه اوغلط وي ځکه چې شریعت چاته دسپي دساتلو اجازه نه ده
ورکړې.

دغودرو وختوته تخصیص نه دي ورکړل شوی :

په دې خبره فقهاؤ صراحة کړي دي چې دغودروختوته تخصیص نه
دی ورکړ شوي ، کله چې قرآن کریم نازیلیدی نوعام عادة په
دغودرووختوکي دارام کولو ؤ ، نوکه په نوروهیوادوکي دارام کولو
وختونه له د ې څخه بدل ؤ، نوهلته بیاحکم دهغو درووختونولپاره
دي ، اوله هغه وخت سره سم به ماشومانوته روزنه ورکوي اودلته
دخوب اوتخلیي وختونه نه دي تاکل شوي بلکه په ایت شریف کي
دعام عادة لحاظ اورعایت ساتل شوي دی اوددغه عادة ګټه
هغوهیوادوته رسیږي کوم چې (۲۴) ساعته یاتردي لږ څه زیاته ورځ
یاشپه ولري ؛ څوپه نوروهیوادولکه (ګرین لینډ) green land
اوایسلنډ(ice land)چې ورځ یې هم درې میاشتي وي اوشپه ئې هم
درې میاشتي وي دهرڅه لپاره تاکلي وختونه وي اودلمانځه
اودروژې دوخت په معلومولوکي هم له ساعتونوڅخه کار اخستل
کیږي ، نوبناءً هلته چې له حال سره سم دخوب کوم وختونه تاکل
شوي دی ،په هغه حساب دي ماشومانو اوخدمتګارانوته روزنه

ورکړله شي ،چې له اسلامي قانون سره سم دي په معلوموو ختونوکي
په ټاکل شوي ډول دننوتلو لپاره اجازه واخلي په ذکر شوؤ مسئلوکي
دکوروالولپاره خاص رعايت په نظرکي نيول شوی دی ، دمثال په
ډول يوچاپه کمره کي اچول شوي پرده پورته کړي ده اوپخپله ترهغې
له مخه ناست دی ياپه خلاص دالان کي بغير له حجابه ناست ياولاړ
دی ، نوکوروالوته دنورزيات اجازي اخستلو ضرورت نشته ، خوکه
هغه پرده اچولې وه اوپايي دروازه بنده کړې وه نوبيادکور
دخلکولپاره هم ضروري ده چي دورتلو پروخت اجازه وغواړي ،
اوهغه چاته چې دغه پرده جوړونکی په خاص ډول په هروخت کي
دتلو راتلو اجازه ورکړي وي چې ته هر وخت بې له اجازې
اوخبرتيادلته ګرزه اوراګرزه نوهغه له دې څخه وتلی دی.

تفسيرابن کثيردحضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنهماروايت
دابن ابی حاتم په سندنقل کړي دی چې حضرت عبدالله ابن عباس
رضی الله تعالی عنهماوفرمايل : چې دري داسي ايتونه دي چې
خلکووربانذی عمل کول پريښي دي ، يوله هغوڅخه داجازې
اخستلوايت دي ، دوهم د(إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ) اية دي چې
پکي فرمايل شوي دي چې ترټولوعزتمن شخص هغه دي کوم چې
ترټولو پرهيزګاروي مګر نن سباخلک هغه څوک عزتمن بولي چې
ورسره څه زر،روپۍ يادنياوي که څه هم هغه له حقيقي صفتوڅخه په
پوره ډول بې برخي وي ، دريیم د(وَإِذَا حَضَرَ الْقِسْمَةَ أُولُوا الْقُرْبَىٰ
الاية ايت دي چې پکي دميراث ويشلوپروخت پکي وارثانوته

لاربښوونه شوې ده چې که دميراث دمال دتقسيم پروخت داسې
يوڅوک هم له خپلوانوڅخه موجودوي چې دميراث دقانون له مخې
هغه په ميراث کي هيڅ حق نه لري هغه ته هم څه ورکړئ ترڅوهغه زړه
ماتی نه شي—

دکتاب خلاصه:

(۱) که تاسويوچاته ورځئ نودهغه کمرې ياکورته بې اجازې(بې کړپ
وکړوپه) مه ننوزئ بلکه په تاسو لازمه ده چې اجازه واخلئ.

(۲) که تاسو دهغه دروازه ټکوئ(ددروازې ځنځر شرنګوئ) نوداکار
په اسلامي طريقه وکړئ.

(۳) داجازې اسلامي طريقه داده چې له دروازې سره نژدې په څنګ
کي ودريږې اووائي چې اسلام عليکم ورحمة الله وبرکاته اياجازه
ده چې درشم ؟.

(۴) که جواب درنه کړل شو نوپه دوهم اودریيم وارهم په همدغه ډول
سلام ويل تکرارکړئ ، بياکه تاسو پوهيدلاست چې داوخت
دکورخاونديا هغه څوک چې تاسوئي غواړئ عذر لري اودملاقات
امکان نشته نوبېرته واپس لاړشئ ،اوداهيڅکله هم بده خبره مه بولئ

(۵)داجازې اخستلو پروخت تاسوته پکارده چې ددروازې يوطرفته
ودريږئ ، اوداسي ځای بايدونه دريږئ چې له هغه ځايه دکور داخل
نه ښکاريږي ،خوکه هغه څوک چې تاسو ورڅخه اجازه اخلئ هغه
مخامخ ؤ نوتاسو ورباندي سلام ووايئ اودورتلو اجازه ورڅخه
واخلئ.

(۶) دکورداخلي برخې ته پټ پټ ورکتل عيب دي نبی کريم صلی الله تعالی عليه واله وسلم ډيرپه کلکه خپل امت له دي څخه منع کړي دي ،

(۷) دکورخاوندپه دي مه مجبورکوئ چې خامخابايدراووزي.

(۸)خپل کورته هم په سلام ويلو اوغږ کولوسره ورځئ کله چې کورته ورسيږئ نودکورپه خلکو سلام اچوئ .

(۹) که دکورله داخل څخه څوک له تاسو پوښتنه وکړي چې څوک ياست ؟نوپه ځواب کي خپل تول نوم ورته وښياست ، داسی مه ورته واياست چې ((زه يم)) ځکه چې په کورکي دننه خلک څه پوهيږي چې((زه)) څوک دي((زه)) خونوم نه بلکه ضميردي.

(۱۰) نبی کريم صلی الله تعالی عليه واله وسلم يوصحابي رضی الله تعالی عنه ته هدايت ورکړچي که ته يوچاته ورتلي نوځوورځي په منځ کي ورکوه ځکه چې په دې سره محبت زياتيږي.

(۱۱) چاته په داسي وخت کي مه ورځه چې دهغه دډوډۍ ياناشتې کولو وخت وي ، اوکه ضرورت ؤ نوبياپخپل کورياځاى کي ډوډۍ خورئ اوبياهلته ورځئ که تاسو پخپل ځاى ډوډۍ خوړلوته پاته نشواست نوبياهلته درواغ مه وياست چې ومي خوړله نبی کريم صلی الله تعالی عليه واله وسلم فرمايي : درواغ اولوږه مه سره يوځاى کوئ ، دنه خوړلولپاره کوم بل عذروړاندي کړئ.

(۱۲) که تاسوپه بل ښارکي چاته ورځئ نوتروړتلوله مخه ئي خبرکړئ ، نبی کريم صلی الله تعالی عليه واله وسلم په شپه کي چاته

دورتلوسخته منعه کړې ده په شپه کي بې خبرتياخپل کورته دورتلو اجازه هم نشته.

(۱۳)کله چې تاسوکورته ننوزئ نوسلام اچوئ ، دمصافحي اومعانقي (حال پوښتلو) لپاره ستاسو مخته راتلل دکوردخاوندکاردی که هغه مومخته رانغلی اوياپه کوم کارلګياؤنوتاسو هغه له کاره مه باسئ.

(۱۴)که ددرس يانصيحت محفل ته ورغلاست اويامسجدته ورغلاست چې هلته خلک په نفلو، وظيفو،تسبيحاتواوداسي نورڅه لګياوو، نوتاسو ورته سلام مه اچوئ.

(۱۵)کله چې دننه داخل شئ نوپرلوړځاى مه کښينئ په ساده اوعام ځاى کښينئ اودکوردخاونددکښيناستلوپرځاى هم مه کښينئ ، داپيادکوردخاوندکاردی چې تاسوته خپل ځاى درخلاصوي اوکه کوم بل مناسب ځاى درته ښيئ.

(۱۶)که تاته دخوراک لپاره څه راوړل شي نوترټولوړومبی مه وړاندي کيږه.

(۱۷) په قرآن کريم کي سړواوښځو دواړوته لارښوونه شوي ده چې خپل نظرونه ټيټ ساتئ نوتاسو هم په هر ځاى کي چې ياست پردغه حکم عمل کوئ اوهري خواته نظر مه اچوئ.

(۱۸) نبی کريم صلی الله تعالی عليه واله وسلم په هرځاى کي له ډيرغوراوسنجيده ګي څخه دکاراخيستلو سپارښتنه(هدايت) کړي دی کله چې له چاسره مخ کيږئ نوپه خپلو خبروکي نرمي کوئ ، او له

پوره سنجش څخه کاروا خلئ ، بې اجازې هیڅ یوشي مه څیړئ اومه
ئي اوړدوئ ، چاته طمعه اوهیله مه کوئ.

(۱۹) دیروخت مه کښینئ اواوږده ،اوږده بحثونه هم مه کوئ ، کله
چې موکارخلاص شو سمدستي اجازه اخلئ ، خوکه دکورخاوند ډیر
ټینګ شو ، نوبیاچې له تاسوسره څومره وخت وي هغومره ورسره
پاتي شئ.

(۲۰) په کارده چې ماشومانوته په اسلامي طریقه روزنه ورکړله شي
،ترڅوله اولي ورځې له نیکواوښوکارونوسره عادت ونیسي.

(۲۱) کله چې تاسویوچاته ورشئ نوپه سلام ویلو سره یاوررومخامخ
کیدلو سره دوی له خپل راتګ څخه خبرکړئ ، اوبغیر ددوي له
خبرتیاداسي ځای مه کښینئ چې دوی درڅخه خبرنه وي ،ځکه چې
شایددوي پخپلو منځوکي داسي خبري کوي چې نه غواړي له
هغوڅخه تاسي خبرشئ ، اوبغیردهغوله خوښي ددوی په
پټوخبروځان خبرول رواکارنه دی ، بلکه که کله تاسو داسی پوه شئ
چې دغه خلک له ماڅخه نه دي خبرچې زه دلته یم نوځکه دغه رنګه
خبري کوي نوډیرژرله دوی څخه لیري شئ ، اویادوی پرتاداخیال
کړي ؤ چې ته ویده ئي ، نوځکه دوي پټې خبري کوي ، نوته ورته
ډیرژرخپل ویښوالی ظاهرکړه.

(۲۲) که کله تاسوچاته دڅه ویلو یالیدوکتولپاره ورشئ نوهغه له څه
وجې څه فرصت ونه لري یعنې یادقرآن تلاوة کوي ، یاوظیفه کوي ،
یاپه خپله خلوتګاه کي دڅه په لیکلو لګیاوي ، یائي دویده

کیدولپاره تیاري نیولي وي ، اویاله نښونښانوڅخه معلومیږي چې
که هغه ته ورشئ غالباً دادهغه دپریشانی سبب ګرزي ، یائي په
کارکي خنډاوخنډجوړیږي ، نوپه دغسی حالت کي مه هغه ته سلام
اچوئ مه خبري ورسره کوئ ، بلکه یاورڅخه بیرته لاړشئ اوکه
موکارډیرضروري (عاجل) ؤ نوترهرڅه له مخه ورته ووایاست چې زه
نویوه ډیره ضروري خبره لرم ، اویاترهغه وخته ورته انتظاروکړئ
چې هغه فرصت پیداکوي ،.

(۲۳) که تاسو دچاپه انتظارکښینئ ، نوپه داسي ډول اوداسي وخت
کي مه کښینئ چې هغه ته دامعلومه شي چې ته زماپه انتظارکي
ناست يې ، بلکه له هغه څخه لیري اوپټ کښینه.

(۲۴) څوک چې میلمستیاته روان وي ،یائي غوښتی وي له هغه سره
ترهغه ځایه مه ځه ، ځکه چې دکورخاوندشرمیږي چې تاپه
میلمستیاکي دګډون لپاره نه وګرزوي ، خوپه زړه کي دننه یې داسي
نه وي خوښه.

(۲۵) له داسي یوچاسره چې پخوامو پیژانده خوډیره زمانه موورسره
نه وي لیدلي ، یاداسي چاسره چې په لومړي واریې شناخته کوئ
دلیدوپروخت ترسلام وروسته سمدستي خپل نوم وروښایئ ، اوځان
وروپیژنئ ، ځکه چې کله وخت تاسو پوره یقین لرئ چې هغه
ماپیژني خومقابل جانب موپه پریشاني اوتشویش کي وي ، اوپه دي
هم شرمیږي چې دنامه پوښتنه درڅخه کوي.

(۲۶) کله چې تاسو څوک وینئ چې ډیرتیزروان دي ،نوپه لاره کې ورته دمصافحې (سترې مشي) لپاره مه دریږئ ، شاید دهغه به مخکې ، ضروري اوسخت کارپروت وي ، اودغه رنګه ورسره به ولاړه خبرې هم مه کوئ.

(۲۷) کله یوڅوک داسې کوي چې مجلس ته ورشي نوله هرهر سړي سره جلاجلا په لاس سترې مشي کوي حال داچې دمجلس خلک ټول هم نه پیژني ، چې په دې سره ډیروخت لګیږي ، ترڅوچې هغه له دې کاره خلاصیږي ترهغه وخته پورې ټول مجلس مشغول وي . مناسب داده چې له هغه چاسره سترې مشه وکړې چې ورسره کارئې وي ، خوکه ټول شناخته ګان وي بیاپکې څه منعه نشته.

(۲۸)له چاسره چې ژور شناخت نه لرئ اودکورپه چاروکې دغیدل ورته تکلیف کیږي ،له هغوڅخه دکوروالوپوښتنه مه کوئ اودهغوحال مه ترې اخلئ.

(۲۹) کله چې تاسودشپې له خواناوخته کورته راځئ ، نو دهغوخلکو ډیرخیال ساتئ چې ویده دي ،څکه چې دمشکوة شریف له حدیث څخه ثابته شوې ده چې کله به له نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم سره میلمهٔ او نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم به ماخوستن ناوخته کورته راتلی نوپه دغه حالت کې به دمیلمانه ویښ پاته کیدو اوویده کیدلو دواړه احتمالهٔ ، نوڅکه به نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم په دومره سوکه اوازسلام وایو چې که به میلمه ویښ ؤ نوبه ئې اوریدلای شوای ، اوکه به ویده ؤ نو په دې سره

به نه ویښیدی ،دبرات په شپه نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم په دې خیال چې حضرت عائشه رضی الله تعالی عنهاویده ده له خپل بسترڅخه پورته شو، اوپه دې وجه چې عائشه رضی الله تعالی عنهاپه تکلیف نشي سوکه یې خپلې مبارکې چوټې په پښوکړې اوسوکه یې څنځیر خلاص کړاوبهرهدیرې ته ولاړې اوسوکه یې هغه څنځیر بیرته بندکړ، هغه مبارک څومره ډیرخیال ساتی چې هیڅ داسې اواز پیدانشي چې له امله ئې ویده خلک راپوره ته شي اووېږي.

(۳۰) دداسې دووسړوپه منځ کې کښیناستل چې قصداً پورته ناست وي ، بغیرله اجازې روانه دي.

(۳۱) ددرس یانصیحت په مجلس (غونډه) کې چې هر ځای ،ځای درته پیداکیږي هم هلته کښینه دمخته تللوپه خاطر خلګ اخوادیخوامه پورې وهه څکه چې له حضرت جابر رضی الله تعالی عنه څخه روایت دي چې: موږبه کله نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم ته ورتللونوڅوک چې به کوم ځای ته ور ورسیدی نوهلته به کښیناستی.

(۳۲)کله چې دناروغ پوښتنې ته ورشې نوترډیره مه ورسره کښینئ څکه چې کله وخت دخلګوکښیناستل دناروغ په بل اړخ اوښتلو، ښنې غزولوخبروکولو کې تکلیف وي خوداهغه چاپاره نه دی چې یاخودناروغ خدمت کوي اویایې ناورغ په کښیناستلو خوشحاله کیږي.

(۳۳) دناروغ اودهغه دخپلوانوپه وړاندي داسي خبري مه کوئ چ
له ژونده نااميدي ورڅخه معلوميږي ، ځکه چې په دي سره ناخ
زړونه ماتيږي ، بلکه سنت طريقه داده چې دتسلي اوزړه اراموو
خبري کوئ ، چې انشاء الله داهرڅه تکليف به الله پاک ختم کړي.

(۳۴)څوک چې دسفرپه تياري مشغول وي له هغه سره بي وخته
يوځاي کيږئ ، اوکه ضرورت وي نوبيادومره اوږدي خبري ورسره
کوئ چې هغه ورڅخه تنګ شي يادهغوپه سبب دهغه په کارکي ځ
ځنډواقع شي ، خوڅوک چې له مسافرسره مرسته کوي ياورڅخ
اجازه اخلي هغه ورڅخه مستثنی دي.

(۳۵) که تاسو له چاسره کښيناستلاست نودومره به ورته نژدي نه
کښينئ چې دهغه زړه درڅخه ازارشي ، اونه به ورڅخه دومره ليري
کښينئ چې په خبرواونورڅه کي تکليف جوړ شي کله چې ته مشغول
انسان ته نژدي کښينې نوځير، ځيرمه ورته ګوره ، ځکه چې په دې
سره دهغه زړه تنګيږي.

(۳۶) کله چې تاسو چيري په ميلمستياولاړ شئ نوهغه ته دڅه
فرمايش مه ورکوئ ځکه چې کله هغه شي موجودوي اوکله نه وي
موجودنوکه موجودنه وي نوبياپه دي خبره دکوروال خجله کيږي.

(۳۷) کله چې تاته يوڅوک دڅه کاروائي نوحتماً هو،هو يانه ،نه
ورته لره ترڅودهغه زړه ډاډه شي اوداسی نه شي چې دويونکي خيال
داشي چې تاهرڅه واوريدل اوتاهيڅ نه وي اوريدلی اويادهغه خيال

داشي چې ته داکارکوي خوستايي کول منظور نه وي ، يعنی
دکولواراده يې نه لري.

(۳۸) کله چې څوک تاسوته غږيږي نوورته پوره متوجه اوسئ ځکه
چې ستاسو له نه توجه څخه دهغه زړه دردمند کيږي ، په خاص ډول په
هغوځايوکي چې دهغه ويناستادګټي لپاره وي ، اوياستاپوښتنې ته
ځواب وايي.

(۳۹) که تاسو له يوچاڅخه دخپل ديني يادنيوي ضرورت په باره کي
پوښتنه وکړه اوبياهغه له تاڅخه دڅه شي تحقيق وغوښتی ، نوکوږ
ووږ اوناخرګنده ځواب مه ورکوه ، ورته خپل غرض اومطلب صاف
صاف بيان کړه په تکليف سره دکناياتواواشاراتو بيانول دادب
خلاف اوسم کارنه ده.

(۴۰) پکارده چې هميشه صافی اوبی کمبوده ، بي زيادته خبري
وکړئ ، ستاسو وينابايددخلګودغوږونواوفکرونولپاره سخته
اوسنګينه نوي.

(۴۱) کله داسي خلک وي چې يوڅه خبري په ډيرتيز اولوړږغ کوي ،
اوڅه خبري بيادومره سو که کوي چې ياخوسړی تولي نه شي
اوريدلای اويائي بالکل نه شي اوريدلای ، په دغودواړوصورتوکي
ددی امکان شته چې اوريدونکي په غلط ډول پوه شي ، يادخبري په
کيفيت ، سراوپای بالکل پوه نشي ، نوپکاردي چې دخبروهره برخه
په ارام اوصاف اوازوويله شي.

(۴۲) پکارده چې دبل چاخبري په پوره غوراوفکر سره واوريدلې شي ، اوکه پکې څه شک پاته شي نوسم دستي ئې بايدله ويونکي څخه وپوښتي ، بغيرله دې چې ښه پوه شئ عمل مه کوئ ، ځکه چې کله په غلط فهمي عمل کولو څخه عمل کونکي ته ضرررسيږي ،.

(۴۳) که تاسو يوه خبره له چاڅخه پټه کوئ اوهغه هم دالته وي ، نوهغه ته په سترګويالاس دتلو اشاره مه کوئ ،ځکه چې هغه ته ناحقه شک پيداکيږي ، اوداهم هغه وخت چې ددغې خبرې کول په شريعت کې برابر وي ، اوکه برابر نه وي نوبياددغه رنګه خبروکول لويه ګناه ده.

(۴۴) که په يوه مجلس کې خاصه وينا روانه وي ، نونوي راتلونکي شخص ته پکارده چې له راتلو سره سم سلام واچوي اوخپل ځان ته په توجه سره دهغوی دکارمزاحم نه شي.

(۴۵) که تاسو چاته دکوم ضرورت دحل کولو لپاره ورځئ ، نوهرکله چې موموقع پيداکړه نوفوراً خپل عرض وړاندي کوئ ، اوانتظارمه کوئ ، کله وخت هغه دافکرکوي چې داحوال پرسې (پوښتنې) لپاره راغلی دی ، نه دکوم کارلپاره ، کله چې دکورخاوندبې فکره شی یاپه بل څه لګياشی ، اوبياتاسو ورته واياست چې زه خودفلاني کارلپاره راغلم ، نودابياددوي لپاره ډيرتکليف کيږي ، اوکله چې خبري ورسره کوئ نومخامخ ورته کښينئ اوخبری کوئ.

(۴۶) کله چې تاسو چاته داسی خبري کوئ چې دهغې ذکرمخکښته هم شوي وي ، نوددوهم وارپيش کولو پروخت هم پوره خبره

بايدوکړئ له نښانواوداسي نورڅه څخه کارمه اخلئ ځکه چې کيدای شي له مخاطب څخه پخوانۍ خبره هيره شوي وي ، ياله ديواره غلط پوه شي اويادنه پوهيدلو په وجه له پريشانۍ اوتشويش سره مخ شي

(۴۷) ځينې خلک داسي کوي چې دمخاطب له شاناست وي اوبياهغه ته ددې لپاره نعرې وهې چې هغه راته وګوري ، اوله ماسره خبري وکړي ؛ له دغه کار څخه انسان ډيرپه تکليف کيږي ، تردې ، دابهتره ده چې ورشي اومخاطب ته مخامخ کښيني اوخپل عرض ورته وړاندي کړي خوکه مخاطب مشغول وي نوبيابايدبغيرله ضرورته په مخامخ ډول هم ورسره خبري ونه کړلي شي اوښه لاره داده چې دهغه ترخلاصون پوري داسي ځای انتظاروشي چی هغه بالکل درباندي خبرنه شی ، ځکه له دې څخه دکور خاوندته تکليف رسيږي.

(۴۸) دبل چاخط چې له تاسره تعلق نه لري (يعنی تاته نه وي) مه ګوره ،کله کله خلک هغه وخت چې څوک چاته خط ليکي دخط ليکونکي ترڅنګ کښيني اودسترګوترچولو پټ پټ ورته ګوري ، نودپردي (امانت) خط کتل په حاضرانه اوغائبانه ډول دواړو حرام دي.

(۴۹) دغه رنګه که دچاپه مخکي کاغذونه يانورڅه ايښي وي ، نوهغه مه سره اړوئ اومه ئې ګورئ ، ځکه شايدهغه داونه غواړي چې تاسو يې کاغذ ونه وګورئ که څه هم پټ ئې نه وي درڅخه ايښي.

(۵۰) دهغواسبابو اوذرايعو له منځه وړل ډيرضروري دي - چې ورڅخه خلکوته ضرراوتکليف رسيږي ، شريعت دغه کارته

دحددرجه ورکړي ده ، چې دهیڅ یو چاکوم حرکت یاحالت به دبل
چالپاره دډیرکم تکلیف ، ضرر ، سختي ، تنګي ، سنګیني ، انقباض
، کراهیت ، تشویش ، پریشاني ، ویرې اوخجالت سبب نه ګرزي ، او
نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم په دې اړوند صرف په قول
اوعمل بسوالی نه دی کړی ، بلکه ځیني خدمتګاران ئې یي ددوي
دبې پروايي پروخت دملاقات پردغوادابو مجبوره کړی هم دي.
دشریعت مقصد دادی چې له یوانسان څخه بایدبل انسان ته هیڅ ډول
ضرراوتکلیف ونه رسیږي هغه که له مالي لارې وي، که له ځاني لارې
څخه وي اوکه دادابو اوتعظیم په لحاظ وي.

دسپیڅلې ټولني تعلیم

په تیرودرووختونو کي داجازي اخستلو پابندي دهرچالپاره لکه:
سړو،ښځو،هلکانو، نجونو، غلامانو، منیځو، اوداسي نورولپاره
عامه ده اودعبدالله بن عباس رضی الله تعالی عنهما اوډېرو نوروقول
هم دغه دی ، ځکه چې په خاصو وختوکي دهرچاداخیلیدل تکلیف
جوړونکی اودنه زغملو باعث ګرزي که څه هم هغه کوچنی هلک،
یانجلۍ وي ، ددې دوجوب علت دادی چې په دغودرووختونوکي
انسان غواړي چې یواځې شي اوهر څه چې غواړي په ازاداوارام زړه
یې ترسره کړي ، اوډېروختونه دچادورتلو دنه ډار په جه خلک په
خپلو شخصي ځایویاکوټوکي له خپلو میرمنوسره مشغول وي یابل
کوم خاص کارکوي اویايي دبې پروايي یاعذر په وجه جامې ایستلي
وي ، که خلک احتیاط وکړي اوداعادت جوړ کړي چې په

دغودرووختوکي هم دشرمګاه له لوڅولو ځان وساتي اوترهغه پوري
له میرمنوسره هم نه یوځای کیږي ترڅودخلکودورتلو ویره بالکل
ختمه شي ، نوپه دغه صورة کي بیادغه حکم نه دی چې خپل اولادونه
اوخدمتګاران په دغووختونو کي داجازي اخستلو پابندکړي اونه
پردوي ددغه حکم وجوب ثابتیدلای شي مګرداپه هر حال یوښه
اومستحب کارخامخادی ، خوکه په واړه نظر ورته وګورونوعموماً
پري عمل کول پریښودل شوی دی ، حضرت ابن عباس رضی الله
تعالی عنهماخوپه درو ایاتونو دعمل نه کولو افسوس په خپله دوره
یازمانه کي کړي ؤ ، مګرکه دغه زموږ اوستاسو زماني ته وکتل شي
، نوتاسو ته به معلومه شي چې دغه زمانه څومره له فتنوډکه ده ،
حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنهماخولادخیرالقرون (ترټولو
ښه زمانه) کي افسوس کاوو چې پکي دخلکو دژوندانه دپیل اوپای
مقصدپه اسلامي تعلیماتوعمل کول ؤ ، مګرنن صباځینې خلک
داسلام دشعائرو اواساساتوڅخه مخ اړوي اوسپک یي ګڼي ، اوحال
داچې اسلام بشریت ته دژوندډیرمکمل دستورالعمل وړاندي کړي
دي ، چې پکی دپیدایښت له ورځي نیولی بیاترمرګه پوري
دژونددهر اړخ اوهرې شعبې پوره تعلیم اولارښوونه موجوده ده ،
دژوندله شعبویوه هم دانسان دشرم اوحیاشعبه ده ، چې هیڅ ورڅخه
داسلام دمبارک دین ارشادات ورڅخه په څنګ تیرشوي نه دی ،
اوقرآن کریم خلکوته دویده کیدلو اوپورته کیدلو ترطریقي پوري په
هغوبحثونه کړي ، اودې خبرې ته ئې خاصه توجه کړې چې دارام کولو

پروخت (کله چې انسان له خپله ځانه هم خبرنه وي) بغیر له اجازې اوټک وټوکه هغوته مه ورننوزئ چې دابیاکیدای شي ددواړولپاره دخجالت سبب وګرزي.

قرآن کریم انسان ته دسپېڅلي ټولني جوړولو لارښوونه کړي ده ترڅویوانسان دبل په ازادي کي خنډوانه چوي اودهغې دتاوان اوله منځه تلو سبب نشي . اوټول انسانان په ارامي اوسوکالي سره ژوندوکړي څوک چې خپله ټولنه داسلامي اخلاقو اوآدابو پابنده نه جوړوي هغه به پخپله هم (بلکه دنوروزیات) په سختیواوتکلیفو کي واقع وی اوپه خپلو ضرورتواوغوښتنوکي به دتنګی اوپریشانی بارپراووړو وړي.

رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا اِنَّکَ اَنْتَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْم

(محمد رفعت قاسمي)

هغه کتابونه چې په دي کتاب کي کارورڅخه اخستل شوي دي:

تفسیرحقانی ،روح المعانی ،تفسیربیان القران ،احکام القرآن جصاص ، بیان السبحان
تفسیرابن جریر، تفسیر ابن کثیر ، الادب المفرد ، معارف القرآن ، المنجد
تفسیرمظهری، القاموس ،تفسیرجلالین ، تفسیرکبیر،اداب المعاشرت ،صحاح الستة

داداب وملاقات دمسائلو ضمیمه :-

سلام اواسلام

(وَإِذَا حُيِّيْتُم بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوا بِأَحْسَنَ مِنْهَا أَوْ رُدُّوهَا إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ حَسِيبًا)په دغه اية شریف کي الله ﷻ دسلام اودهغه دادابوښوونه کړیده.

دتحيّة دلفظ څیړنه اودهغې تاریخی اړخ

دتحيّة دلفظ معنی ځانته د((حَيَّاکَ الله)) ویل دي چې پښتوژباړه ئي داسی ده (خدای ﷻ دی تاژوندی لري) داسلام ترراتلو مخکي دعربوعادت داووچې کله به له یوبل سره مخامخ کیدل نودابه ئي ویل ((حَيَّاکَ الله))یا((اَنْعَمَ اللهُ بِکَ عَيْناً)) یا((اَنْعِمْ صَبَاحاً)) اوداسي نوروکلموپه ویلو به یي سلام کاوو ، خواسلام ددوي دغه طریقه په ((اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ)) سره بدله کړه چې په پښتوئي ترجمه داسي کیږي ((ته دي له هرډول غم اوتکلیف څخه روغ اوسلامت یي)) ابن عربی رحمة الله علیه په خپل کتاب احکام القرآن کي لیکلي دي : د«سلام » کلمه دپاک خدای ﷻ له نومونوڅخه یونوم دی او((اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ)) معني داده (اَللهُ رَقِيْبٌ عَلَيْكُمْ) یعنی الله ﷻ ستاسو ساتونکي دي.

اسلامی سلام دټولو قومونوترسلام بهتردی :

دنیاهرپرمختللی قوم داروج لري چي کله له یو،بل سره مخامخ کیږي نوله ... دڅرګندولو لپاره حتماً یوه نه

یوه کلمه وایي ، مګر که ددوی دغه رنګارنګ کلمې او اسلامي سلام
سره پرتله شي ، نو هغه وخت به هرڅوک وپوهیږي چې اسلامي سلام
ترهغو څومره مناسب او جامع دي ؛ځکه چې په دې کې یوائې دمحبت
اظهار نه بلکه ترڅنګ یې دمحبت دحق دادا کولو کار هم شوی دی چې
هغه دادعاده چې یو انسان ئي بل انسان ته کوي ، چې پاک خدای ﷻ
دي تاله هررنګه افتونو او غمونو څخه سلامت وساتي ، برسیره پردي
دادعا دعربو په طرز صرف د ژوندکولو نه بلکه دښه اونیک
ژوندکولو دعاء ده. په دي دعاسره ددي اظهار هم کیږي چې زه او ته
دواړه پاک خدای ﷻ ته محتاج یو اوبغیر دهغه له اجازي یو او بل ته
ګټه نشو رسولای ، ددغي معنی په اعتبار دایو عبادت هم دی
او یو مسلمان ورورته دخدای ﷻ دوریادولو ذریعه هم ده.
ددې ترڅنګ که ګورو چې یو څوک له الله ﷻ څخه غواړي چې زما ټول
ملګري یادوستان له ټولو افتونو او بلاګانو څخه وساته ، نو ګویا هغه
په ضمن کي داوعده هم کوي چې ته زماله ژبي اولاس څخه په امن کي
یې او زه ستادمال او ځان ساتونکي یم.

سلام څه شی دی ؟

ابن عربی رحمة الله علیه په خپل کتاب احکام القرآن کي دامام ابن
عیینه رحمة الله علیه دغه قول رااخیستی دی چې فرمایي:
(اَ تَدْرِي مَالسَّلَامُ ؟ يَقُوْلُ اَنْتَ آمِنٌ مِنِّي) ایا ته پوهیږې چې سلام څه
شی دي ؟ دسلام ویونکی بل ځاته وایي چې ته له ما څخه په امن کي
لنډه داچې اسلامي سلام یو نړیوال جامعیت لرونکی دی (۱) په

هغه کي دالله ﷻ یادموجوددی (۲) دخپل مسلمان ورورسره دمحبت
اودوستۍ اظهارشوی دی (۳) دادمسلمان لپاره یوه بهترینه دعاده
(۴) داله هغه سره یوډول وعده ده چې زماله لاس اوژبې څخه به تاته
کوم ضرراوتکلیف نه رسیږي اوته به له ما څخه په امن کي یې ؛ لکه
چې سیدالمرسلین نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم فرمایي
: (اَلْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ) (الحدیث) یعنی
مسلمان هغه دی چې ټول مسلمانان دهغه له لاس اوژبې څخه محفوظ
وي ، اوبل چاته ئي تکلیف نه رسیږي ، څومره ښه خبره به وای چې
مسلمانانو دغه کلمه دعاموخلګو درواج په ډول نه استعمالولای ؟ !
بلکه لومړی ئي دهغې په حقیقت ځان پوه کولای اوبیایې له دغې
کلمې څخه کاراخیستلای ، نوبیاددې ډیرامید کېدای شوای چې
داد ټول قوم داصلاح اوسمون لپاره کافي شوی وای. همداوجه ده چې
نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم په مسلمانانو کي یو او بل ته
دسلام پراچولو ډېر ټینګار کړی دی او هغه یې افضل الاعمال بللی دی
اودهغه فضائل ، اجرونه اوثوابونه یې په حدیثونو کي بیان کړي دی
لکه چې داحادیثو دمشهورکتاب صحیح مسلم شریف په یو مبارک
حدیث کی هغه ﷺ فرمایي : ((تاسو ترهغه وخته جنت ته نشئ
داخیلېدلای ترڅو مؤمنان نشئ اوستاسو ایمانونه ترهغه وخته نشي
مکمل کېدای ترڅوله یواوبل سره محبت ونکړئ ؛زه تاسو ته
یوداسې شی ښیم ،چې: که تاسو په هغه عمل وکړئ نوستاسو ترمنځ

به محبت پيدا شي ؛ هغه دا چې پخپلو منځو کی د سلام اچول عام کړئ
، يعنی په هر مسلمان باندی سلام اچوئ که تاسو يې پيژنئ او کنه.))
له حضرت عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما څخه روايت دی چې
يو چا له نبی کريم صلی الله تعالی عليه واله وسلم څخه پوښتنه وکړه
چې د اسلام په اعمالو کې بهترين عمل کوم دی ؟ نبی کريم صلی الله
تعالی عليه واله وسلم ورته وفرمايل : چې خلکوته ډوډۍ ورکوه
اوسلام عام کړه (يعنی پرهر مسلمان ئې اچوه که ئې پيژني اوکنه)
(صحيحين)

مسنداحمد ، ترمذی ، ابوداؤدله حضرت ابو امامة رضی الله تعالی
عنه څخه نقل کړی دی چې: نبی کريم صلی الله تعالی عليه واله وسلم
وفرمايل: دالله ﷻ په نزدترټولو زيات نژدې هغه څوک دی چاچې په
سلام ويلو کې لومړی توب وکړ.

په مسندبزاراومعجم کبيرطبرانی کې دحضرت عبدالله بن مسعود
رضی الله تعالی عنه حديث دی چې نبی کريم صلی الله تعالی عليه
واله وسلم وفرمايل: سلام دالله ﷻ له نوموڅخه يونوم دی چې الله ﷻ
ځمکې ته راليږلي دی ، نوتاسو سلام په خپلو منځوکې عام کړئ
،ځکه چې کله يو مسلمان مجلس ته ورځي اودورتلو پروخت
پرهغوسلام اچوئ ، نوهغه ته دالله ﷻ په نزد دبهترۍ يولوړمقام په
دې وجه حاصلېږي چې هغه دمجلس ټولو خلکوته پاک خدای ﷻ
وریادکړ.که دمجلس خلکو ځواب ورنه کړ نوهغه څوک به ورته ځواب
ورکړي چې ددغه مجلس ترخلکوبهتردی يعنی دالله ﷻ فرشتې.

همدارنګه په يوبل حديث شريف کې د نبی کريم صلی الله تعالی
عليه واله وسلم ارشاد دی : چې ترټولو لوی بخيل هغه دی چې په
سلام اچولو کی بخالت کوي . (طبرانی ، معجم کبير له ابی هريرة
رضی الله تعالی عنه څخه) خوکه غواړئ د نبی کريم صلی الله تعالی
عليه واله وسلم ددغوارشاداتو هغه اغيزه (اثر) چې پرصحابه
کراموئې کړې ؤ معلومه کړئ ،نوددې لپاره دغه يو عجيب روايت
کافي دی چې: عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهمابه ډيروخت
بازارته ددې لپاره تلی چې يومسلمان پيداکړي. اوهغه ته سلام
ورواچوي اودعبادت ثواب وګټي .هغه به بازارته دڅه اخستلو
ياخرڅولولپاره نه تلی بس همدابه ئې مقصد ؤ، دغه روايت په موطأ
امام مالک کې له طفيل بن ابی کعب رضی الله تعالی عنه څخه نقل
شوی دی.

دسلام ځواب اود نبی کريم صلی الله تعالی عليه واله وسلم عمل:

په تيرومخونوکې دقرآن کريم کوم ايت چې ذکرشوی ؤ په هغه کې
داارشادشوی چې که تاسو ته سلام درواچول شي ، نوتاسو ترهغه
بهترځواب ورکړئ اوياکم ازکم هغه الفاظ خووواېئ ددې پوره
وضاحت نبی کريم صلی الله تعالی عليه واله وسلم په خپل دغه عمل
سره فرمايلی دی : چې يووخت نبی کريم صلی الله تعالی عليه واله
وسلم ته څوک راغی اوويې ويل (السَّلَامُ عَلَيْكَ يَارَسُوْلُ الله) نبی
کريم صلی الله تعالی عليه واله وسلم په ځواب کې ورته وويل :
(وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ الله) د وَرَحْمَةُ الله جمله ئې پکې زياته کړه ،

څه وخت وروسته بل سړی راغی اوويي ويل : (السَّلَامُ عَلَيْكَ يَارَ
لُ اللهِ وَرَحْمَةُ اللهِ) نبی کريم صلی الله تعالی عليه واله وسلم په ځوا
کي ورته وويل : وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ) اوڅه وخ
وروسته بل سړی راغی اووئي ويل : (السَّلَامُ عَلَيْكَ يَارَسُوْلَ الل
وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ)د(وَرَحْمَةُ اللهِ)او(وَبَرَكَاتُهُ) جملي يي هم پکې
وويلي نو نبی کريم صلی الله تعالی عليه واله وسلم په ځواب کي
ورته وويل: (وَعَلَيْكُمْ) دهغه نفرپه زړه کي ګيله پيدا شوه اوعرض ي
وکړچې: ای دالله ﷺ رسوله ! زماموراوپلاردي ترتاقربان وي ترما
مخه چې څونفرراغلل تادهغوپه ځواب کي ددعاڅو کلمي زياتي کړي
، خوماته دی صرف په (وَعَلَيْكُمْ) سره ځواب راکړ، نبی کريم صلی
الله تعالی عليه واله وسلم ورته وفرمايل: تاتولي کلمي پخپل سلا
کي سره راغونډي کړي نوځکه ماهم دقرآني لارښووني سره س
ستاځواب په بالمثل درکولو سره وکړ. له مخکني حديث شريف څخه
يوداخبره معلومه شوه چې په ايت کي کوم حکم راغلی دی چې ځواب
ترمخکينوالفاظوپه ښوالفاظو ورکوئ دهغه صورة دادی چې کو
الفاظ چې سلام ړيونکي ويلي وی تاسو په ځواب کي ترهغه په
زياتوالفاظوځواب ورکوئ يعني که هغه وويل (السَّلَامُ عَلَيْكُمْ)
نوتاسو ځواب داسی ورکوئ چې:(وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللهِ) اوکه
هغه وويل چې(السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ) نوتاسو ځواب داسې
ورکړئ چې(وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ)دوهمه داخبره
ورڅخه معلومه شوه چې ددغوکلموزياتوالی صرف تردوو کلموپورې

سنت دی ، تردی زيات سنت نه دی اوددې حکمت ډيرڅرګند دی چې
دسلام دوخت تقاضی داده چې کوتاه خبري بايد پکي وشی په هغه
کي دومره زيادت مناسب نه دی چې ورڅخه په کوم کارکي تاوان
پيښ شي يااوريدونکي ته تکليف شي . نوله دې خاطره چې دريم
سړی په سلام اچولو کي ټولي جملي وويلي نو نبی کريم صلی الله
تعالی عليه واله وسلم په هغه کي له نورزيادت څخه احتراز وکړ.
دريیمه خبره له دغه حديث شريف څخه دامعلومه شوه چې که سلام
ويونکي په خپل سلام کي دري واړه جملي ووايي اوتاسو په ځواب
کي يوه کلمه ووايئ نوهم داداء بالمثل په حکم کي په قرآني حکم چې
(اوردُّوْهَا) دی دعمل کولو لپاره بس دی لکه چې نبی کريم صلی الله
تعالی عليه واله وسلم يوارصرف په يوه کلمه سره بسوالی کړی ؤ.

خلاصه

دايت د مضمون لنډيز داشو چې کله کوم مسلمان ته سلام ورواچول
شي ، نودهغه په ذمه ځواب واجب شو ، که بې له څه شرعي عذره بې
ځواب ورنکړنوګناهګاردی ، خوپه ځواب ورکولو کي بياهغه لره دوه
اختياره شته ، لومړی داچې په کوموالفاظوچې سلام ورباندی ويل
شوي دی ،ترهغه په بهتروالفاظودي ځواب ورکړي ، اودوهم داچې
په بعينه هغوالفاظودي ځواب ورکړي.
په دغه ايت شريف کي خودسلام ځواب ورکول په ښکاره ډول واجب
اولازم ښودل شوي دی مګرداول سلام ويونکي درجه په ښکاره ډول
نه ده بيان شوي ، خوکه د(إِذَا حُيِّيْتُم) لفظ ته ځيرشونوپه هغه کي دې

طرفته اشاره شوي ده ځکه چې دغه لفظ د مجهولی په صیغه
بغیردفاعل له معلومولوذکر کیدای شي چې سلام داسي یوشی دی
چې عادة يي ټول مسلمانان کوي په مسنداحمد، ترمذي،
اوابوداؤدکي د نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم دغه
ارشادنقل شوی دی چې: دپاک خدای ﷻ په نزد ډیرمقرب (هغه چې
نزدیکت اودوستي ورته حاصله وي) هغه څوک دي چې په سلام
اچولو کي ځان ړومبی کوي۔

تاسو په سلام باندي د نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم
ټینګناراودسلام فضیلت په خپلو سترګوپه هغوارشاداتو کي ولیدل
چې مخکي تیرشول له هغوڅخه ډیرډیرمعلومیږي چې په سلام کي
ځان ړومبی کول ترسنت مؤکد کم نه دی.

په تفسیرمحیط کي لیکلي دي چې داکثروعلماؤ په نزد لومړی سلام
سنت مؤکد دی.

اوحضرت حسن بصری رحمة الله علیه فرمايلي دي چې (السّلامُ
تطوع والرّدُّ فریضة) یعني په اول وارسلام ویلوکي اختیاردي،
خوځواب ورکول ئي فرض دي. همدارنګه نبی کریم صلی الله تعالی
علیه والهٖ وسلم دقرآن کریم ددغه حکم په اړ وندنورتفصیلات هم
دتشریح په ډول فرمايلي دي، چې موږ هغه هم دلته دا ختصار په ډول
وړاندي کوو۔

دصحیحینو(بخاری، مسلم) په یوحدیث کي راغلي دي چې په څه
شی کی سپوروي نوهغه ته پکارده چې پرپیاده خلکوسلام واچوي،

اوهغه څوک چې روان وي هغه دی پرناستوخلګوسلام واچوي، اوکو
م خلک چې په شمیرکي کم وي اوپه یوه بله ډلې باندی تیریږي
نوهغوته پکارده چې په سلام ویلو کي لومړی والی وکړی.

دترمذی شریفې په یوحدیث کي راغلی دی چې کله یوانسان خپل
کورته ورځي نوپکاردی چې پر کوروالو باندی سلام واچوی ځکه
چې په دی سره هم هغه ته برکت حاصلیږي اوهم دکورخلکوته.

دابوداؤدشریف په یوحدیث کي راغلي دی چې که تاسو له یومسلمان
سره په وارواروینئ نوپه هر وارکي ورباندی سلاو اچوئ، اوپه څه
ډول چې داول وارلیدلو سلام سنت دی همهغه رنګه درخصت کیدلو
پروخت هم سلام ویل سنة اودثواب کاردی، دمضمون په پای کی یي
وفرمایل: (اِنّ اللهَ کانَ عَلی کُلِّ شَيْءٍ حَسِیبًا) یعنی الله ﷻ دهرشي
حساب اخیستونکي دي چې پکي انسان اواسلامي حقونه لکه سلام
اودهغه ځواب اونورداخل دی چې ددغوبه هم پاک خدای ﷻ حساب
اخلي ـ (معارف القرآن ۲/ توک له ۵۰۱ څخه تر۵۰۲ پوري)

په سلام اچولوکي دلومړیتوب فضیلت:

حضرت ابوامامة رضی الله تعالی عنه وایي: چې نبی کریم صلی الله
تعالی علیه واله وسلم وفرمایل: ترټولو خدای ﷻ ته نژدي هغه څوک
دی چې په سلام ویلو کي لومړیتوب وکړي. (احمد، ترمذی، ابوداؤد)
دغه فضیلت په هغه چاکي کیدای شی (یعنی ددغه لفظ مخاطبین
هغه څوک دی) چې دلاری پرسرله یواوبل سره مخامخ شي، ځکه چې
په هغه حالت کي دوی دسلام دلومړی کولو په حق کی سره برابردی،

نوچې هریوه یې وارړومبی کړ نودغه فضیلت یې په برخه شو، اوکه
ددې برخلا ف داسې وشول چې یوڅوک ناست ؤ اوبل څوک ورته
راغلی ، نودسلام ویلوحق دهغه چادی چې راغلی وي ، نوکه هغه
راغلې سړی لومړی سلام واچوي نودغه فضیلت یې نه دی ګټلی اوکه
ناست سړی په سلام کې ځان مخکې کړ، نودغه فضیلت ورپه برخه
شو ، ځکه چې راغلی سړی دسلام په لومړی والي سره صرف هغه حق
داء کړچې پرهغه لازم ؤ.

دحضرت عمر رضی الله تعالی عنه په باره کې نقل شوي دي چې هغه
به فرمایل : درې شیان داسې دی چې که مسلمانان یې ورځپل کړي
نوددوی په خپل منځې تراوونوکې به ټینګښت راولي اوداهغه شیان
دي چې په یومسلمان کې له بل مسلمان سره دمحبت اواخلاص نیت
اواراده راژوندۍ کوي ـ اول : دلیدوکتوپروخت په سلام ویلوکې
لومړیتوب دوهم : مسلمان وروته په هغه نامه خطاب کول اوهغه
رابلل چې هغه وربانديې خوشحاله کیږي . دریيم کله چې یومسلمان
مجلس ته راشي نوهغه ته په عزت اواحترام سره ځای ورخالي کول.

مسئله :- که کله په تلو راتلو کې دوه نفرسره مخامخ شو ل چې دواړه
یوشان نوعیت لرونکې ؤ ، یعني دواړه پیاده ؤاویادواړه سپاره ؤ،
نوکوم چا چې لومړی سلام واچاوو ، نوهغه ګواکې ددې څرګندونه
وکړه چې هغه الله ﷻ له غروراوتکبرڅخه پاک ساتلی دی.

مسئله:- سلام اچول سنت دی اودسلام جواب ورکول فرض دی ،که
یوڅوک مجلس ته ورشي اوهلته په خلکو سلام واچوي ، نوپه مجلس
کې ناستوخلکوباندی ځواب ورکول فرض دی.
اوکه هغه نفردوهم واربیاراغی اودمجلس خلکوته یې سلام واچاوو
نوبیایې ځواب پرهغو خلکوباندی فرض نه ، بلکه مستحب دي

مسئله:- په سلام اودهغه په ځواب دواړو کې بایددجمعي له
صیغوکارواخستل شي که څه هم تاسو یونفرته سلام اچوئ ، یادیوه
نفردسلام ځواب کوئ ترڅوهغه فرشتې چې له انسان سره شته هم په
خطاب کې ورګډې شي .(مظاهرحق /۵ټوک /۳۵۹مخ

مسئله:- که یوڅوک دسلام اچولوپروخت په داسې کارمشغول وي چې
له شریعت سره خلاف وي ، نوهغه دسلام دځواب حق نه لري.
(مظاهرحق /۵ټوک /۳۵۹مخ)

څوک به پرچاباندی سلام اچوي ؟:

حضرت ابوهریرة رضی الله تعالی عنه ویلي دي چې نبی کریم صلی
الله تعالی علیه واله وسلم وفرمایل : چې یوڅوک پریوشي باندی
سپوروي هغه به پرپیاده (په پښوروان) باندی سلام اچوي ، اوڅوک
چې روان وي هغه به ناستوخلکوته سلام وراچوي ، اودخلګوکوچنی
ډله به لویه ډلې ته سلام وراچوي.(بخاری،مسلم)

مسئله :- د نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم ارشادچې سپاره
خلک به پیاده خلکوته سلام وراچوی په اصل کې حکم دی اودغه
حکم دخاکساري اوتواضع په لوري دترغیب اوهڅولو لپاره دي ،

ځکه چې که یوځوک دسپریدلو وسیله لکه آس ، موټر ، اوداسي
نورولري نوښکاره خبره ده چې پاک خدای ﷻ هغه ترپیاده
خلکوهوسااوپورته کړي دي ، نوهغه ته پکاردی چې عاجزي
اوتواضع غوره کړي .همدارنګه هغوخلکوته هم چې په شمیر کي کم
وي پکارده چې له داسي خلکوسره چې په شمیرکي تردوي ډېروي
دمخامخ کیدوپروخت دعاجزی اوخاکساری په وجه
اودهغودډیروالي داحترام له امله په سلام اچولوکي لومړی توب
وکړي ، امام نووي رحمة الله علیه فرمایي :چې که یوځوک له یوې
ډلي خلکوسره مخامخ شي یاهغوته ورشی اوغواړي چې هغوټولوته
سلام وانه چوي بلکه له هغوڅخه .ئي ځوخاصونفروته اچوي
،نوداکارمکروه دی ځکه چې دسلام اصلی اوبنیادي مقصد
دخلکوترمنځ محبت اونژدیکت راوستل دي ، کله چې یوځوک له
مجلس څخه یوځوخاصو کسانوته سلام اچوي ، اونورپرېږدي
نودپاته خلکوپه زړه کي دډاراوپردي والي احساس پیداکیږي ،
اودغه شیان بیاډېروخت دنفرت اودښمنۍ سبب ګرزي.

مسئله- دبازار،عاملارو اوسړکونو حکم له دي څخه جلادي ، ځکه
چې په بازاراوعاملاروکي چې هر ځوک وربانديی تګ راتګ کوي،
ځینوخاصو خلګوته سلام اچول کافی دي ، ځکه چې که یوځوک په
بازاریاعاملاروکي هرچاته سلام وراچوي ، نوورڅخه خپل شخصی
ژونداوکارته خلاصیدل ئي امکان نه لري.

اوحضرت ابوهریرة رضی الله تعالی عنه ویلي دي : چې نبی کریم
صلی الله تعالی علیه واله وسلم وفرمایل: کوچنیان لویانوته ، روان
ناستوخلګوته اوکوچنی ډله دي لویه ډلي ته سلام اچوي (بخاري ، مسلم)

تشریح :- علماؤ لیکلي دي چې پورتنی حکم داسي دي چې کله
یونفرله دي خواروان وي اوبل له هغې خواراروان وي اوبیاسره
مخامخ شي نوکوچنیان به لویانوته سلام اچوي خوکه مجلس
تیارجوړ وُ اوځوک ورغلی ، نوورتلونکي سړي به لومړی سلام اچوي
که کوچنی وي که لوی ، که دمجلس ترخلګوډیروي اوکه کم.
(مظاهر حق جدید/۵ټوک/۳۳۹مخ)

څه وخت بایدسلام واچول شي ؟

له حضرت ابوهریرة رضی الله تعالی عنه څخه روایت دي چې نبی
کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم وفرمایل: یوځوک له تاسو څخه
چې له بل مسلمان وروسره ملاقات کوي ، نولومړی بایدسلام
ورواچوي ، اوله هغه وروسته که ددوي ترمنځ دومره لیریوالی
راشي چې یوه ونه ، یادیوال یالویه ډبره یي ترمنځ پرده شي
اوبیابیرته سره ورشي نوبیادی دوهم وارهم ورته سلام واچوي.

تشریح :- مطلب دادی چې له دومره لږ جلاوالي وروسته هم سلام
اچول مستحب دي .هغه خوپرېږده چې ترلیري ځایه ولاړ شي
اوبیابېرته راشي ، ګویادغه حدیث شریف دسلام مستحبوالی اوپه
هرځای کي ددغه دادب دلحاظ ساتلو بیان دمبالغي (تراصلی اندازې
زیات شه والی) په طور کړي دي ، خودابایدپوره په یادولرئ چې

دسلام ددومره لوړارزښت باوجود داسي ځايونه هم شته چې هلته
بايدسلام وانه چول شي ، لکه : هغه چاته سلام وراچول مکروه دی
چې غټي ياوړې بولې کوي ، ياپه ټټۍ کي وي ، ياپه جماع (هم
بستری) لګياوي ،اويابه همدغه رنګه بل کار کي مشغول وي
اوپرهغه ئي ځواب هم واجب نه دی. دغه رنګه که څوک ويده وی ياپه
حال کي نه وي ، ياپرلمانځه ولاړوي ، يااذان کوي ، ياپه حمام کي
وي ، ياخوراک کوي،ګوله ئي په خوله کي وي ، اوسلام ورواچول
شی نوسلام اچوونکي دځواب اخستلو حق نه لري . دخطبې پروخت
هم بايدسلام وانه چول شي ، اونه بايددبل چاسلام ته ځواب وويل
شي ، اوهغه چاته هم بايدسلام وانه چول شي دقرآن کريم تلاوة کوي ،
خوکه چاپرتلاوة کونکي سلام واچاوو نوتلاوة کونکي ته پکاره ده
چې تلاوة ودروي اوځواب ورکړي ، اوبيابيرته داعوذ بالله په ويلو په
تلاوة پيل وکړي.(مظاهرحق /۵ټوک /۳۴۸مخ)

علامه ابن کثير رحمة الله عليه ليکلي دي چې دغيرمسلم ، فاسق ،
اوبدعتی سلام ته ځواب ويل واجب نه دی ، تفسيرسراج ليکي چې
کافرته سلام وراچول جرم دی مګردځينومشائخوويناده چې که په
هغه زمانه کي داضرورت وي چې کافرته سلام ورواچول شي
نوبيارواد ی ، مګر بهتره داده چې په زړه کي دی نيت نه کوی بلکه
صرف دلاس اشاره دی ورته وکړی اوکه په ژبه هم وويل نوپه زړه کي
دي ملائيکي ورته نيسي ، که څه هم په ظاهره داسي معلوميږي چې
غيرمسلم ته سلام واچول شو مګرپه باطن کي خونيت پرکافردسلام

ويلو نه ده . کوشش بايددضرورت په صورة کي داوشي چې د(هَدَاکَ
الله) په ډول جملوسره ورسره دتعلق اظهاروشي ،خودتاً سف ځای
دی چې دنن سبامسلمان داسی کسانوته دسلام په خپلو الفاظوسره
داکارکوي ، اوداډيرنامناسب کارده.

مسئله:- لمونځ کونکي ، خطبه ويونکي اوپه حج کي دلبيک ويونکي
ته سلام وراچول سنت نه دی اونه پردوي ځواب واجب دی.

مسئله:- دقرآن کريم ياحديثو ويونکی ، ياعلمي مذاکرې کونکی ته
سلام مه اچوئ.

مسئله:- داسنت دی چې کله يونارينه خپل کورته ورځي ، نوپرخپله
ميرمن باندی دی سلام اچوي. اوميرمن دي پرخپل خاوندباندي سلام
اچوي ، همدارنګه په خپلوانوکي پرمحرمو(چې دسلام ويونکي
نکاح ورسره حرامه وی) ښځي ته سلام اچول سنت دی.

مسئله:- که څوک دشطرنج لوبه ياداسي نوري لوبی کوي يااواز(غزلی
)وايي ، ياکوترې الوزوي و يادغه رنګه بل کارکوي ، نوهغه ته
بايد سلام وانه چول شي.(تفسيربيان السبحان/۱ټوک/۴۹۱مخ)

مسئله:- که يوڅوک يوائي ؤ نودسلام لمړی کول ورباندی عيني سنت
دی ،اوکه يوه ډله وه نوکفايی سنت دی ، يعني که له ټولي ډلې څخه
يونفرسلام واچاوو (ياله ټولي ډلي څخه يوه نفرسلام ته ځواب ورکړ)
نودټولوغاړه خلاصه شوه مګر ثواب ئي صرف دهغه چاد ی چې سلام
ئي ويلی دی ((اوځواب ئي ورکړی دی)) که يوه نفرته ډيروخلکوپه
يوه وارسلام واچاوو ، نودهغوټولو لپاره دځواب ويونکي يوځواب

کافي دي ، که پریوه ډله باندې سلام واچول شي نوپرټولو باندې یې
ځواب واجب دی خوکه یوه له دوی څخه ځواب ورکړنودټولو غاړې
درباندې خلاصیږي.(تفسیربیان السبحان ۱/ټوک ۴۹۱مخ ، مظاهرحق ۵/ټوک ۳۴۷مخ)

مسئله :- که په کورکې هیڅوک نه ؤ نومناسب ده چې دسلام پرځای
دغه کلمات ووایي (السَّلامُ عَلَیْنَا وَعَلَی عِبَادِ اللهِ الصّٰلِحِیْنَ)
ترڅوهغوفرشتوته سلام ورسیږي کومې چې په هغه ځای کې اوسي.
(مظاهرحق ۵/ټوک ۳۴۸مخ)

مسئله :-سلام بایدترخبرومخکې وي ، تردې چې په څه ویلو پیل
وکړي لومړی بایدسلام واچوي ، اوبیاخپلې خبرې پیل کړي ،
ترسلام مخکې خبرې کول سم کارنه دی.

مسئله:- هغه چاته چې اذان یااقامت کوي یاددیني کتابونوتدریس
کوي ،یاپه کوم انساني ضرورت لکه استنجاء لګیاوي هغه ته نه
سلام وراچول روادي اونه پرهغه دسلام ځواب ورکول واجب دی.
(معارف القرآن ۵/ټوک ۵۰۶مخ)

دسلام ویلوادنی درجه :

مسئله :- دسلام اچولو کمه درجه (السَّلامُ عَلَیْکُمْ) دی ،خوکه
(السَّلامُ عَلَیْکَ) وویل شي یا(سَلامٌ عَلَیْکَ) وویل شي نوهم کافي
دي ، اودسلام دځواب ادنی (کمه) درجه (وَعَلَیْکَ السَّلامُ) یا
(وَعَلَیْکُمُ السَّلامُ)ویل دي ،اوکه د(واوحرف)ورسره ونه ویل شي
نوهم کافي دی.

مسئله :- پر دې خبره دټولو علماؤ اتفاق دي ، چې که په ځواب کې
صرف (عَلَیْکُمْ) وویل شي نوځواب نه پوره کیږي ، اوکه واوهم
ورسره وویل شي یعنی (وَعَلَیْکُمْ) نوپه هغه صورة کې بیادځواب
دپوره کیدوقولونه هم شته اودنه پوره کیدوهم شته.(مظاهرحق ۵/ټوک ۳۴۵مخ)

مسئله :- که یوڅوک تاسو ته ووایي چې (السَّلامُ وَعَلَیْکَ)نوتاسوئې
په ځواب کې(وَعَلَیْکُمُ السَّلامُ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَکَاتُهُ) ووایئ ؛اوکه
څوک درته ووایي چې (السَّلامُ وَعَلَیْکَ وَرَحْمَةُ اللهِ)،نوتاسو یې په
ځواب کې(وَعَلَیْکُمُ السَّلامُ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَکَاتُهُ وَمُغْفِرَتُهُ)ووایئ.

مسئله:- بهتره داده چې ځواب په (وَعَلَیْکَ السَّلامُ)یاپه (وَعَلَیْکُمُ
السَّلامُ) سره وویل شي.

مسئله:- که دوه نفره په داسې حال کې سره مخامخ شول چې
دواړویواوبل ته وویل (السَّلامُ عَلَیْکُمْ، السَّلامُ
عَلَیْکُمْ)نوپردواړوځواب ورکول واجب دي.(مظاهرحق ۵/ټوک ۳۳۷مخ)

دسلام پروخت ټیټیدل

له حدیث شریف څخه په څرګندډول معلومه شوې ده چې دسلام
پروخت ټیټیدل ، اوعاجزي ښکاره کول لکه نن سباچې دخلکورواج
ده له سنتوڅخه خلا ف کاردی او نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله
وسلم دغه کارپه دې خاطر نه دی خوښ کړی چې داکاردرکوع په حکم
کې دی اورکوع دالله ﷻ عبادة دي.

مسئله:- که یوڅوک دچا(مشر، عالم ، پیر) مخته په ځمکه ځکیږي
یادهغه پښوته پریوزي یادغه رنګه نوربدحرکات کوي ، نوپه دې سره

هغه نه کافرکیږي ، ځکه چې دادعزت کولو په خاطر کوي ، دعبادة نیت پکې نشته ، خوکه دعبادة په نیت یې دغه کارونه کول ، نویقیناً کافرکیږي.(مظاهرحق/۵ټوک/۳۷۱مخ)

دملاقات پروخت ولاړیدل :

که یوځوک درراوان نفردعزت کولو په خاطر ولاړشي ، نوداکار مکروه نه د ی ؛بنفسه (پخپله) په دغه ولاړیدلو کې مکروه والی نشته ، بلکه دافکر کول اوداخوښول چې خلک راته ولاړشوي وای مکروه دی. هغه قیام(ولاړیدل) هیڅکله هم نه ده مکروه چې دداسي چالپاره وي چې هغه نه دخلکو ولاړیدل خوښوي اونه داغواړي چې خلک راته ولاړشوي وای.

مسئله- داچې یوځوک چاته ولاړیږي اوکنه ددی حق تړاوو له ناست نفرسره دی ، یعنی یوځوک قطعاً داحق نه لري ته به خاماخاولاړیدلي ،اویاولاړیږه.

حاصل دخبري داشو که تاسو داسي ځوک ووینئ چې عالم یابزرګ وي یابهتروي نودهغه دعزت اودرنښت لپاره ولاړیدل روادی اوپه دی کې هیڅ منعه نشته خوداسي چاته ولاړیدل چې له یوې خوادومره عزت حقدارنه وي له بلي خواداهم زړه ورته وایي چې خلک بایدزمالپاره ولاړشوي وای مکروه دی ؛ اودغه رنګه بې ځایه هرکلي اوچاپلوسی (غوړه مالی) هم مکروه دی . ددنیالرونکو(شتمنو) لپاره ولاړیدل ددنیاپه خاطر ، اودهغوی عزت کول هم مکروه دی اوپه دې اړوند سخت وعیدونه نقل شوي دي.

(مظاهرحق /۵ټوک/۳۸۰مخ)

اصلاً دغه شي مکروه اوممنوع دی چې یوځوک ددې لپاره چې عزت اواحترام یې وشي ، اوخلګوته خپل ځان ډیرلوړ وروپیژني داغواړي چې خلک دې زمالپاره ولاړ شي ، اوکه قیصه همدغه ډول نه وي نونه بیاولاړیدل نه مکروه دی اونه ممنوع. (مظاهرحق/۵ټوک/۳۸۳مخ)

اووعیدونه هم دهغه چالپاره دی چې خلګوته دتکبراوغرورپه ډول داحکم کوي چې زمالپاره بایدولاړشئ اویاهغه دې ته مجبوروي چې. هرکله زه راځم نوتاسو بایدولاړشئ.-رفعت قاسمي-

پردې ښځې ته سلام اچول :

له حضرت جریر رضی الله تعالی عنه څخه روایت دي چې یووار نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم له ښځوسره تیریدی ، نوپه هغوی ئي سلام واچاوو (احمد)

تشریح: داخبره د نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم ترمبارک ذات پوري خاصه وه ځکه چې په کومه فتنه یاشرکي داشرف المخلوقات ﷺ دمبتلاکیدوهیڅ ډول ویره نه وه نوځکه هغه ته پرښځوباندی سلام اچول هم رواؤ ، مګر له هغه ﷺ څخه بغیر بل مسلمان ته دامکروه ده چې ښځوته سلام واچوي ، خوکه کومه ښځه ددومره ډیرعمروه چې ورڅخه دهیڅ ډول فتني اوضرررسیدلوویره نه وه اونه هغې ته سلام اچولو دنوروخلګوپه نظر کې بدګماني پیداکوله ، نوهغې ته بیاسلام اچول روادی. (مظاهرحق/۵ټوک/۳۴۲مخ)

غائبانه سلام اودهغه ځواب :

مسئله :- كه يوڅوک تاسو ته دبل مسلمان سلام راورسوی نوپکاردی چې تاسو په سلام راوړونکي باندی هم سلام ووايئ اوپه هغه چاهم سلام ووايئ (يعنی دهغه دسلام په ځواب کي) چې تاسو ته يي سلام راليږلی دی ، نوددی لپاره چې په دواړو موسلام ويلی وی ددی لپاره په نسائي کي په عين ډول دغه الفاظ راوړل شوی دی ،
(عَلَيْکَ وَعَلی...... االسَّلامُ) اويا(وَعَلَيْکَ وَعَلَيْهِ السَّلامُ).

داشاروپه ذريعه سلام کول :

يهودانواوعيسايانوبه سلام اچاوواودځواب ورکولو پرځای به ئي صرف په اشاروسره بسوالی کاوو ، اودسلام لفظ به يي نه وايو ، کوم چې دادم عليه السلام اودهغه له اولادې څخه دانبياؤ اواولياؤ سنت اوطريقه ده. کله چې نبی کريم صلی الله تعالی عليه واله وسلم ته کشف وشو چې زمادامت څه خلک دبی لارۍ په ښکارکيدلو سره دسلام کولو هغه طريقه کاروي کومه چې ديهودانواودنوروقومونوده لکه دګوتوياورغويوپه ذريعه اشاره کول ، لاسونه له يوبل سره جوخت پورته کول ، ملاياسرټيټول ، صرف دسلام په لفظ بسوالی کول اوداسي نور ، نوله دې خاطره نبی کريم صلی الله تعالی عليه واله وسلم خپل امت ته په خطاب کي ددې خبرتياورکړه اوداوعيدئي وفرمايلو چې: څوک دسلام دغه طريقه خپلوي کومه چې له اسلامي شريعت اوزماله سنتوخلاف ده ، نوهغه دې پوه شي چې هغه به زماله [illegible] څخه نه شمارل کيږي. (مظاهرحق/۵توک/۳۴۷مخ)

غيرمسلم ته سلام اچول :

مسئله :- غيرمسلم ته (السَّلامُ عَلَيْکُمْ) مه واياست ځکه چې په سلام کي لومړيتوب په حقيقت کي له اسلامي اخلاقو څخه يواعزازدي چې حقداران يي هغه خلک دي چې داسلام پيروان وي ، ددغه حق اعزازهغه چاته نه شي ورکول کيدای چې داسلام ددين دښمن اودپاک خدای ﷻ له منلو اودهغه دامرونوله پرځای کولو څخه سرغړونه کوي . دغه رنګه له دغوباغيانو اوداسلام له دښمنانوسره دسلام په څيرپه نورلارومحبت منځته راوړل هم نارواکاردی ، خوکه دغه غيرمسلم خلک په سلام ويلو کي لومړيتوب وکړی اوتاسو ته ووايي چې: (السَّلامُ عَلَيْکُمْ)نوتاسو بايددهغوپه ځواب کي صرف (هَدَاکَ اللهُ) ووايياست. (مظاهرحق/۵توک/۳۴۰مخ)

د«ادب » معنی داده چې هغه ويناا وهغه کارچې ډيرښه اوستايلو وړ وبلل شي ، اويادادب مطلب دا ده چې هره خبره په سم ډول اوښه طريقه په ښه اومناسب ځای کي وشي اوهر کار له ډيراحتياط ،ښه غوراودقت وروسته ترسره شي - څيني حضراتوداسي ويلي دی چې دادب مطلب دادی چې دنيکۍ اوښه والی لاردځان لپاره غوره کړئ ، اوله ګناه اوبديو څخه ځان وساتئ. (مظاهرحق/۵توک/۳۳۵مخ)

نوله دی خاطره که غيرمسلموته دسلام پرځای ددوي دعرض په مقابل کي دادب جمله وويله شي ، نوڅه منعه پکي نشته. (محمدرفعت قاسمي)

ګروپ،مجلس ته دسلام اچولو طریقه :

امام نووي رحمة الله علیه فرمایلي دی : چې که یومسلمان پرداسی ټولۍ (ډله) باندي تیریږي یاورشي چې په هغه ډله کي مسلمان اوغیرمسلمان دواړه وي ، نوکه څه هم هلته یویاڅومسلمانان وي نوورتلونکي ته پکارده چې هغې ټولې ډلې ته دمسلمانانوپه نیت سلام واچوي ، دغه رنګه علماؤ لیکلي دی چې دورتلونکي خوښه ده چې (السّلامُ عَلَیْکُمْ) وایي اوپه نیت کي مسلمان نیسي ، اوکه وایي چې (السّلامُ عَلی مَنِ التَبَعَ الهُدی) دغه رنګه علماؤکرامولیکلي دي چې که یوڅوک غیرمسلموته خط لیکي نوهغه الفاظ دي دسلام پرځای ورته ولیکي چې نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم دروم بادشاه (هرقل) ته په خپل خط کي لیکلي ؤیعنی (سَلامٌ عَلی مَنْ اِتَبَعَ الهُدی). (مظاهرحق /۵ټوک /۳۴۳مخ)

درخصتی سلام اودهغه ځواب :

حضرت قتادة رضی الله تعالی عنه وایي چې نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم وفرمایل: کله چې تاسو له خپلو کورونوڅخه وزئ نوپرخپلو کوروالوباندی سلام اچوئ.

تشریح :- دحدیث شریف الفاظ (فاودعواهله) دی چې له وداع (رخصت) څخه دی چې ددې مقصددادی چې له کورڅخه دبهروتلو پروخت خپل اهل وعیال څخه دسلام په ذریعه رخصت شئ (یعنی خدای په اماني واخلئ) ، نو همدی ته په فام سره علماؤ لیکلي دي

چې ددغه سلام ځواب واجب نه دي بلکه مستحب دی ځکه چې دغه سلام په اصل کي دعاء اورخصتیدل دی.

او دامطلب ئي هم کیدای شي چې ته خپلو کوروالوته سلام دامانت په ډول پریږده ترڅوته بیرته په خیر راشي اوخپل امانت بیرته واخلې لکه چې نورامانتونه اوپس اخستل کیږي.

داخبره په یونه په یوډول دهغه نیک فال په شان ده چې انشاء الله له کورڅخه رخصت شوی به بیرته پخیرراځي اوهغه ته به دبیرته (بیا) سلام ویلو موقع په لاس ورځي.

له حاجي سره سلام اومصافحه کول :

حضرت ابن عمر رضی الله تعالی عنه روایت کوي چې نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم وفرمایل : کله چې تاسو له حاجي سره ملاقات کوئ نوپرهغه سلام وایاست اوورسره مصافحه کوئ یعنی هغه ته لاس ورکوئ اوهغه ته وایاست چې زمالپاره دبخښنې دعاوکړه مخته تردې چې هغه کورته داخل شي اوداځکه چې دهغه بخښنه شوي ده. (احمد)

تشریح :- هغه څوک چې له خپله کوره دخدای ﷻ کور(کعبې شریفې) ته تللی وی هغه دالله ﷻ میلمه وي اوڅرنګه چې هرمیلمه پال دخپل میلمانه دهرې رواغوښتنې احترام کوي همهغه رنګه لو ی خدای ﷻ هم دخپلو میلمنولحاظ ساتي اودوی چې کومه دعاغواړي خدای ﷻ هغه قبلوی ، که هغه دځان لپاره مغفرت اوبخښنه غواړي نوپاک خدای ﷻ دوی ته دغه دولت ورپه برخه کوي.

په حج کولو سره انسان داسي ښوک ګرزي چې هره دعايي خداى ﷻ ته
قبوله وي ، څه وخت چې هغه مکي مکرمي ته داخليږي
بياترڅلويښت ورځي وروسته راتګ پوري همداسي وي . په
پخواوختونوکي هم داعادة ؤ چي کله به حاجيان له حج څخه بيرته
کوروته راتلو ، نوخپلوان اوعام خلک به دهغوی مخي ته په دي
غرض ورتلو چي دحاجي بخښنه شوي ده اوله ګناه څخه پاک بيرته
کورته راروان دي موږ به له هغه سره ستړي مشي وکړو مخته تردي
چي هغه په دنياملوث شي ترڅوموږ ته د هغه څه برکت راورسيږي .
دغه دحاجيانواستقبال ته ورتللو رواج په اوس زمانه کي هم
خوداوخت دپاک اوسم نيت خلک ډيرکم اودنوم لوړولو
اوجزباتوخلک زيات دي.
څرنګه چي په دغه حديث شريف کي قيدلګول شوی ؤ ،چې له حاجې
سره دکورترداخيليدومخکي سلام اومصافحه وکړئ ، هغه ددي په
وجه دی چي يوخولاتردغه وخته پوری هغه ددنياپه کارو ملوث شوي
نه دی اوله خپلو کوروالو اوعيال سره مشغول شوي نه دی اوبل
لاتردغه وخته پوري هغه دخداى ﷻ په لاره کي دی اوله ګناهونو څخه
پاک اوصاف دی ، نوڅرنګه چي په دغه وخت کي دحاجي صاحب
دعاډيره ژرقبليږي نوله دې خاطره وربادندی دځان لپاره دمغفرت دعاء
وکړئ ترڅوپاک خداى ﷻ هغه قبوله کړي اوتاسو ته دبخښنې
اومغفرت نيکمرغي درپه برخه کړي .علماء کراموليکلي چې عمره
کونکي ،جهادکونکي ، اوددیني علم زده کونکی هم دحاجي په حکم

کي دی يعني کله چي دغه درې ډوله خلک له خپلو کاروڅخه دکورپه
لوري راروان شي ، نوتاسو له هغوڅخه هم مخته تردي چي کورته
داخل شي مصافحه وکړئ اودځان لپاره ورڅخه دعاء وغواړئ ځکه
چي دغه خلک هم بخښل شوي دي.(اللّٰهُمَّ اجْعَلْنِي مِنْهُمْ)
(مظاهرحق /۳توک /۲۷۹مخ)

دمصافحي فضيلت :

حضرت براء بن عاذب رضى الله تعالى عنه وايي چي نبى کريم صلى
الله تعالى عليه واله وسلم وفرمايل: کله چي دوه مسلمانان له يواوبل
سره يوځای کيږي ، اوله يوبل سره دلاس په ذريعه روغ بړکوي ،
نوددوي ترجلاکيدومخکي لوی خداى ﷻ دوي ته بخښنه کوي.
(احمد ، ترمذي ،ابن ماجه)

تشريح :- آن حضرت ﷺ فرمايلي دي : کله چې دوه مسلمانان سره
ورځي اويوله هغوڅخه پربل باندی سلام اچوي ، نوله دوی څخه
خداى ﷻ ته ډيرنژدي اوخوښ هغه مسلمان وی کوم چي په فراخ تندي
اوښه طبيعت له خپل ملګري مسلمان سره مخامخ کيږي ، اوبياچي
کله سره دوي دوه مصافحه کوي نوپاک خداى ﷻ پرډوي سل (۱۰۰)
رحمتونه نازلوي ، له هغوسلوڅخه (۹۰) رحمتونه په هغه چادی چي
لومړی والی يي وکړ اولس رحمتونه پرهغه چادي چي مصافحه يي
وکړه. (مظاهرحق /۷۰مخ)

دلاس اوغيري حکمونه :

ديوپياده مسلمان له بل مسلمان سره دملاقات پروخت مصافحه
سنت دی مصافحه بايديه دواړولاسووي ، صرف په يوه لاس

مصافحه کول سنت نه دی ، دمصافحي لپاره کوم خاص وخت یاخاصه خوشحالي (مراسم) ضروري بلل غیرشرعي خبره اوبدعت مذمومه دی ، خوکه یومیلمه داسی وخت مسجدته راغي ، چې خلک په لمانځه مشغول ؤ ، یالمونځ شروع کیدونکي ؤ ، هغه لمونځ وکړ اوله هغه څخه وروستويي له خلګوسره مصافحه کوله نودغه مصافحه بي شکه سنت اوسمه مصافحه ده ، په دي شرط چې هغه ترمصافحي له مخه سلام هم ویلي وي ، کله چې موږ ته دامعلومه شوه چې که څه هم په تاکل شوي اومکروه وخت کي مصافحه کول مکروه دی ، مګرکه بیاهم یوڅوک په دغه دمصافحي کولو لاسونه ونیسي ، نوله هغه څخه به خپل لاسونه نه راکش کوو ، اوهغه به خالی لاس نه پرېږدو ځکه چي په دي سره هغه غمجن کیږي ، اویومسلمان ته دغم نه رسول دادآدابو تررعایت زیات مهم دی.

مسئله :- دروغ بړ لپاره لاس ورکول سنت دي، مګردروغبړطریقه باید داسي وي ، چي دیونفرورغوی دبل نفرپرورغوي برابرشي ، صرف دګوتودسروپه نیولو بسوالی نه دی پکارځکه چې صرف دګوتودسرونونیول دمصافحي هغه طریقه ده چې بدعت ورته ویل شوي.

مسئله :- معانقه (له یوبل سره دسینولګول) له شریعت سره سم اورواکار دی په خاص ډول په هغه وخت کي چي یوڅوک له مسافرۍ راغلی وی ، مګرددې اجازه هغه وخت ورکول کیدای شی چي دهغې

په وجه په څه شریافتنه کي دمبتلاکیدلو اویادشک اوشبهې پیداکولو خطره نه وي ،

مسئله :- هغه معانقه (یوبل ته غیږ ورکول) چي دبدوخیالو نواوجنسي ارادوتراثرلاندی وی مکرو ه ده ، اوهغه چي دمحبت اوعزت په خاطروی هغه بي له شکه روا ده.(مظاهرحق/۵توک/۳۲۸مخ)

مسئله :- تقبیل (دلاسونو ، تندي ښکولول) هم هغه وخت روادی چي دڅه فتنی دشک دپیداکولو ویره نه وی ، بلکه ځینوحضراتوددین دبزرګانو ،اودسنتودمتابعینوعلماؤلاسونه ښکول مستحب ګڼلي دی ، مګرله هغوسره له مصافحي وروسته خپل لاسونه ښکلول اصل نه لري ، بلکه دادجاهلانو طریقه ده اومکروه ده . (مظاهرحق/۵توک/۳۲۸مخ)

له ښځوسره دنارینه وومصافحه :

مسئله :- دځوانانوسړولپاره له ځوانوښځوسره په لا س پوښتنه کول حرام دی ، اوله هغې زړې ښځې سره په لاس روغبړکولو کي څه منعه نشته چي پکي ورته دجنسي ارادودراپورته کیدوخطره نه وي

مسئله:- هغه زاړه (سپین ږیري) سړی ته چي دجنسي جذبودفتنوجوړولو ورسره هیڅ ډول خطره پاته نوي روادی چې له ځواني ښځې سره په لاس روغبړ وکړي.

مسئله:- دښځې په ډول (ښائسته) بي ږیري هلک سره هم مصافحه کول روانه دی.

مسئله.- دابايد هرچاته معلومه وي چي دچاچي ليدل (ياهغه ته کتل) حرام دي دهغه مسه کول هم حرام دی ،بلکه دمسه کولو حراموالی ترکتلوهم زيات دی. (مظاهرحق/۳توک/۳۲۷مخ)

دمولانااشرف علی تهانوي رحمة الله عليه فتوی :

پوښتنه :- په اخترونوکي مصافحه اومعانقه (لاس اوغيږورکول) روادی اوکنه؟

ځواب:- قاعده کليه داده چي عبادتونوته نبی کريم صلی الله تعالی عليه واله وسلم کومې هيئت اوکيفيت ټاکلي دي په هغه کي تغيراوتبديل روانه دی ، نوځرنګه چې مصافحه سنت ده نوځکه له عبادتونوڅخه ګڼله کيږي خوپه دې شرط چې له ذکرشوي قاعدي سره سمه وي يعنی له نقل شوي هيئت اوکيفيت څخه به يکي تيري نه کيږي. اوله نبی کريم صلی الله تعالی عليه واله وسلم څخه دملاقات پروخت بالاجماع يادرخصتي پروخت هم په اختلاف سره نقل شوې ده .بس اوس هغي ته پردغودووختوبرسيره په بله کومه موقع ياځای کي جوازورکول عبادت ته تغير ورکول دی اوداکارمنعه دی نوځکه ويلای شو چې مصافحه وروستوله اخترونواوپنځولمونځومکروه اوبدعت دی. (امدادلفتاوی/۷۰۸مخ دشامي په حواله)

دمصافحي اومعانقي حقيقت

داسلام دمبارک دين چي ځومره ضروري خبري وي ، په هغوباندی په لومړی وارصحابه کرامو بياتابيعينوبياتبع تابعينو اوورپسي سلافو(رحمة الله عليهم) عمل وکړ اوپه دغه عمل کي ئي خپل ژوند

تيرکړ ځکه چي له دوی سره ترموږه پيرزيات دثواب حاصلولو ، ددين دکارکولو اودکوچني اولوی سنت ژوندی کولو مينه اوجذبه وه ، څه شی چي هغودين بللوپه هغه به ئي په هميشني ډول عمل کولو ، اوکوم شيان چي دوی سره له قدرته ونه کړل ، نومعلومه شوه چې هغه ياله دينه څخه نه دی ياضروري نه دی.

دمصافحي اوغاړه په غاړه کيدلو (معانقي) سنت والی په خپلي طريقې پوري تړلی دی ، سلام مصافحه اومعانقه په عبادت کي داخل نه دی ، اودغه هغه وخت عبادة ، اوکونکی ئي دثواب حقداربلل کيږي چي په هغه طريقه اوډول ترسره شي څه ډول چي نبی کريم صلی الله تعالی عليه واله وسلم کړی ؤ اوکه له هغي سره سمه طريقه نه وي نوپه دي سره به انسان ته دثواب پرځای عذاب ورکول کيږي.

په حديث شريف کي په اخترونوکي اوپنځولمونځونوکي دمصافحي اوغاړه په غاړه کيدلو ذکرهيڅ هم نه دی شوی . اودصحابه کرامو په زمانه کي چي له نبوي سنتوسره يي بی ساری محبت لرلواوله هغوڅخه وروستوداسلافوکرامو له عمل څخه هم په اخترونوکي د دې شيانوثبوت نه دی ترلاسه شوی . په شريعت کي معانقه اومصافحه دملاقات پروخت شته ، نه دلمونځوڅخه وروستوکوموعبادتونوته چي شريعت ځايونه ټاکلی دی نوهغه که په خپل ټاکلی ځای اووخت کي ترسره شي نوبياوربانديی ثواب حاصليږي .دمشکوة شريف شارح ليکلی دی چي بی شکه دشرعي مصافحي وخت دملاقات دپيل وخت دی ، داچي خلک بغير له

مصافحې اومعانقې له یوبل سره یوځای کیږي اودیوبل
دخیراوعافیت پوښتنه کوی ، اوبیاچې له لمانځه څخه خلاص شي
بیامصافحه اومعانقه سره کوي داڅه ډول سنت دی ؟.

مسئله.- څوک که څوک په عین وخت کي له کوم بل ځای څخه راغلی
نوبیاورسره مصافحه اومعانقه رواده. مګرخواصوته په کاردی چې له
دغې مصافحې اومعانقې هم ځان وساتي ، ترڅوعام خلک داونه
وایي چې داکاریاخوددین برخه اویاسنت دی ، اوپه مقابل کي داسې
طریقه غوره کړی چې په خلکوکي غم ، غصه ، نفرت اوبیزاری
راپورته نشي. دلته که دملاعلی قاری رحمة الله علیه په لارښوونه
عمل وشي نوښه به وي ، هغه فرمایي : که یومسلمان بې ځایه تاته
دمصافحې لاسونه دروغزوي ، نوته دخپلولاسو په کشولو سره دهغه
زړه مه خفه کوه اودبدګمانی سبب یې مه جوړوه بلکه په خوږه ژبه په
نرمي سره هغه له مسئلې خبرکړه ، یعني ورته ووایه چې نه
داخترونوله لمونځوڅخه وروسته مصافحه اوغاړه په غاړه کیدل
سنت دی اونه ترپنځولمونځونووروسته پاک خدای ﷻ دی موږ
ټولوته دپوره عمل توفیق راکړي (امین)

دسلام غلطیانی:

مسئله :-ځینې خلک په خط کي د(السلام علیکم) پرځای سنت سلام
لیکي ، نوکه یوچاته ولیکي له سنت سلامه وروسته عرض دادی
،نوله دی خاطره چی په شریعت کي دسلام صیغه نه ده بلکه (السلام

علیکم دی دغه سنت صیغې ته ځواب ورکول واجب نه دی ، که څه هم
داروادی چې سنت سلام ولیکي.(الاضافات/۱۹۹/۷توک)

فائده :-

له دې څخه ثابته شوه چې کله موږ وینوچې دځینې مشرانو،
بزرګانوپه لیکونوکي لیکل شوی وي چې وروسته له سنت سلام څخه
، دهغووجه داده چې دوی په مخاطب په ځواب واجبیدلو کي
احتیاط کوی ،لکه د(پَرَچِيْ) پروخت دالحمدلله سوکه ویل
اوسجدی ایة په پټه ویل چې فرمایل شوی دی ، ترڅوپه نوروباندی
واجب نشی ،

مسئله.- په حدیث شریف کي دسلام صیغه (اَلسَّلَامُ عَلَیْکُمْ) اویادې
ته نژدې الفاظ دی نودهغه پرځای بل لفظ لکه ،ادبونه ! بندګي!
قربان اوداسې نورټول ویل بدعت سیئه دی له دغه رنګه
ویناګانوباید په کلکه ځان وساتئ ،څوکه یوڅوک دسلام له لفظ څخه
ډیربدوري نوهغه محترم ته سلامت ! یاتسلیم !یاتسلمات
ویلوګنجایش معلومیږي .(فروع الایمان/۷۵مخ)

مسئله :- ځینې خلک دسلام په ځواب کي سرټیټول ، یاصرف لاس
پورته کول کافي بولی په دې ځان پوهول په کاردی «په قرآن کریم کي
ارشاددی چې کله تاسو ته څوک سلام وکړی نوتاسو ورته ترهغه ښه
ځواب ورکړئ اویاکم ازکم بیرته په عینې هغوالفاظوځواب ورکړئ.
له دې څخه څرګنده شوه چې دسلام په ځواب کي سرټیټول یاصرف

لاس پورته کول کافي نه دي ،په دغه ډول ځوا ب ، ځواب نه ګڼل
کیږي ، په ژبه ځواب ورکول ستاسو پرذمه پاتې ده.

مسئله:- په نن سبا خلکو کی داعادت دی چې دسلام کولو پروخت لاس
پورته کوي ، چې ددې عادت پرېښودل زماله نظره ډیرزیات ضروري
دی ؛ ځکه چې دسلام په اداء کولوکي دلاس هیڅ کارنشته ، دلاس
پورته کول دعزت کولو لپاره دی «چې یوله ناسموکاروڅخه دی
.(مقامات/۳۰۰مخ)

مسئله :- ځینې ښځې نن سباپریوه اوبله سلام اچوي ، ددوي دغه
سلام دشریعت نه قاعدی سره بالکل په ټکر کي وي ، اوآن دوي کله
وخت دسلام پرځای دسام کلمه وایي چې داغلط لفظ دی ، اوحال
دادی چې ښځي هم بایددسلام ویلواومصافحی کولو رواج اوعادت
ولري ، په دې کي ددوي لپاره هم ثواب شته . (بهشتی زیور ۶۰مخ)

مسئله :- ډیروخت ښځې اونارینه دواړه په سلام کي بې احتیاطی
کوی ،دیته نه ګوري چې داوخت دسلام اچولودی کنه ؟که ذکروي ،
که تلاوت وي که خطبه وي که اذان وي اوکه دغه رنګه بل شی ،نوهم
دوی یوه ، بله خواتیریږي راتیریږي اوخلګوته سلامونه اچوی اوحال
دادی چې دعبادت پروخت (یعنی که ذکر وی ، که لمونځ وی اوکه
دغسي نور) دسلام ویل منع دی ؛ دغه رنګه که یوڅوک په ګناه ،
لګیاوي ، هغه ته هم سلام مه اچوئ ځکه چې دګنهګارعزت کول
روانه دی ، اوسلام کول یوډول عزت دی.

دریيم دپیشاب (اودس مات) پروخت اودخوراک ، څښاک پروخت
هم سلام بایدوانه چول شی.(معاشرت کی حقوق/۳/۷،۲مخونه)

خلاصه داشوه چې فقهاؤ رحمة الله علیهم په دووځایوکي سلام اچول
منع کړي دي : لومړی : کله چې یوڅوک په عبادة کي مشغول وي.
دوهم: کله چي څوک په معصیت(ګناه) کي مشغول وي.
دریيم: کله چي څوک دبشري حاجت په پوره کولو مشغول وي.
(الکلام الحسن ۱۱۷مخ)

مسئله :- ځینې خلک ځوانوښځوته سلام وراچوي یادهغوی سلام ته
ځواب وایي ، اوحال دادی چې فقهاؤ نامحرمی ځوانې ښځې ته سلام
وراچول اودهغې سلام ته ځواب ویل دواړه منعه کړي دي.
(اصلاح الرسوم)

یوه ټوکه :-یوچاپه یوځای کي ددې لپاره چې دسلام غلط ډولونه
مسخره کړي ډیره په زړه پوري خبره وکړه هغه داسې ؤچې دغه نفر
یومجلس ته ورغی اوورته وېې ویل چې زماسجده قبوله کړئ ،
هغوخلکوپه حیرانتیاسره ورته وویل چې داخه چټیات وایي ؟
نموړی نفروته وویل چې دلته راتلونکي خلک په مختلف
ډول اوطریقه سلام اچوي ، څوک وایي ادب مې قبول کړه څوک وایي
قربان دی شم ، څوک وایي له بدوسترګوپه امان شي ، اونوبیادغه
رنګه نوري خبري کوي آن داچې ماته ټول الفاظ ختم شول ، نوماله
ځان سره فکر وکړ چې زه اوس څه وکړم ؟ وروستوله ډېره فکره دي
نتیجې ته ورسیدم چې بغیرله سجدې بل څه راته پاته نه ؤ ، نوځکه

مي داسي وويل خولنډه داچي په سلام کي بايد له شريعت څخه خلاف لفظونه استعمال نشي. (وعظ الارتياب)

مسئله :- کله خولادارنګه نادره هم پيښيږي .يوطالب العلم خپلې مورته راغی اوسلام ئي ورباندی واچاوو ، موريي په ځواب کي کاږه وکتل اوپه درانه طبيعت يي ورته وويل چي زويه ! دادی ډيره بی تميزي وکړه ، لږپه ادب خبري کوه. محترمو !داپه يادساتئ چي سلام ته بې تميزي ويل کفر دی ،ځکه چي سلام ته بې تميزي ويل په حقيقت کي د نبی کريم صلی الله تعالی عليه واله وسلم سنتوته بې تميزي ويل دي ، اوهغوته بې تميزي ويونکی کافردی که هغه له دغه عمل څخه توبه ونکړي نوپه اسلامي حکومت يې وژل واجب دی .

(تسهيل المواعظ /۲ټوک/۳۲۹مخ)

دمصافحي غلطياني :

مسئله :- خلک دافکر کوی چي مصافحه (يوبل ته لاس ورکول) يوضروري شی دی ، خوحال دادی چي هغه دغومره ضروری نه ده ، دفقهاؤقول دليل دی چي هغوی صراحتاً داويلي دي چي په فلاني اوفلانی ځای کي سلام مه واياست له هغوڅخه يوداهم دی چي که څوک اوبه څښي ياخه شي خوري نوهغه ته سلام مه وراچوئ دغه رنګه که څوک وظيفه کوي ياقرآن کريم وايی نوپه هغه صورة کي هم فتوی داده چي سلام مه ورباند ی اچوئ په دغه ډول نورځايونه هم شته چي سلام اچول پکي منعه دی . اوحال داده چي بنفسه سلام ته مصافحي ډيرضروري دی.

په حديث شريف کي راغلی دی: (ان من تمام تحياتکم المصافحة) مطلب يي دادی: چي مصافحه تمامونکي دسلام ده ، نودسلام لپاره چي کومي قاعدی دی ، نودمصافحي لپاره خوبايدپه طريقه اولی سره دغه قاعدی وي ځکه چي مصافحه دسلام تابع ده ، دمثال په ډول فقهاؤ رحمة الله عليهم ليکلي دي چي داذان پروخت ، دخوراک ، څښاک پروخت اودغه رنګه دنورمشغوليتونوپروخت بايدسلام وانه چول شی ، نوله دي څخه معلومه شوه چي په دغوځايوکي مصافحه هم نشته.

مسئله:- نن سباکه له چاسره مصافحه ونه شی نوغصه کيږي ؛ يوورځ ماخپل سرتيټ اچولی ؤ اووظيفه مي کوله چي يونفرراغی اودمصافحي په نيت راته ودريدی ، ماورڅخه سترګي بندی کړي ترڅوهغه زمامشغوليت اومصروفيت ووينې اوولاړشي ،خوهغه بياهم هلته ولاړپاته شو، اواخيريي راباندی ږغ وکړ چې مصافحه ! ماهم بې له ځنډه ورته وويل وظيفه ! داسي خلګ هم شته چي خلګ تراووږوکشوي چي له ماسره مصافحه وکړه ، دنن سباخلکومصافحه ، مصافحه نه ده تيارغم دی . (حسن العزيز/۴ټوک/۴۳۰مخ)

مسئله :- ډيرعلماء شته چي درخصتي مصافحه بدعت بولي مګرزموږ علماؤهغه روابللی ده ځکه چي درخصتي پروخت سلام خوپه نص ثابت دی اومصافحه تماموونکي دسلام ده نوله دي خاطره مصافحه هم رواشوه .(حسن العزيز/۴ټوک/۴۲۵مخ)

مسئله :- ځینې خلک له مصافحې وروسته لاس نیسې اونه ئي پرېږدي ، له دې څخه تکلیف جوړېږي دچالاس خاماخاله ځان سره ساتل بددی.

مسئله :- دغه رنګه په داسې وخت کې هم دمصافحې کول مسلمان ته تکلیف ورکول دی چې دهغه لاسونه بندوی.

مسئله :- که یوڅوک په کارلګیاوي له هغه سره مصافحه نبایي دهغه لپاره تکلیف وي ، اوپه دغسې یوحالت کې مصافحه کول سخت کارهم دي.

مسئله:- هغه څوک چې په تیزۍ سره روان وي هغه هم بایددمصافحې کولو لپاره ونه درول شي.

مسئله:-ډیرخلک داعادت لري چې له وعظ (نصیحت) څخه وروستوخاماخاله وعظ کونکي سره مصافحه کوي ، اوحال داوي چې دوی تروعظ له مخه هم له هغه سره لیدلي وی اودمصافحې اوسلام وخت په لاس ورغلی وي خودهغه باوجودیې مصافحه نه وی کړي ، نوداچې وروستومصافحه کوی دادوعظ لپاره یوډول خصوصیت شو په داسې حال کې چې په شریعت کې دمصافحې لپاره دوعظ تاکل اوخاصوالی ثابت نه دی ، نوبناءً ویلای شو چې داله یوې خوابدعت شو اوله بلې خواتکلیف .(تسهیل المواعظ ١/توک /٥٨٥مخ)

مسئله :- ځینې خلک داسې کوي چې کله له چاسره مصافحه وکړي نوبیاخپل لاسونه ښکلوی دادکوم اصل له مخې نه بلکه دجهالت نتیجه اومکروه کاردی. (فتاوی رحیمیه /٢توک/٣٠٢مخ دشامی په حواله /٥توک/٣٣٧مخ)

مسئله:- ځینې خلک دالسلام علیکم) ویلوپروخت په تندی باندی لاس نیسي یاټیټېږي ، او ځینې له مصافحې کولو وروسته خپل لاس پرسینه نیسي ، داټول کارونه بې بنیاده اوله شریعت څخه خلاف دي. (اغلاط العوام ٢۴۶مخ)

مسئله :- په یوحدیث شریف کې راغلی دی چې یوصحابي فرمایي چې زمالاس د نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم په دواړو مبارکولاسونوکې ؤ،له دې څخه ثابتېږي چې په دواړو لاسوسره مصافحه کول سنت دي ، بدعت نه دی.(فتاوی رحیمیه /٢توک /٣٠٩مخ)

مسئله :- یوبل ته د((السلام علیکم)) ویلو پروخت له هغه سره لاس مه پورته کوئ که اوریدونکی لیری وي یاسوکه نه اوری ، نوهغه ته دسلام اوازورسوئ اوکه بیاهم په اوریدلو کې شک ، ، نوبیادسلام دلفظ دویلو ترڅنګ دلاس اشاره هم وکړئ. (فتاوی رحیمیه /٢توک /٣٩٠مخ)

مسئله :- مصافحه په دواړو لاسو سره سنت ده ، اوغیرمقلدین چې کوم حدیث وړاندی کوی ، له هغه څخه معلومیږي چې نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم په دواړولاسو نوسره مصافحه کړي وه ، ځکه خودصحابی لاس د نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم ددواړولاسونوترمنځ شو ، اوصحابي له نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم سره په یوه لاس مصافحه کړیده ،دغه حدیث دصحابی دیولاس دمصافحی په باره کې قطعاً نه ده ، ځکه چې کله له دواړوخواووپه دواړولاسوسره مصافحه کیږي نوحتماً به یولاس په منځ دنوروولاسونوکې واقع کیږي اودلته دغه صحابې ض د نبی کریم

صلی الله تعالی علیه واله وسلم ددوولاسونوترمنځ ؤ،په دې سره
مقصوددانه دی چې خلکوته وښايي چې ماله نبی کریم صلی الله
تعالی علیه واله وسلم سره په یوه لاس مصافحه وکړه دصحابه
کرامو په اړوندداتصور هم نشي کیدلای چې نبی کریم صلی الله
تعالی علیه واله وسلم دی دمصافحي لپاره دواړه لاسونه پورته کړي
وی اوهغوی ورسره په یولاس مصافحه کړي وای اودلیل یې دادی
چې امام بخاری رحمة الله علیه دغه رنګه یواثرله عبدالله ابن مسعود
رضی الله تعالی عنه څخه نقل کړی دی اوبیایې له هغه
وروستوهمدغه اثرددې دلیل ګرزولی دی چې مصافحه بایدپه
دواړولاسووي اوورسره یې دحضرت حمّاد رضی الله تعالی عنه عمل
هم وړاندی کړی دی چې هغه داحادیثو معتبرعالم ، اوپه احادیثوکي
امیرالمؤمنین حضرت عبدالله بن مبارک رحمة الله علیه سره په
دواړو لاسو مصافحه وکړه ، نوکه مصافحه په یوه لاس سره سنت
وای نودغومحدیثینوحضراتوبه خامخاله دې څخه منعه کړي وای
.امام بخاري رحمة الله علیه فرمايي: باب المصافحه قال ابن مسعود
رضی الله تعالی عنه (عَلَّمَنِی رسول الله صلی الله علیه وسلم التَّشَهُّدُ
وکفی بین کفیه)

حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله تعالی عنه فرمايي چې ماته نبی
کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم التحیات(تشهد) راښووي ، په
هغه حالت کي زمالاس د نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم
دلاسونوترمنځ ؤ (په دې سره بایدپوه یاست چې دادتعلیم موقع وه

څرنګه چې دبیعت پروخت وي)له هغه څخه وروسته امام بخاري
رحمة الله علیه یوباب پرانستی دی (باب الاخذبالیدین) یعني په
دواړولاسونوسره مصافحه کول اوددې خبري دسپیناوی اوثبوت
لپاره یې دابن مسعود رضی الله تعالی عنه دغه اثر اودحضرت حمّاد
رضی الله تعالی عنه عمل وړاندی کړي دی اوفرمايي : باب
الاخذبالیدین صافح حمّادبن زیدابن المبارک بیده . حدثناابونعیم
قال حدثناسیف بن سلیمان قال سمعت مجاهداً یقول حدثنی عبدالله
ابن مخبره ابومعمر قال سمعت ابن مسعودیقول علمنی النبی صلی
الله علیه وسلم وکفی بین کفیه التشهد کمایُعلمُنی السورة.
(بخاری /۲توک /۹۲۶مخ)

دامام بخاري رحمة الله علیه له دغي طریقي ښودلو څخه ډیره پوره
څرګنده شوي ده چې مصافحه په دواړو لاسو سره وي . دغه رنګه
شامی هم لیکلي دي: والسنة ان تکون بکتایدیه.
(درمختار والشامي /۵توک / ۳۳۶مخ)

مجالس الابرارلیکي: والسنة ان تکون بکتاالیدین یعنی دمصافحی
سنت طریقه داده چې په دواړولاسو سره وي ، دادابوالحسنات علامه
عبدالحی لکهنوی رحمة الله علیه لیکنه ده : یعنی ټولوفقهاؤپه
دواړولاسو مصافحه کولو ته سنت مصافحه ویلي ده ، له حضرت
ابوامامة رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی: قال قال رسول الله ﷺ
اذاتفاصح المسلمان لم تفرق اکفیهماحتی یَغفرلهما.یعنی کله چې
دوه مسلمان مصافحه سره کوي نودهغوی دلاسونو تر جلاکیدلوله

مخه دوی ته دګناهونوبخښنه کیږي .(انتهی) .داحدیث هم پر دې دلیل دی چې مصافحه بایدپه دواړولاسو وي ، ځکه که په یوه لاس سره وای نوبیابه د(اکفهما) پرځای د(کفاهما) لفظ وای . له پورتنیوټولو حدیثونواوخبروڅخه معلومه شوه چې دتابعینوپه زمانه کي هم دغه طریقه رواج وه. اودبخاري شریفې په حدیث کي چي حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله تعالی عنه فرمایي : چې ماته نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم دقرآن دسورة دښودلو په ډول التحیات رازدکاوو ، نوپه هغه حال کي زمالاس د نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم ددوولاسونوترمنځ ؤ،له دې څخه معلومه شوه چې دادملاقات (لیدوکتو) مصافحه نه، بلکه دادښوونې (تعلیم) مصافحه وه لکه چې تاسو به هم لیدلی یااوریدلی وي چي بزرګان کشرانوته دخاص شي دښودلو پروخت دهغویویادواړه لاسونه نیسی ،اوکه دغه مصافحه دملاقات هم وبولونوبیاهم پکي د نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم دواړه لاسونه پردې دلیل دی چي مصافحه بایدپه دواړولاسوسره وي ، اودایقیني اوقطعي نه ده چي رشتیابه هغه ابن مسعود رضی الله تعالی عنه نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم ته یولاس ورکړي وي ، بلکه ډیردې امکان دی چي هغه به هم دواړه لاسونه نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم ته ورکړي ؤ ځکه چي د(کف) لفظ دواحدلپاره نه بلکه دجنس په معنی دی . دغه رنګه د((ید))دلفظ استعمال په عربي محاوره کي ،دقرآن کریم په

ایاتونوکي اوهم په نبوي حدیثونوکي دجنس په معنی ثابت دی. نوپه دغه صورة کي یولاس هم د((ید)) اودوه لاسونه هم د((ید)) په ضمن اوشمول کي راتلای شی اوډیرداسی ځایونه شته چي ددوولاسونویادونه په ((ید)) سره شوي ده ، په دغه اعتبار چي په کوم حدیث کي اخذباليد(په لاس مصافحه) راغلي دی هلته مرادورڅخه دانه دی چې مصافحه دي په یولاس وي بلکه ددواړوصورتونوامکان شته ، خوکه له کوم صریح اوصحیح حدیث څخه داخبره معلومه شوه چې مصافحه په یوه لاس سنت ده نوهغه وخت به دفقهاؤ خبره پریږدو.اوبغیر له دغه رنګه صحیح اوصریح حدیث له پیداکیدلوبایددفقهاؤ قول معتبروګڼل شي اوعمل وربااندې وشي .(والله اعلم) (مجموعة الفتاوى مولاناعبدالحی الکهنوی اردومبوبه/۱۲۷ مخ پاکستان چاپ)

ددغه حدیث په اړونددلوی محدث حضرت مولاناخلیل احمدمهاجرمدني رحمة الله علیه یوه قصه په (تذکرة الخلیل)نومې کتاب کي پردغه ډول راغلي ده :یووارد تانک سیمي ته تللی ؤ چې زه هم ورسره په دغه سفرکي ملګری وم ، هلته ورته داهل حدیثو څونفره راغلل اوپه یوه لاس یې مصافحه وکړه ، خوهغه رحمة الله علیه ورته دخپل عادت سره سم دواړه لاسونه ورکړل اوپه مسکا(نرمه خندا) یې ورته وفرمایل ! مصافحه بایدداسي وي ؛ اهل حدیث ورته وویل چي په حدیث کي راغلی دی چې یوصحابی رضی الله تعالی عنه وایي: وکان یدي في یدیه ﷺ یعنی زمالاس د نبی کریم صلی الله تعالی علیه واله وسلم ددواړو لاسو نو ترمنځ ؤ محدث کبیر رحمة الله علیه بې

ځنې ورته وفرمايل ، نودلته دنبوی سنتوتابع زه شو م اوکه ته ؟

(تذکرة الخليل ۲۰۴مخ)

نودي ته په فهم سره بايدووايوچي مصافحه په دواړولاسو سره سنت ده نه په يوه لاس . (فتاوی رحيميه/۴ توک)

حضرت مولنااشرف علی تهانوی رحمة الله عليه فرمايي چې ځيني خلک داصلح (جوړه) بولي چي کله دوه نفرسره په جنګ شي ، نودربيم ګړی سمدستی دوی مصافحي ته سره مجبور کړي اومصافحه ورباندی کوي که څه هم ددواړوخواووزړونه يوبل ته ډک وي ، نوزه داوايم چي اول هغه دجګړي لامل (سبب) له منځه وباسئ (يعنی دجګړی دبياجوړيدلو امکان ختم کړئ) بياورباندی مصافحه کوئ کنه نوبغيرداصلی سبب له منځه وړلو مصافحه بې ګټې ده ، په دي سره ددواړوخواوو له زړونو څخه غصه اودردنه وزي ، اوتر دې وروستوبيادوي ترمنځ وژني اوجګړي رامنځته کيږي .

(کمالات اشرفيه /۱توک/۱۲۹مخ)

اللهم اجعل هذالي زادالاخرة واغفرلكاتبه وارزقه رفاقت حبيبك

في يوم يجعل الولدان شيباً ط

وصلى وسلم على محمّدٍ عبدك ونبيك وحبيبنا